# د کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | خوشي سنګري (سلطان) ناول |
| ليکوال: | محمدنواب ودان (احمدزی) |
| اېډېټ: | خپله ليکوال |
| کمپوز: | خپله ليکوال |
| چاپ: | د چاپ وسه راسره نه وه. |
| کال: | ۱۳۹۸-۱۳۹۹هجري لمريز کال |
| د ليکوال شمېره: | ۹۳۷۰۷۴۳۵۷۴۵+ |

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# يو څو خبرې:

په دې ناول کې لږه برخه يې داسې ده چې ما ريښتنې ژوند په ناول بدل کړی، خو ډېره برخه يې بيا تخيلي ده، ځکه په دې کار سره مې د ناول خوند جوړولو او بشپړولو لپاره هڅه کړې ده، دا ناول ما نږدې په دوه کلونو کې ليکلی او غوښتل مې چې د يوه چاپي کتاب په بڼه لوستونکو ته وړاندې شي، خو دا چې په افغانستان کې ټول خلک پي ډي اف غواړي، نو د دې امکان نه وؤ څو خپروندويې ټولنې يې د چاپ په اړه غور وکړي، يوازې غلام سخي روغانيوال راسره ژمنه کړې وه که چېرې يې امکان لاره، نو بيا به يې درته چاپ کړم، خو له ډېرې تمې وروسته پوه شوم چې هغه هم دا امکانات نه لري، نو ځکه مې پرېکړه وکړه چې بايد دا د پي ډي اف په بڼه نشر کړم.

اوس خو مې اراده کړې چې تر دې وروسته به خپل کتابونه ټول آن لاين خپروم، نو دا هم خپروم.

يوه خبره مې چې ذهن کې ګرځي هغه دا ده چې دې ناول ته دوام ورکړم او که نه؟ که دوام هم ورکړم، کېدای شي کرکټر يې همدا وي خو داستان به يې يو څه بدل وي، ځکه چې اوس زما مفکوره هم د پخوا په شان نه ده، بلکې بدله شوې ده اوس په هېڅ چا او هېڅ ډلې باور نه لرم، لکه پخوا چې مې لاره ، خو هر څه چې وي تاسو چې نن دا

ناول لولئ نو نظر راکړئ چې آیا دا ناول په دې ارزي چې دوام ورکړم او که نه؟

هر نظر چې لرئ کولای شئ په لاندې کې یې زما د فسبوک په پوسټ باندې چې په دې اړه مې کړی ده شریک کړئ:

https://www.facebook.com/١٠٠٠٢٦٢٨٩١٢١٦٥٤/posts/pfbid٠٢zNywpWqoLQ١snimX٨jYnvhPFs٩S١yD٩HUMRRY٦٦CJjGvCYEKewm٢MvVzfAbJPwZrl/?app=fbl

والسلام

محمد نواب ودان (احمدزی)

١٤٠٤/٠٦/٢٩

ketabton.com - The Digital Library

هغه وخت چې ملاضعيف آخوند له مُلا محمد عمر سره بيعت وکړ او ملامحمد عمر او د هغه ملګرو کندهار ولايت زورواکي او ټوپکيان پسې واخيستل او بيا يې په هرات باندې بريد وکړ، خو ماته يې وخوړه، بيا د پاکستان آی اس آی د نصيرالله بابر په متهو له طالبانو سره مرسته وکړه او تر هغه وروسته طالبان تر لوګره ورسېدل، يوکس د لوګر ولايت نه کابل ته روان شو، هغه هم له خپلې کورنۍ سره، دا سړی محمد نومېده، طالبانو ورته کابل ښارته د ننه کېدو اجازه نه ورکوله، د هغوئ دليل دا وؤ چې موږ کابل ولو، خو محمد ورته وويل ما هم وولئ، خو په کابل کې او پرې مې ږدئ چې کابل ته ستون شم. خو سره له دې چې طالبانو ډېره هڅه وکړه چې دا کس منع کړي، بياهم سړي بلآخره له طالبانو کابل ته د ننه کېدو اجازه واخيسته او کابل ښار ته ننوتو سره يې خپل کور کې واړول. لاڅه موده نه وه تېره چې د محمد زوی پيدا شو، يعنې وزېږېده، داسې فکر مه کوه چې ګوندې ورک زوی يې پيدا شو، په خپل زوی يې محمدخان نوم کېښود، هلک کرار کرار لوېده، خو په هيواد کې داسې هوا او فضاء جوړه وه، چې هيوادوالو نور امنيت او د امنيت معنیٰ هېره کړې وه، ځکه د طالبانو د حکومت دوره داسې دوره وه چې هرڅوک يې د امنيت په شتون او امن باوري دي، د کور معنیٰ هم دومره مهمه نه وه، ځکه ډېر کورونه تش ول، خو خلکو ته دا درې شيان ډېر اړين ول، ښه ډوډۍ، ښه او نوي کالي او يو څه آزادي، ځکه

ketabton.com - The Digital Library

د طالبانو حکومت اقتصادي ورتیا کمزوې وه او همه رنګه وچکالي وه، نو ځکه خلکو ته نه یوازې دا چې ښه ډوډۍ نه رسېده، بلکې پوره هم نه رسېده، یعنې ډېرې خلکو په مړه ګېډه ډوډۍ نه شوه خوړلی، نو دا ډېره سخته وه چې ودې زغمل شي او چې خلکو ډوډۍ نه لرله، ښه کالي به یې له کومه کړي وای؟

پاتې شوه د آزادۍ خبره، طالبانو د خپلې واکمنۍ په دوره کې د خلکو آزادي ډېره په بې ساري ډول محدوده کړه، په دې ډول چې حتیٰ پیک لرونکې خولۍ په سرولو باندې هم بندیز لګېدلی وؤ، د قانون عملي کول هم د طالبانو په دوره کې بې ساري توب درلود. دا بې ساري توب تر دې حده وؤ چې د ډېرو کوچنیو قوانینو په پلې کولو یې هم ځنډ ونه کړ، لکه د هغو خلکو په زور په لمانځه ودرول چې کلونه کلونه یې لمونځ نه وؤ کړی، یا یې په لمونځ کې غلطیانې لرې او یا یې له سره لمونځ نه وؤ زده. د موسیقي په اورېدلو باندې بندیز لګول، په داسې حال کې چې ډېرې علماء د موسیقي اورېدل ګناه نه ګڼي، خو په مشروط ډول. د ږیرې په خریلو او لنډولو بندیز ولګېده، په داسې حال کې چې یوسف قرضاوي د ږیرې خریل په خپل کتاب الحلال او الحرام فی الاسلام کې مکروه ګڼي نه حرام.

خو له دې سره سره د طالبانو تر ټولو ستره ستونزه دا وه چې طالبانو اکثراً هغو کسانو ته په خپلو ډېرو مهمو ځایونو کې لاره ورکړه چې یا خو پخوانیو زورواکو او کمونیستانو سره یې وخت تېر

ketabton.com - The Digital Library

کړی وؤ او یا یې بې له دې چې له هغوئ سره وخت تېر کړی وي، غلا زده کړې وه، داسې کسان هم پکې وو چې نه یې لمونځ زده وؤ او نه هم اودس.

په ۲۰۰۱ کال کې د اسامه په نامه یوه عرب سړي د هغو بریدونو مسؤلیت واخیست چې د آمریکا په دوؤ سترو سوداګریزو برجونو وشوې. آمریکا له طالبانو اسامه وغوښت، خو د طالبانو مشر په هر دلیل چې وي، هغه یې ورنه کړ، ځکه آمریکا هم پلمه پیدا کړه او په افغانستان یې برید وکړ، تر دې وروسته یې په افغانستان کې د هغوئ د استخباراتو همکار حامد کرزي تر مشرۍ لاندې حکومت جوړ کړ، په دې حکومت کې هم پیسې پرېمانه وې او هم آزادي، امنیت هم په لومړیو کې ښه وؤ، خو وروسته کرار کرار خرابېده او هغه ځکه چې په ۲۰۰٤ کال کې طالبان یو ځل بیا راوژېږېدل او آمریکا او حامد کرزي په وړاندې جګړه پیل شوه. خو د حامد کرزي په حکومت کې عدالت او قانون هېڅ شتون نه درلود، آمریکایانو له هغه پنجشېریانو ملاتړ کاوه چې کلونه د احمدشاه مسعود تر مشرۍ لاندې د طالبانو پر وړاندې جنګېدلي ول او د طالبانو د حکومت په ړنګېدو کې یې له آمریکایانو سره پوره مرسته هم کړې وه، نو آمریکایانو نه یوازې له پنجشېریانو، بلکې له ټولو هغو ډلو یې ملاتړ کاوه چې د طالبانو په خلاف جنګېدلې وې او دې ډلو او د دوئ مشرانو هم له دې ملاتړه پوره ګټه واخیسته، د زمکو غصب د

ketabton.com - The Digital Library

غیرقانوني ښارګوټو جوړول، حتیٰ ځینو هدیرې چور کړې، جنرال دوستم په لسګونو سړیو باندې جنسي تېري وکړل، زرګونه پښتانه یې له کورونو راووېستل او ژوندي یې خاورو ته وسپارل او داسې پلمه یې وکاروله چې دوئ ټول طالبان دي، خو سره له دې هم آمریکایانو ترې ملاتړ کاوه. دا ملاتړ تر دې حده ورسېده چې سره له دې چې کرزی اولسمشر وؤ، خو بیا هم یو سپنګن پنجشېري پرې سیاست کاوه. دا چې کرزی د واک تږی وؤ، د دې خبرو پروا یې نه ساتله. آمریکایانو په افغان ډګروالانو او جنرالانو باندې جنسي تېري وکړل، البته په ټولو نه بلکې په یو څو کسانو باندې، په دې حکومت کې ډوډۍ او پیسې دومره ډېرې شوې چې خلکو به ډوډۍ په ډېرانونو هم غورځوله، یعنې هغه پاتې شونې دوډۍ، د آزادۍ خو پوښتنه مه کوه، هغو ښځو ته چې د طالبانو لوپټې عزت ورکړی وؤ، لوپټه یې ورپه سر کړې وه، هغوئ لوپټې له سره کښته ورغورځولې، حتیٰ داسې کالي یې هم واغوستل چې که بېخي بربنډې وای تر دې کالیو په حیا کې وې، البته کومو ښځو ته چې رب العالمین عزت او حیا ورکړې، هغوئ یې لالري. دا آزادي دې کچې ته ورسېده، چې ځینو خلکو خپلې ښځې آن بګرام او د آمریکا نورو هډو ته بوتلې، آن خپلې پېغلې لوڼه یې وروستې تر څو آمریکایان د هغوئ له افغاني ښکلا نه خوند واخلي او دوئ ته یو څو ډالر ورکړي، دا آزادي یوازې دلته پای ته ونه رسېده، بلکې ډېرو ښځو او نجونو د دې لپاره چې د

ketabton.com - The Digital Library

آمریکایانو جنسي آله (تناسلي آله) ښه په خولې کې ونیسي، نو خپل غاښونه یې ووېستل، لکه ګران و قدرمن شاعر خدای بخښلی مطیع الله تراب (رحمه الله) په خپل کې وایي:

وزلمیـــه تـــا پېریـــان دېـــوان بازان پېژني

تا لړمان ماران پړانګان زمري مېږیان پېژني

ولـــې چـــې تـه لــه غنمرنګو سره فرق لرې

تــه ښــایـسته له دې بدرنګو سره فرق لرې

دا ځناور او حــشرات لا په اوده کې بند دي

دوئ لا اوس هم د سلیمان په اجازه کې بند دي

دلته نګین د سلیمــان لا ایــره شوی نه ده

خو دا نګین د سلیمان د سلیمان ګوته غواړي

چې ته ورته اعلان کړې ختېین کور د توتکو ورانوي

ketabton.com - The Digital Library

دلته اکثــر ســـــر وهلي بر وهلي راځي

په دغـه لار باندې اکثر آزار ګټلي راځي

منو چې تا به وي زموږ د مرګ جواز راوړی

زموږ وژلو ته دې ټانګ راوړی جاز راوړی

بې له قاضي او محکمې مې خپل درشل کې وژنې

ته شوې مالک د کور او ما په تور د غل کې وژنې

له دې نه پورته بل واکي او  زور واکي څنګه وي

مونږ جنګ نه کوؤ خو جنګ په موږ را وتپل شي

او د پلار نیکه د شملې ننګ په موږ را وتپل شي

ننګ په غله جنګ په وسله اوږد لاسونه غواړي

جنګ پرمخ تللی اقتصاد جاز او ټانکونه غواړي

ketabton.com - The Digital Library

او مورې د لوږې اور په ټوک دوډۍ وژنو

زمونږ خوندو د پردیو دوکانونو مخ ته

د سوال لمنې غوړولې ټوک ډوډۍ غواړي

په دې مړه ډیموکراسۍ کې مورې د لوږې مړه شو

جنګ ماده مچ ده مچ د ورځې سل بچې زېږوي

جنګ هلاکت ده تباهي ده بربادي زېږوي

جنګ جواري ده د جوارۍ په ګټه روږدی نه شې

له بل طرفه پر وطن د ایډز وبا خپرېږي

څو فاحشو له افغاني ناموسه پوزه پرې کړه

د څو ډالرو په بدل کې یې خپل غاښونه ووېستل

د خدای له دې عظیم نعمته یې ځان محروم کړ

تو! تو! لعنت شه چې په دې پیسو بیا څه کوي دوئ

ketabton.com - The Digital Library

له بل طرف ښکاره اډې لري لوطي بدمعشان

له کبره غټ لکه عاديان او ثمودي بدمعشان

په غرب قانون ده د هلک ودول هلک ته

نو حيران په دې عقل په دې ساينس او په دې پرمختګ

چې د هلکو ودول هلک ته ځنګه کېږي

چې ماملې نه تولد او توليد کړای شي که نه؟

شراب او ايډز قتل او قتال ته څوک لمنې وهي؟

چا د پوډرو ماشين جوړ کړو څوک يې ستنې وهي؟

موږ خو لاستنې کې سوری قدرې هم نه شو اچوی

بيا له اپينو هيروين او پوډر څوک جوړوي؟

له بل طرفه دا غټ خېټې ملکان غوړمالان

ketabton.com - The Digital Library

**په حالتونو باندې روږدي دا شپخان غوږمالان**

**چې کورته یې ورشې نو سوپر لري ټیکټرې لري**

**په جریبو جریبو زمکې لري غرې لري**

**چکۍ صابون لوټه غوږو پسې به سر ماتوي**

**چارک لوبیا د سوال په اوږو پسې به سر ماتوي**

داسې یو حالت راغلی وؤ، نو چې ښځې یې پوښتنه مه کوه، غوښتل یې چې د طالبانو د واکمنۍ هرڅه لرې کړي چې ډېرې مهم شیان حتیٰ پتلون د ږیرې خریل هم د اعتبار معیار جوړ شوی وؤ. یعنې لکه څنګه چې بې ږیرې او بې پټکي کسانو ته د طالبانو د حکومت پرمهال په بده سترګه کتل کېدل، همداسې د دې حکومت پر مهال د ږیرو او پټکیو والا کسانو ته په بده سترګه کتل کېدل.

یوازې دا نه وؤ، بلکې دوئ هڅه کوله چې د ښځو بوکرې (چادریانې) هم لرې کړي، نه یوازې د هغو ښځو چې طالبانو په زوره وراغوستې وې، بلکې د ټولو ښځو، د دې کار لپاره یې بهرنې سیریالونه او فلمونه په شخصي او دولتي ټلویزیونو کې رواج کړل،

ketabton.com - The Digital Library

وروسته يې په افغاني فلمونو کې د نجونو پړوني په دې پلمه لرې کړل چې ګوندې په دې کار سره د فلمونو نړيوال ستندرد سره برابرېږو، په داسې حال چې حتیٰ د دوئ کمرې او ديالوګ له نړيوال ستندرد سره برابر نه وؤ.

داسې ډېرې ښېګڼې او بدۍ چې اوس يې دلته له يادول ډډه کوؤ او اصلي داستان ته راځو.

محمد خان چې کله پينځه کلن شو پلار يې په ښوؤنځي کې شامل کړ په لومړيو ورځو کې يې ښوؤنکې له چادرې سره ښوؤنځي ته راتله، خو وروسته بيا ښوؤنکې چادرې يا بوکره لرې کړه، د ملي ټلويزيون ښځينه ويندويانو هم کرار کرار خپل پړوني وغورځول. بايد ووايم محمد خان د طالبانو حکومت له رنګېدو وروسته نوی پينځه کلن شوي وؤ، په لومړي او دوهم ټولګي کې د محمد خان خونده ځکه نه وه چې محمد خان پښتون وؤ، خو درسونه بيا په دري ژبه ول، که څه هم محمد خان يو څه په دري پوهېده، خو کولای يې نه شول چې سمه زده کړه وکړي او له دې امله چې ژر به ستړی کېده، نو د لوست په ځای به يې شوخيانې کولې، نو چې څنګه درېم ټولګي ته ولاړه، پلار يې د يوه کال لپاره له ښوؤنځي راستون کړ، بيا يې د خپلې ترور له خاوند سره زده کړې پيل کړې او کال ته يې بېرته ښوؤنځی پيل کړ.

*****

ketabton.com - The Digital Library

محمد خان نوی په ځوانۍ راغلی وؤ چې د ورور کوزده یې وشوه او بیا د کوژدې په ورځ یې د ورور ښینه ولیده، هغه چې تر ورېندار یې کوچنۍ وه، ډېره ښکلې وه، سپین رُخسار، سره اننګي، وړه خوله، ګلابي شونډې، توري غټې سترګې او خرمایي اوږده ویښتان، ویښتان یې دومره اوږده ول چې آن تر ټیکري یې کښته وتي ول او چې څومره هڅه یې کوله، بیا هم نه پټېدل، ښکلی غږ یې هم لاره، هر څه چې وؤ خو زموږ د کیسې محمد خان یې هم په هماغه لومړي لیدو پر ځان مئین کړ.

تر کوزدې څو ورځې وروسته محمد خان په خپل کور کې ناست وؤ، په بې رنګه شیشه یي ګیلاس کې ورته شین چای ایښی وؤ، خو محمد خان چورت کې ناست وؤ، په پیاله کې ورته ایښي چای سوړ شوی وؤ او رنګ یې هم سور شوی وؤ، خو د محمد خان خیالونو ځان ته بله نړۍ جوړه کړې وه، یوه ښکلې دره وه، چې دواړه خواوؤ ته یې غرونه ول او په غرونو کې لوړې لوړې ونې، لږ کښته یوه چینه وه او بیا تر چینې لاندې یو غټ ډنډ وؤ، په ډنډ کې یوازې دوه رنګ کبان ول، خو بیا پاس یو د ختو کور هم وؤ، محمد خان چې ستړی درې ته رسېدلی وؤ، هر خواته یې نظر اوښته چې یو څوک یې لږ تم کړي، تر څو دمه وکړي، هماغه وؤ چې له ختین کور نه یې ګلورینه راوتې وه او چې نوی یې ده ته غږ کاوه، په دې ناره یې له خیاله وؤت:

عالي جنابه! په څه چورت کې یې؟

ketabton.com - The Digital Library

محمد خان ناڅاپه له فکر راووت، ګوري چې ورور يې د پوليسو په نظامي جامه کې موسکی ولاړ وو، ځوان په بېړه وويل:

هيڅ نه لالا هسې!

ورور يې په زوره وخندل او بيا يې وويل:

نه څې د واده ماده فکر دې درلود، خير ته به بيا فکرونه وهې، خو يو څو شېبې دباندې ووځه څې زه خپل کالي (جامې) بدل کړم.

محمد خان بې له دې چې څه ووايي خپل د چاى ګېلاس يې واخيست او له کوټې بهر ته ووت، د چاى ګيلاس يې په سر واړوه، چې چاى ورته سوړ وابسېده، نو بېرته يې د کاوشکن (دهليز) په قالينې وشينده.

بايد ووايم چې محمد خان خپله مينه نه شوه ښکاره کولاى ځکه ده نوى طالباني فکر اخيستى وو او طالبانيزم ته ننوتى وو او د طالباني فکر سره سم مينه کول مباح نه بلکې ګناه وه او ده دا ګناه نه شوه ښکاره کولاى.

ورور د واده په ورځ چې کله دوى ناوې راوستله، نو محمد خان (ځوان) يې په کاستر موټر کېناوه، ځوان غوښتل خپلې معشوقې يعنې ګلپاڼې ته مخامخ کېني، خو ونه توانېده، بلکې اړ وو چې د سړک غاړې منظرو ته وګوري، خو سره له دې چې ډېره ښکلې منظر وه، بيا يې هم خوند ترې وانه خيسته.

ketabton.com - The Digital Library

تر واده څو ورځې وروسته يعنې د اوومې په ورځ ځوان کورته رادننه شو، ګوري چې خوندې او مور يې په کار اخته و، د اوومې خواږه خو پخوؤنکي چمتو کول، خو دوئ ورته کور پاکاوه، د دې لپاره چې د محمدخان هېر شوي وؤ چې نن اوومه ده، نو له مور نه يې پوښتنه وکړه:

مورجانکې! بيا څه خبره ده چې داسې ګډوډې مو اچولې ده؟

مور يې ورته وويل:

نن دې د لالا اوومه ده.

د ځوان په زړه د خوشحالۍ څپه راغله او په خوله يې موسکا، خو د دې لپاره چې مور يې څه احساس نه کړي، نو خپله شونډه يې وچيچله، ژر يې وويل:

مورجانکې مورې د سار (سهار) جمعه (جمع) وکړه، تاسو لمونځ کړی او که نه؟

مور په يې وارخطا وويل:

وی وی! لامونځ خو لږ پاتې ځې قضا سي!

ځوان کوټې ته لاړه او بيا د سوچونو نړۍ ته، په نړۍ کې يې هغه ښاپېرۍ ليده چې د دوئ کورته راځي، کله يې سره جوړه په تن وي، خو وروست يې شنه جوړه په تن او بيا ژېړه، خو يوازېنی څيز چې نه

ketabton.com - The Digital Library

بدلېده، هغه هماغه ښاپېرۍ او د هغې موسکا وه، په همدې خيالي دنيا کې داسې چې د ده نظر په هغې لګېدلی، نږدې ورته راغله، خو نوره يې موسکا نه وه، په تروې څېرې ورته نږدې شوه او بيا يې وويل:

ولې دومره راګورې، لکه چې انسان او هغه هم نجلۍ دې نه ده ليدلې.

خان وويل:

نجلۍ مې ليدلې، خو دومره ښکارې ښاپېرۍ مې نه وه ليدلې، خو دا دی اوس ورته ګورم.

ګلپاڼې وويل:

غواړې چې ما په دې خبرو تېر باسې.

دی په همدې سوچونو کې وؤ چې مور يې پرې غږ کړ:

خانه زويه! پورته سه دروازه ټکېږي!

محمد خان په همدې نارې له سوچه وؤت، سمدلاسه پاڅېده او د وره لوري ته ورغی، کله يې چې ورپرانيست نو پخوؤنکی وؤ، پخوؤنکي تر سلام وروسته سمدواره ويل:

لالا دې ريس خان چېرې دی؟

محمد خان وويل:

ketabton.com - The Digital Library

ته راځه کور کې ده.

چې ننوتل د محمد خان له هر څه ست سره، پخوۀنکی حاضر نه شو چې کوټې ته ننوځي، بلکې له محمد خان نه یې وغوښتل چې چای انګړ (حویلي) ته راوړي، ځکه باید کار پیل کړي، ځکه ناوخته ده. محمد خان هم لاړه تر څو هم چای راوړي او هم له مور نه پوښتنه وکړي چې ریس خان لالا یې چېرته ده. مور یې ورته وویل:

د لالا دې تجیر هېر سوی وۀ، په هغه پسې تللی ده.

محمد خان وویل:

نو په تجیر باندې څه کوي؟

مور یې وویل:

د آشپز او کوټو له منځه به یې بند کړي، هن! دا ده خور دې چی (چای) راوړ.

محمد خان چای واخیست او پخوۀنکي څنګ ته لاړه پخوۀنکي ته یې وویل:

داده چای مې راوړ، لالا مې تللی چې تجیر راوړي.

پخوۀنکي وویل:

ketabton.com - The Digital Library

زنګ ورته ووهه چې دې ځي ته هم تجير راوړي، څو سياسري (ښځې) په عذاب نه وي.

محمدخان وويل:

د همدې ځای لپاري يې راوړي.

پخوؤنکي محمدخان ته وويل:

ته چې واچوه، زه د کوفتو او ويرژو تياری ونيسم، رينښتيا وريژې دې...

محمدخان يې خبره ورپرې کړه ويې ويل:

غم مه کوه! وريژې مې بېګاه (تېره شپه) لمدې کړې دي.

پخوؤنکی په خپل کار ليګا شو او محمدخان په خپلو سوچونو، نيمه ګړۍ وروسته ريس خان راغی، چې تجير يې له ځان سره راوړی وؤ، محمدخان ته يې ورغږ کړ:

محمدخانه و محمدخانه راسه ځې تجير وتړو!

خو محمدخان په خپلو سوچونو کې ډوب وؤ، نه يې د ريس خان راتلل وليدل او نه يې د هغه غږ اورېده، ريس خان هم په غوصې او لوړ غږ سره وويل:

عالي جنابه! راسه څې تجير وتړو.

ketabton.com - The Digital Library

دي سره محمد خان په ناڅاپي ډول له خپلو خیالونو ووت او سمدلاسه د ریس خان خواته ورغی، د تجیر تر تړلو وروسته ریس خان له محمد خان نه پوښتنه وکړه:

په څه سوچونو کې ډوب وې ورکیه؟

محمد خان په وارخطایۍ سره وویل:

هېڅ هېڅ. بس د آزموینو په سوچ کې وم.

ریس خان وخندل او بیا د پخوؤنکي خواته ورغی، ترڅو وګوري، چې کومه ستونزه خو به نه وي او چې د ستونزې له نه شتونه ډاډمن شو، نو بېغمه خپلې کوټې ته ولاړ.

محمد خان ټوله ورځ په کار بوخت وؤ، آن ماښام ځکه تجیر او نور شیان یې بېرته ځښتن ته وروړل چې کار نه وزګار شو، او به تودې وې، سر باندې یې واړولې او بیا یې جامې بدلې کړې، غوښتل یې چې دباندې ولاړ شي، ترور یې غږ پرې وکړ:

خانه زویه چېرته ځې؟

محمد خان بېرته راتاو شو تر څو کوټې ته ننوځي، خو یو ښکلی غږ یې تر غوږ شو. ورته ځیر شو تر څو معلوم کړي دغه ښکلی غږ د چا ده، له لږ ځنډ وروسته یې وپېژانده چې دغه د ده مینې یعنې د ګلپاڼې دی، غوښتل یې نور هم په تمه شي او له دې غږ نه خوند

ketabton.com - The Digital Library

واخلي، ځکه ده دا فکر کاوه چې دا غړ یوازې د ده یو خیال ده او بس. چې په همدې کې یې د ترور غږ تر غوږ شو:

خانه زویه! څه شوې؟ راسه کار مې درسره ده.

محمد خان کوټې ته ننوت او بیا یې خپلې ترور ته وویل:

اه تروري!  څه دې ویل؟

ترور یې موسکۍ شوه او بیا یې وویل:

هیڅ زویه! راځه کېنه نور به سترې سوی یې!

څه شېبه وروسته د محمد خان مور راغله او ټولوته یې وویل:

ډوډۍ تیاره ده، اوس اوله ډوډۍ خورئ او که لمونځ کوئ؟

د محمد خان پلار وویل:

د ماخوستن لمانځه ته لاوخت پاتې ده اول ډوډۍ راوړه بیا به لمنځونه وکړو.

د محمد خان مور پاڅېده، تر څو ډوډۍ راوړي، نو د محمد خان خویندې هم ورسره ولاړې او کله یې چې ډوډۍ راوړه، نو د محمد خان کوچنۍ خور لاړه ریس خان او د هغه مېرمنه یې دوډۍ ته راوبلل. له ریس خان او مېرمنې سره یې ښینه هم راغله، چې د هغې له راتلو سره د محمد خان سترګې وبرېښېدې او داسې احساس یې لاره چې

ketabton.com - The Digital Library

سترګې يې يخې شوې وې. خو ايمان يې دا اجاز نه ورکوله چې نور ورته وګوري.

محمدخان په کراره ډوډۍ خوړله، د ګل پاڼې ورته فکر شو، د خپلې خور په غوږ کې يې څه وويل، هغې هم په غوږ ګلپاڼه ووهله او ويې ويل:

خلک چې ستړي شي په کراره ډوډۍ خوري.

د محمدخان مور په بېړه وويل:

خان زوی مې بيا تل په کرار ډوډۍ خوري!

ډوډۍ وخوړل شوه، شپه هم تېره شوه، سهار چای څښلو وروسته نور ټول مېلمانه لاړل او يوازې د محمدخان د زړه ملکه يعنې ګلپاڼه پاتې وه، کله چې د محمدخان مور ډوډۍ چمتو کولو لپاره پخلنځي ته لاړه، ورېندار يې هم په څه پلمه له کوټې لاړه او په دې کار سره محمدخان او ګلپاڼه يوازې پاتې شول، محمدخان په کتاب کې بوخت وؤ، ګلپاڼې ورته وويل:

څنګه چل ده، په عمر دې نجلۍ نه ده ليدلې که څه؟

محمدخان په لړزېدلي غږ وويل:

زه خو اوس کتاب مطالعه کوم څه تاته خو نه ګورم.

ketabton.com - The Digital Library

ګلپاڼه موسکۍ شوه، په اننګیو کې یې تشې را څرګندې شوې، په همدې حالت کې یې وویل:

نه مطلب مې د ښېګاه کتل وؤ، ښېګاه دې داسې راته کتل، ته به وایې انسان دې ښېخي لیدلی نه وي.

محمدخان لږ سوچ وروسته وویل:

انسانان مې ډېر لیدلي، خو ستا په شان ښکلي مې نه دي لیدلي.

ګلپاڼه خندا واخیسته او تر ډېرې مودې یې خندل، خو وروسته یې هماغسې په خندا کې وویل:

لکه څې عاشق سوی یې، یعنې څې په ما مئین سوی یې، د همدې لپاره ښکلې درته ښکارم، کنه زه دومره ښکلې نه یم. هغه وایي څې د مئین سترګې ړندې وي، ما اورېدلي وؤ، خو لیدلي مې نه وؤ او اوس مې ولیدل.

محمدخان تر ډېره په سوچ کې وؤ او بیا یې وویل:

بس ته داسې فکر کوې، کنه زه چې هر څه وینم، هغه ریښتیا وي، ما چې ته څومره ښکلې لیدلې وې ته له هغې هم ښایسته یې او زه چې څومره فکر کوم ته ځان نه ډېره کرکه لرې، ځکه خو خپل ښایست نه منې.

ketabton.com - The Digital Library

ګلپاڼې په موسکا کې محمدخان ته په ټوکه وویل:

ښه نو زه دې مئين عاليجناب ته څه کولی سم؟ څې په دې پاکه مينه کې کامياب سي؟

په دې کې ور پرانيستل شو او مور يې کوټې ته رادننه شه، چې محمدخان او ګلپاڼه يې په کوټه کې يوازې وليده، نو محمدخان ته يې وويل:

زويه لاړسه دباندې پلار دې کور ته راولېږه، کار ورسره لرم، ډوډۍ څې يې وخوړه او لمونځ يې وکړ، بېرته به درسي، بيا ته راسه ډوډۍ وخوره! او لمونځ وکه.

محمدخان بې له دې چې څه ووايي حرکت يې وکړ او دباندې ولاړ.

پر سبا سهار يې ګلپاڼه له خپل ورور سره خپل کور ته ولاړه، خو محمدخان ته يې د خوښۍ يو لامل پريښی وؤ او هغه دا چې ګلپاڼې يوه ژمنه ورسره کړې وه، دا چې که څوک د هغې مرکې ته ورځي، نو بيا به هرومرو يوه داسې پلمه ورته کوي چې د دې له مرکې نه تېر شي، نو همدا ژمنه وه چې د محمدخان زړه يې خوشحاله ساتلی وؤ او په شونډو يې موسکا راوستې وه.

*****

ketabton.com - The Digital Library

چې کله ښوؤنځي ته ولاړ او په آزموینو کې یې ګډون وکړ، نو ښوؤنکي یې ورته وویل:

ښنګه چل ده ځوانه! لکه چې آزموینې ته دې ښه چمتوالی نیولی ده؟

محمد خان خپل قلم د ده مخې ته پاڼې باندې کېښود، پاڼې ته یې وکتل، سپینه پاڼه نیمه له کرښو ډکه شوې وه ، بیا یې ښوؤنکي ته وروکتل، چې هغه لکه د یوه جاسوس زده کوؤنکي ښارل په خندا کې ورته وویل:

هو ډېرو آزموینو ته مې چمتوالی نیولی ده.

ښوؤنکي یوازې یوه موسکا وکړه او نور یې هېڅ ونه ویل، تر آزموینې وروسته ځوان دې ته اړ شو چې له ځینو ټولګیوالو سره یو ځای لاړ شي او هغه هم په بله لاره، په لاره کې یې یوه ټولګیوال ورته وویل:

ښنګه چل ده خانه پوښتنې دې سمې ځواب کړې او که کوږده یې درته کړې ده؟

محمد خان غوښتل ځواب ورکړي چې د پولیسو یوه سرتېري دوئ ټول ودرول، خو محمد خان یې موټر ته پورته کړ، ځکه محمد خان د خپل ورور رئیس خان نظامي بوټونه په پښو کړي وؤ،

ketabton.com - The Digital Library

محمد خان غوښتل څه ووايي، چې سرتېري په مخ په څپېړه وواهه او بیا یې ورته وویل:

یک دفه تشنابای حوزه را پاک کني باز میفامي که پوشیدن بوتای نظامي یعني چه! (یو ځل د حوزې تشنابونه پاک کړې، بیا پوهېږې چې د نظامي بوټونو اغوستل څه معنیٰ لري).

د محمد خان ملګري غلام مهربان، محمد خان ته خپله لرغکه (موبائل) وکړه، تر څو محمد خان خپل کور ته احوال ورکړي، خو محمد خان دا کار ونه کړ. پولیسو هم درې څلور نور کسان موټر ته وخېژول او حوزې ته یې بوتلل، هلته یې د کشف آمر ته وروستل، هغه له ټولو نه یو څو پوښتنې وکړې او په پای کې د محمد خان وار راغلی، د کشف آمر سرتېرو ته آمر وکړ چې نور هلکان نظارت خونې ته بوځي او یوازې دی دې همدلته پرېږدي، له آمر سره محمد خان په ځان ووېرېده چې جنسي تېری پرې ونه کړي، ځکه محمد خان د پولیسو په اړه ځینې خبرې اورېدلې وې، خو د کشف آمر چې په ښکاره خوستی ښکارېدو، محمد خان ته یې وویل:

کېنه ځوانه! دا بوټونه دې له کومه کړي؟

محمد خان له لږ چوپتیا وروسته وویل:

ورور مې په پولیسو کې ده، دا بوټونه د هغه دي.

ketabton.com - The Digital Library

محمد خان تر دوه بجو پورې په حوزه کې وؤ او بیا تر هغه وروسته چې آمر ډوډۍ وخوړه، محمد خان ته یې وویل:

قاري صیب! ځه لاړ شه کورته، که یې څه درنه اخیستي وي، په تلاشي کې هغه هم واخله او هو ریښتیا که دې بیا دا بوټونه په پښو کول، نو بدل رنګ مطلب بل رنګ ورکړه، زه ځم چې اودس او لمونځ وکړم، داسې نه چې قضا شي.

دا چې محمد خان په طالبانیزم اخته کس وؤ، نو اکثره وختونه به یې له خلکو سره په دې آیډیالوژۍ باندې له ډېرو خلکو سره بحثونه کول او یوازې دا آیډیالوژي نه وه، بلکې ده به په هر څه کې بحثونه کول، ځکه ده دا ګڼله چې په هرڅه بحث کول انسان هوښیار ښکاروي او هغه سړی چې په بحث کې ګډون کوي او هغه د ده وړتیا ښیي، خو تر هر څه ډېر یې په اسلامي آیډیا لوژي په ځانګړي ډول طالباني آیډیالوژي بحث کاوه، د ښوؤنځي په دوره کې یې ورځ یو ښوؤنکی د دوئ ټولګي ته راغی، هغه ښوؤنکي ځان نه یوازې دا چې مفتي ګاڼه بلکې ځان یې په ټولو اسلامي علومو کې کامل ګاڼه، خو ځوان یوه پوښتنه ترې وکړه او هغه دا:

د اسلام له نظره کفار درې ډوله دي، چې هغې له جملې نه یوه ډله اهل حرب دي، اهل حرب هغه کفارو ته ویل کېږي چې له مسلمانانو سره په جنګ کې وي، لکه آمریکایان. اوس چې څوک له

ketabton.com - The Digital Library

آمریکایانو سره په هره وسیله چې وي کار وکړي او معاش تري واخلي، د دوئ معاش حلال ده او که حرام؟

دوهمه پوښتنه یې دا وه:

امام حسین (رض) د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) لمسی او د هغه (صلی الله علیه وسلم) د اصحابو له جملې نه د حضرت علي (رضي الله تعالیٰ عنه) زوی وؤ په بله خوا کې یې د بل صحابي یعنې حضرت معاویه (رضي الله تعالی عنه) زوی یزید، په داسې حال کې چې یزید یو حاکم وؤ، حضرت حسین د هغه خلاف وؤ او د دې لپاره عراق ته لاړه چې د خلکو ملاتړ ترلاسه کړي او یزید له تخت نه کښته راوغورځوي، خو د کوفې خلکو له هغه سره جفا وکړه، یزید په دې بریالی شو چې حضرت حسین په شهادت ورسوي، اوس ته ووایه چې یزید چې لکه زموږ د حکومت په شان وؤ، په حقه وؤ؟ او که حضرت حسین (رضي الله تعالی عنه) چې لکه د طالبانو په شان د حکومت خلاف یې د جګړې نیت درلود په حقه وؤ؟

ده به له هر چا سره بحث کاوه، خو یوه ورځ یې په موټر کې له یوه نظامي سره بحث شو، چې هغه نظامي په ملي امنیت کې دنده درلوده. بحث له هغه ځایه پیل شو چې یوه کس بل ته اشاره وکړه او ویې ویل:

دا سړی وسله لري، حتماً به جنایي وي.

ketabton.com - The Digital Library

ځوان ناڅاپي وویل:

اوس خو له هر چا سره وسله وي، نو دا په دې معنیٰ نه ده چې هغه کس دې جنایي وي.

څنګه چې وسلوال کس د ده خبره واورېده، ویې ویل:

له چا سره وسله ده، ماته یې راوښیه چې زه یې ترې واخلم.

ځوان ورته وویل:

زموږ په سیمه کې لېوني هیله من او رېښتین خپلواک یې لري، نه یوازې دا بلکې زموږ د ښوونځي ډېر هلکان وسلې لري، نر شه ترې وایې خله!

وسلوال وویل:

ستاسو په ښوونځي شاګردان په استادانو وسلې راباسي او استادان په شاګردانو جنسي تېري کوي، نو سړی به کوم ونیسي او د څه لپاره به یې ونیسئ؟

ځوان په بېړه وویل:

حکومت تاسې یاست او څه چې کوئ تاسې یې وکړئ، مقصد دا کارونه ورک کړئ، که حکومت زما په لاس کې وای، نو اوس به داسې کیسې بېخي نه وای.

ketabton.com - The Digital Library

حکومت پلوه وسله وال وويل:

ولې ته داسې فکر کوې چې طالبان به يې مخه ونيولی شي، ښکاره خبره ده چې هغوئ يې هم مخه نه شي نيولی.

ځوان په بيړه وويل:

دا د طالبانو خبره پکې له کومه شوه؟

حکومت پلوه وسلوال په خندا کې وويل:

ځکه ستا ځيره هم د طالبانو په شان ده.

ځوان ځيره خواشينې شوه او په شونډو يې ترخه موسکا راغله، په همدې حالت کې يې وويل:

که د طالبانو حکومت وای، نو اوس به دا کيسې ببخي نه وې، د طالبانو د واکمنۍ مهال او اوس د لوګر ولايت يې ښه مثال ده.

حکومت پلوه وسله وال وويل:

نو قاري برهان به هم پيژنې.

ځوان وويل:

دا نو کوم سپګن دی؟

حکومت پلوه وسلوال په غوصه وويل:

ketabton.com - The Digital Library

څوک چې په کابل ښار کې طالبانو ته کښېنځاوې کوي، هغوئ طالبان دي او د حکومت له وېرې دا کار کوي او اوس تا نیسم او حوزې ته دې بیایم، تر څو پوه شې څوک ځواکمن دي، طالبان او که حکومت؟ زموږ د حکومت شکنجې به هم وګورې.

بیا په لوړ آواز ډرایور ته غږ وکړ:

استاده موټر ودروه!

خو بس له وروستۍ څوکۍ نه یوه سپین ږیري په لوړ غږ وویل:

پرېږده یې زلمی ده، زلمیان خو داسې خبر کوي.

حکومت پلوه وسلوال وویل:

په تا یې څه بوډا؟ زه یې کښېنته کوم، څوک دې نر شي زما مخه دې ونیسي.

سپین ږیري په غوصه وویل:

احمقه! زه د ګروال فلاني پلار یم، زما زوی د اولسمشر باډي ګاردانو قومندان ده، که مې همدا اوس زنګ ورته وواهه، رابه شي او پرتوګ به دې وباسي.

د سپین ږیري په خبره، حکومت پلوه وسلوال سترګې مړې واچولې، په بېړه له موټر نه کښېنته شو، سپین ږیري ځوان ته د نږدې

ketabton.com - The Digital Library

ورتلو اشاره وکړه. چې کله ځوان ورغی، نو سپین ږیري ځوان ته د نصیحت په بڼه وویل:

زویه! زه پوهېږم چې ته زلمی یې ځواک، جذبه او احساس ټول دې ډېر لوړ دي، هیلې او آرمانونه لرې. کېدای شي د دینې جذبې او یا د هیلو پوره کېدو لپاره به دې طالبان خوښېږي او کېدای شي په موبایل کې به دې ډېرې د طالبانو ترانې هم وي، یا هم نورې جنګي ویډیوګانې یې هم، خو هرڅه چې کوې، پټ یې کوه، ځکه دا حکومت دې ونه نیسي ، که چېرې حکومت ونیولې نو که چېرې طالب هم ونه اوسې دا حکومت دې طالب ثابتوي او هغه هم د ډېرو شکنجو په زور، زه پوهېږم چې تا هغه شکنجې نه دي لیدلي، خو ماته معلومه ده چې هغوئ ډېرې ظالمې شکنجې ورکوي، لکه د برېتو او نوکانو وېستل، د سړي مهمې وسیلې مطلب هګیو پورې د خبنتو تړل او داسې نور، نو پام کوه او ما سره ژمنه وکړه چې نور به پام کوې.

بله دا چې که د دې سپین ږیري منې، نو دا آیډیالوژي چې ته لرې، مطلب طالبانیزم به تاته ښه ښکاري، خو ما یې تل لیدلی ده، چندانې آیډیا لوژي نه ده، یو وخت به په خپلو خبرو، په خپلو بحثونو او آن په خپلو آرمانونو افسوس خورې، دا حکومت که هرڅه وي، خلکو ته پکې وچه یا لمده رسېږي، خو که طالبان واکمن شول، په ظاهره به آزادي وي، خو بیا به هم د همدې آمریکایانو تر امر لاندې

ketabton.com - The Digital Library

کار کوي، بیا به د خلکو له خولې نه ډوډۍ اوباسي او خپله به یې خوري. نور دې خوښه.

*****

یوازې د دې سپین ږیري نصیحت نه وؤ، بلکې ډېرو نورو خلکو هم ورته نصیحتونه ورته کړي ول او همدا نصیحتونه وؤ چې ځوان یې بدل کړ، لږ نه بلکې ښېخي ډېر، تر هغه حده چې تقریبا لېونی ښکارېده، نو یوازې لېونی بلکې ستر ګنهکار، تر دې حده لېونی شوی وؤ چې ښېځایه یې خندل، کله به یې چې خبرې کولې خندل به یې، کله به چې خوشحال وؤ خندل به یې، کله به چې خفه وؤ خندل به یې، کله به چې غوصه وؤ خندل به یې. بیا ځوان پوهنتون پیل کړ او هغه هم سیاسي زده کړې، دا چې دی د شپې مهال کې پوهنتون ته تلو، نو له ده سره ډېر حکومتي کارکوؤنکي هم په ټولګي کې ول، لکه د حوزې آمر، اولسوال، د پارلمان د وکیل مرستیال او داسې نور، خو یوازې له یو څو کسانو سره یې جوړه وه، چې هغه ښاغلی چوټا صافی (په ټولګي کې د چوټا په نامه مشهور وؤ) په ملي دفاع وزارت کې یې کار کاوه او نصرت احمدزی په ملي امنیت کې کار کاوه.

یوه ورځ د ځوان مور ځوان ته وویل:

ځان تیار که څې د ورور کره دې لاړ سو.

ketabton.com - The Digital Library

ځوان په آرامه وویل:

د ریس خان کره نو څه کوې؟

مور یې وویل:

هسې! یاد یې مې، ډېر وخت کېږي، څې لیدلی مې نه ده، نه پوهېږم څې زما ګران زوی به څنګه وي؟

ځوان لږه شېبه غلی وؤ، بیا یې وویل:

نو مورجانې! ولې یې بېرته کور ته نه راغواړې؟

مور یې وویل:

زوی خو مې زوی ده، خو ښځه یې ښځه نه ده، که یې بېرته را یو جای کم، نو لېونی به مې کي، سپکه ښځه ده، زه به ورسره سپکه سم، خلکو ته به وایي څې ټول زمن یې بېکاره ناست دي او زما مېړه کار کوي، دوئ ټول دیما مېړه ماش ته ناست دي، مېړه بېچاره مې څه وایي نه، دوئ ته هم خدای ورکړې ده...

ځوان یې خبره ورپرې کړه او ویې ویل:

سمه ده مورجانکې! کله ځو؟

مور یې لږ شېبه غلې وه، بیا یې په کراره وویل:

ځان تیار که، کالي دې بدل که څې ځو.

ketabton.com - The Digital Library

ځوان جامې بدلې کړې او له مور سره د ریس خان کور ته لاړه، کله چې دوئ د ریس خان کور ته ورسېدل، نو هلته ګلپانه هم راغلې وه، د ګلپانې په لیدو محمدخان سخت خواشینی شو او هغه ځکه چې ګلپانه ډېره دنګره شوې وه، له ډنګرېدو سره یې نیمه ښکلا بایللې وه، محمدخان د هغې په دا رانګه لیدلو ډېر پرېشانه شو، ډېره هڅه یې وکړه چې هغه یوازې ګېر کړي، تر څو خبرې ورسره وکړي خو د ډوډۍ تر مهاله په دې کار بریالی نه شو چې په ډوډۍ هم کېناسته، نو ډوډۍ یې ونه خوړه. ریس خان د محمدخان د دې کار په لیدو په ټوکه وویل:

ښنګه چل ده عالیجنابه! ولې سمه ډوډۍ نه خورې، ډنګر به شې لکه ګلپانه! دغه ده دا هم سمه ډوډۍ نه خوري دسې نه څې تا هم له دې زده کړې وي.

محمدخان وویل:

نه لالا دا خبره نه ده، نن مې هېڅ ډوډۍ ته زړه نه کېږي.

محمدخان تر ډوډۍ وروسته خپل وراره راواخیست او انګړ ته راووت، هلته یې په هغه ځان بوخت ساتلی وؤ. خو لږ وروسته ګل پانه هم انګړ ته راووته، راغله او د محمدخان تر څنګ ودرېده، ځوان په بېړه وویل:

ولې دومره ډنګره شوې یې؟

ketabton.com - The Digital Library

ګلپاڼې تندی تریو کړ او لږه شېبه همداسې وه او بیا یې تندی خلاص شو او کېناسته، خو دا ځل یې په سترګو کې اوښکې راغلې او په ژړا شوه، په غریو کې یې وویل:

شیـریـن جـانـان رانـه جـدا دی

د جدایي غم له هرڅه وېستلې یمه

جـدایـي سختـه ده لالیه

زړه به دې سوځي ځای به ځای درکوینه

جانانه ستا ظلمونه ډېر شول

د جدایي په غم مې مه سیزه مئینه

لاس دې په لاس کې راته کېږده

د جدایي خبرې پرېږده زړه مې چوینه

ستا جدایي زغملی نه شم

زه دې په کې لېونۍ سپېلنۍ شومه

ketabton.com - The Digital Library

**جانانه ستا په جدايي کې**

**خورې ورې زلفې مې خرې پرې دينه**

د خدای ظالمه! څوک دسې کوي، د يما خو زړه ټوټې ټوټې سو او خولې ته راغی، دا څو مياشتې وسوې څې ته مې ښېخې ليدلی نه يې. ولې دا زور نه لري، ډېر زور لري، زه دا ده جومې (اونۍ) کېږي څې د خور کره مې پرته يم او خدای ته مې څومره دعاګانې کړي څې يو ځل تا راباندې وګوري.

د محمدخان په زړه کې دا څو ټپې را تېرې شوې:

**غېږه دې خلاصه کړه زړګيه**

**زه د کلونو غمزده راغلی يمه**

-

**جانان مې بلکل ګاونډی دی**

**خو تش ديدن يې په کلونو نه کومه**

-

**مخ دې راواړوه جانانه**

**ستا د ديدن بلا مودو نه تږې يمه**

ketabton.com - The Digital Library

-

**ستا په دیدن به مړه نه شم**

**که شپه او ورځ دې یاره مخ ته وګورمه**

نو یې خبره وپرې کړه او ویې ویل:

زما هم زړګی درپسې سوری سوری ده، تا سو نجونه خدای ځومره ظریفې پیدا کړې یاست، چې په کوچنۍ خبره مو هم اوښکې تویېږي، دا خو لاغته ده او د جینکو اوښکې تویول خو عیب هم نه ده، خو د هلکانو ژړل بیا څه، که چېر دې هلکانو ژړل عیب نه وای نو بیا به مې دومره ژړلي وای چې د خان په نوم نوی سیند جوړ شوی وؤ. ته فکر کوې زه بېغمه ناست وم، نه زه هم په سره انګار کې ناست وم هغه د چا خبره:

**کلی وطن راته سور اور دی**

**په سره انګار کې ستا د لاسه ناسته یمه**

ما به څه کړي وای، که دې ستا د لیدو لپاره ستاسو کور ته درتلم، نو په سپینه لوپټه دې تور داغ لېده او ته خو ښوؤنځي ته هم نه ځې چې په لاره کې درته دریدلی وم.

ګلپانې خوله خلاصوله خو محمد خان بیا وویل:

ketabton.com - The Digital Library

رېښتيا کله چې ما تاته د خپلې مينې وويل، نو تا په ما سخرې کولې، خو اوس...

ګلپاڼې يې خبره وپرې کړه او ويې ويل:

هغه وخت مې غوښتل چې ځان او تا دواړه وغولوم، خو دسې ونه سول، اوس پوهېږې په ما څه تېرېږي.

د ځواب په تمه شوه، خو چې څه يې وانهورېدل، بيا يې خبرو ته داسې دوام ورکړ:

ورېندارګانې مې پېغور راکوي او وايي چې نيمه دنيا دې مرکې ته راغله، خو چې ستا مردار مخ يې وليده، بېرته پښېمانه سول، خو دسې نه ده.

هغوئ د دې لپاره بيا نه راتلل چې ما به دروغ ورته ويلي ول چې زما اولادونه نه کېږي او دا هم د دې لپاره چې له تا سره مې واده کړی وای، خو ته مې مرکې ته نه راځې او مخکې هم رانه غلې!

ځوان په ژړغوني غږ وويل:

ما مې مور ته ډېر ويل، خو مور به مې پلمه کوله، ويل به يې هغه بدرنګه نو څه کوې، يوه غلطي مې وکړه او د دې غول چنګاله خور مې خپل زوی ته وکړه، بله يې نه کوم. نو ما به څه کړي وؤ، ما يوه دعا کړې او آغه دا چې خدای دې تا ډېره خوشحاله کړي. اوس يو

ketabton.com - The Digital Library

بل کار کوم او هغه دا چې تانه خپله ژمنه بېرته اخلم، نوره مجبوره نه يې چې د مرکې والا خلکو ته پلمه وکړې، نورې دې اوښکې پاکې کړه، چې څوک رانه شي، ځکه د لمانځه وخت شو او اوس به هرومرو يو څوک د اوداسه لپاره راځي، ته خو پوهېږې چې پښتانه زلميان د پېغلو اوښکې نه شي پاکولی، کنه ستا پاکې اوښکې به ما په خپلو مردارو لاسونو پاکې کړې وای.

ګل پاڼې لا خپلې اوښکې وچولې چې د محمدخان مور راغله، ګلپاڼې کرار محمدخان وپوهاوه چې مور دې راغله او په دې کې يې د ريس خان زوی کش کړو خو محمدخان نه ورپرېښوده او کله يې چې مور غږ پرې وکړ، ده هم پرېښوده

*****

د دې ليدو سره نو د محمدخان زړه کرار کرار په اور سوځېدو او ايره کېدو، کله به چې پوهنتون کې هلکانو لده، نو ويل به يې چې لېونی شوی، هېڅوک د ده په درد نه پوهېدل، نه درد نه په خوشحالۍ، ځکه ده به له ډېره درده ترخه خندا کوله، خو خلک څه پوهېدل چې دا خندا ترخه ده او که خوږه، خلکو يې يوازې خندا ليده او بيا به يې په ده پورې خندل. د ده دې خندا په راز څوک نه پوهېدل، نه يې تر ټولو نږدې ملګري، نه يې مور او کورنۍ او نه يې دوښمنان، دوښمنان څه وؤ، خو توربوران ول، هغوئ چې به د ده دا خندا ليده، په لومړيو کې به سوځېدل، خو وروسته يې لېونی ګاڼه او ورپورې

ketabton.com - The Digital Library

خندل به يې د کابل په ټول ښار کې ده داسې کس ونه مونده چې بې له هرڅه ويلو د ده په درد پوه شي، خو يوه ورځ د کريکېټ په لوبه کې له يوه کس سره آشنا شو، خو مخکې له دې چې د دې کس په اړه ووايم، د ځوان د کرېکېټ په اړه وايم، دی نو په کرېکېټ کې يو ځانګړی لوبغاړی وؤ، هغه داسې چې تر لوبې دباندې به يې د شاهين ليد او ځواکمنې متې لرلې، خو کله چې به ميدان ته ننوت، نو بيا خبره بله وه، ځوان اووه ځله سر پر سر په صفر يا هنډې سوځېدلی وؤ او هغه ځکه چې يو خو به چې بېټ ته ودرېده، نو فکر به يې ګډوډ شو او هر رنګ چې به يې بېټ تاو کړ، بس تاو به يې کړ، په داسې حال کې چې له تر لوبې مخکې به په دې فکر کې وؤ چې د نړۍ نامتو لوبغاړو په شان شاټونه ووهي، په ځانګړي توګه سورش رېنا او کې اِل راهول، خو کله به چې په سټرايک ودرېده، نو هر څه به يې هېر شول او له بل لوري به يې ټايمېنګ خراب شو، مطلب کله به ده بېټ مخکې تاو کړ او بال به وروسته د بېټ تر حده ورسېده او کله به بال مخکې د بېټ تر حده راورسېده او ده به وروسته بېټ تاو کړ.

دوهم دا چې په ټايمنګ هم نه پوهېده، مطلب په کرکېټ کې اصل دا ده چې کله ته په سم وخت توپ ووهې ښه وړاندې ځي، خو ده به بيا لکه حضرت ځاځي غوندې او يا هم لکه اندړ رسل غوندې هڅه کوله چې د متو په زور شپېزه ووهي.

ketabton.com - The Digital Library

پاتې شوه د ځوان د نوي ملګري خبره، د ده نوی ملګری لـه کلـي نه راغی وۀ، دا کس هغه د چا خبره سیمه ایز شاعر هم وۀ او لـه دې سره یې ښه غږ هم درلود، چې د شاعرۍ ښکلا یې لا ډېروله. ځوان لـه ده سره کرېکټ په لوبه کې آشنا شو او هغـه هم د یوه ترنم پـه سر او هغه ترنم بیا د ګلخوبان ککي دی چې وایي:

**کچکول په غاړه مجنون راغی د لیلیٰ کوځې**

**لکه چې ښنګه یو ملنګ ځي د بادشاه کوځې ته**

او همدا ترنم وۀ چې دی یعنې ژوندون ملنګ معنیٰ د ځوان (محمدخان) په راز وپوهاوه او په دې راز هم پوه شو چې د دواړو درد یو ده، یعنیٰ مینه او همدا درد د دوئ د اوږدې ملګرتیا لامل شو، دوئ به یو ځای کېناستل، شعرونه به یې ویل، ناوله به یې لوستل او د خپلو دردونو ځینې برخې به یې شریکولې، دوئ بـه کلـه کلـه آن تـر سهاره هم ناست وۀ، چې دا ناستې یې نه یوازې د دې لامل ګرځېدلې وې چې خپـل دردونـه هېـر کـړي، بلکـې د دوؤ ملګـرو پـه منـځ کـې د مینې ډېروالي لامل هم وۀ.

*****

یوه ورځ د ځوان یوه پخواني ملګري وویل:

راځه خانه چې د واکسین کمپاین کې دې شامل کړم، یـو نـیم زر روپۍ به هم درته پاتې شي او سات به دې هم تېر وي.

ketabton.com - The Digital Library

ځوان هم ومنله، يوه اونۍ وروسته ځوان روغتيايي سميه ايز روغتون (کلينک) ته ورغی، يوه ورځ يې د پوليو پر ضد واکسين لوست وکړ او بيا يې ځلور ورځې د کمپاين دوره تېره کړه، په پای کې يې يو نيم زر روپۍ تر لاسه کړې، چې د دې يو نيم زر افغانيو اخيستو خوند ورکړ او دی يې دې ته وهڅاوه چې په راتلونکې دوره کې هم کار وکړي، چې دا دوره اوپي وي او آی پي وي ګډه دوره وه يعنې په دې دوره کې سره له دې چې د ماشومانو په خوله کې يې د واکسين څاڅکي ورتويول، په ورانه کې يې هم ستنه ورته لګوله، چې د همدې لپاره ځينو نجونو ته اړتيا وه، تر څو ماشومانو په ورنو کې ستنې ولګوي، دې دورې کې په هر ټيم کې ځلور ځلور کسه وؤ، چې دوه هلکان او دوه نجونې، نه ريښتيا ، په هره ډله کې دوه هلکان او درې نجونه وې، چې ټول ټيم پينځه کسه کېدل، دا ځل هم د تېر په شان د ډلې کسان نه وؤ څرګند ، ټولو يو ځای دوه ورځو لپاره زده کړې کولې، چې تر زده کړو وروسته پنځه کسيزه ډلې جوړې شوې، له ځون سره رستم ، روبينا ، زرمينه او ګلالۍ په ډله کې وؤ، خو د ځوان له اوله سره رستم خوښ نه شو او له سوپر وايزر نه يې وغوښتل چې د هغه په ځای دې د تېرې دورې ملګری ميلاد ورکړي، خو سوپر وايزر ونه منله او هسې بانې يې ورته جوړې کړې، نو ځکه خو ځوان هم مجبور وؤ چې ويې مني.

ketabton.com - The Digital Library

له هر څه به تېر شو، خو په دې دوره کې ځینې کیسې وشوې، چې دځوان زړه یې له واکسین او له هغې ساحې چې دوئ واکسین پکې کاوه تور کړ او هغه اعتماد چې یې په مخ پټو نجونو لاره، هغه یې هم مات شو و په دې باور شو چې تر څو د زړه حجاب شتون ونه لري، د جامو او مخ حجاب ګټه او معنیٰ نه لري، نو څکه دې الله تعالیٰ لومړی زموږ په زړونو کې حیا پیدا کړي او بیا د خبرو او ګرځېدو وس راکړي.

او هغه پېښې دا وې:

د واکسین په ورځ سوپر وایزر ځوان ته وویل:

ته یو څو خانې توري کړه او یو څو ستنې سفتې باکس (هغه قطی چې واکسین والاوؤ ته د ستنو اچولو لپاره ورکول شوی وؤ) کې واچوه تر څو هیئت راته داستان ونه غړوي.

له ځوان سره زاړه بوتلونه د واکسینو په کڅوړه کې پراته وؤ، هغه او یو څو ستنې یې په سفتې باکس کې وغورځولې، البته د کاغذونو په تورولو کې یې لږ زیاتی وکړ، چې د هیئت له غوصې سره مخ شو او ځوان یې یو څه سپک کړ.

دوهم دا چې وروسته له دې چې ځوان د دې لپاره چې سپکه پټه کړي، د ناسوبو (غیرحاضرو) ماشومانو په لټه ووت، خو هغه وایي چې د خدای سپک کړي هیڅوک نه شي درنولی، کله چې ماشومانو

ketabton.com - The Digital Library

پسې لاړو، نو لومړی خو يې يوه درې کلنه ښايسته ماشومه له کور نه يوړه، هغه کور ته چې واکسين پکې کېده، کله يې چې ستنه ورته ووهله او ځوان ماشومه کورته ورله، چې په لاره کې يې پام شو چې د ده کالي لامده دي. کله يې چې کور ته ورسوله، نو مور يې د وره له شا له ځوانه واخيسته او ويې ويل:

ژباړه: ودې وېرولم چې داسې نه چې زما لور يې تښتولې وي.

ځوان بيا هم په اصلي کيسې پوه نه شو او دې کارته يې دوام ورکړ، خو کله يې چې غوښتل ماشومان له ځان سره واخلي، نو رستم نه يې وغوښتل چې هغه دې هلته پاتې شي، تر څو د ماشومانو کورنۍ ونه ډاره شي، خو کله چې ځوان ماشومان سيمې ته بوؤل، يو سړی راغی ځوان يې تر ګرېوان ونيوه، خو رستم کرار د ېوال سره تکيه لګولې وه، بلآخره سوپر وايزر راغی او ځوان يې له سړي نه خلاص کړ او هغه سړي ته يې ثابته کړه چې د اختطاف او داسې نورې کيسې نه شته. او کله چې ځوان بېرته لاړ، نو يو سګرېټ يې له سوپر وايزر نه واخيسته او بل يې کړ، چې همدا سګرېټ د ځوان سګرټو پيل وؤ.

درېم دا چې له ده سره دوه نجونې او يوه ښځه وه، ښځه ګلالۍ نومېده او يوه نجلۍ يعنې د ګلالۍ ورېره زرمينه نومېده چې د دوئ مخونه لوڅ وؤ، د روبينا مخ پټ وؤ، نه ګلالۍ سره لرغکه (موبايل) وه، نه هم له زرمينې سره، کېدای شي وسره وه به، خو سوپر وايزر او نورو ته يې ويل چې راسره نه شته او هيڅا ته يې شمېره نه ورکوله،

ketabton.com - The Digital Library

خو روبینا لرغکه لرله سوپر وایزر یعنې زاهدالله ته یې شمېره ورکړې وه، د لومړۍ ورځ په پای کې روبینا له یوه هلک سره لاړه، دوهمه ورځ یې ځوان ته وویل:

ما خپله شمېره زاهدالله ورکړې وه، چې دونه ډېر مسکالونه راځي چې ښځي یې سونړو ته راوستې یم.

ځوان په خندا کې وویل:

زاهدالله پېژنم، هغه هېڅ کله داسې کار نه کوي.

خو نجلۍ وویل:

خو زه سل فیصده مطمئنه یم چې زاهدالله دا کار کړی.

خو د واکسین د کمپاین په وروستۍ ورځ نجلۍ راغله، خپله نوې شمېره یې زاهدالله ته ورکړه، نه رینښتیا د کمپاین په وروستۍ ورځ نه وه، بلکې د پیسو د اخیستو ورځ، په هغې ورځ یې زاهدالله ته خپله شمېره ورکړه او دا یې ورته وویل:

شمېره واخله خو دا ځل یې بل چا ته ورنه کړې.

خو باید ووایم چې کېدای شي دې نجلۍ زاهدالله ته د دې لپاره شمېره ورکړې وي، چې راتلونکي کمپاین کې یې راغواړي او ځوان به هم نا حقه شکي شوی وي، خو د یار د لرلو په اړه یې غوصه بې ځایه نه بولم. هر څه چې وي، د ځوان زړه یې له دې کیسو یعنې د

ketabton.com - The Digital Library

واکسین له کمپاین، له هغې سیمې او په ظاهره محجه او په باطن کې بربنډو ښځو نه تور کړ. نو ځکه خو نه بیا واکسین په کمپاین کې ورګډه شو او نه هغې سیمې باندې تېرېده، مګر دا چې ډېر اړ شوی وای، سره له دې چې زاهدالله ورته وړاندیز ورکړ چې په راتلونکې کمپاین کې دې ګډون وکړي، ځوان لومړی ورته هو وکړل، خو وروسته یې ورته وویل:

نه ګرانه اوس مې سوچ وکړ، فکر کوم چې دا دومره عزت مې چې په واکسین کې لاسته راوړې ده، همدا به مې بس وي، نور ضرور نه ده.

زاهد الله تر لږې موسکا وروسته وویل:

ښه خو ما ویل، چې هغه (اس.امه) هم بدله شوې ده، یوه ځائې راغلې ده، سات به دې ورسره تېر وي.

د ځوان په زړه کې د شوق څپې راپورته شوې، خو دا څپې د ایمان له کمره سره ټکر شوې او خپل شور او زور یې له لاسه ورکړ او بېرته په راغلې لاره لاړې، له دې کار سره د ځوان په فکر کې یوه خبره راغله او هغه دا چې که په تېره دوره کې له مانه هغه غلطیانې نه وای شوې او زه په هغه ډول بې عزته شوی نه وم، نو کېدای شي زه به ډېر بې لارې شوی وم او هغه هم دومره چې مه کوه پوښتنه، دومره به بې لارې شوی وم، چې د روبینې بل یار به زه وم، نو ځکه خو یې په زړه

ketabton.com - The Digital Library

کې لومړی توبه ادا کړه او بیا شکر او تر هغه وروسته یې له زاهدالله نه یو سګرېټ واخیست او بل یې کړ، له دې وروسته یې له خولې نه لوګی ووته، شپه وروسته زاهدالله ترې رخصت شو او ځوان له سیګرېټ او د هغه لوګي سره یوازې پاتې شو.

*****

ځوان د خپل د تره د زوی کوزدې لپاره خپل کلي ته لاړه، هلته یې د عبدالجلیل په نوم د طالبانو قومندان سره آشنا شو، چې ډېر اخلاقي او حوصله ناک سړی وؤ، ده به د کلي له هر وګړي سره په غېږه ستړې مه شې کوله او هر کس ته به یې د (ګبر زوی) کلمه کاروله، چې ځوان ته یې اهم دا کلمه وکاروله، عبدالجلیل د ځوان د تره د زوی له کوژدې له خبرېدو وروسته سمدستي د هغوئ کورته نږدې راغی او ډزې یې وکړې، چې تر هغه وروسته د ځوان تره عبدالجلیل سره له ملګرو د شپې ډوډۍ ته راوباله، چې هغه په لومړیو کې انکار وکړ او وروسته یې بیا ومنله او ماښام سره له ملګرو راغی، خپل څو کسانو ته یې امر وکړ څو دباندې پیره وکړي او څو کسانو سره دننه کور ته لاړ، هلته په هجره کې کېناستل، ټوپکنه یې د وره تر څنګ کېښودل، کله چې هغوئ ډوډۍ خوړله، ځوان یوه موضوع را واخیسته، هغه موضوع د حکمتیار موضوع وه، ځوان غوښتل چې عبدالجلیل غوصه کړي، خو عبدالجلیل ورباندې پوه شو، نو یې ځوان ته ویل:

ketabton.com - The Digital Library

خدای پیغمبر او خپل کتاب رالېږلی، که چېرې څوک ځان مسلمان ګڼي، نو د خدای په دین دې عمل وکړي، موږ له چا سره ناحقه مشکل نه لرو.

د دې خبرې تر کولو وروسته يې حرکت وکړ او بيا لاړه، سبا ته چې د کوزدې مراسم او هرڅه پای ته رسېدلي وؤ، هوا هم ښه شوې وه، د اوړې بې حده تودوخې هم خپل ځواک له لاسه ورکړی وؤ، ځوان او د هغه کورنۍ هم له کلي نه د کابل ښار خواته حرکت وکړ، يو وخت يوه چېک پاينټ ته ورسېدل، هلته يوه جالبه پېښه وشوه، دا پېښه دومره جالبه وه چې تر ډېره وخته د ځوان په ذهن کې پاتې وه او هغه دا وه چې په کوم موټر کې چې ځوان ناست وؤ، په لاره کې يو سپين ږيری وروخوت، په دې چيک پاينټ کې پوليسو موټر ودراوه، ټول يې لومړی کښته او بيا تالاشي کول، تر داسې حده چې ښځينه پوليس هم ورسره ول، ښځې هم پلټل کېدې، کله چې د بوډا وار راغی او هغه ته پوليسو د کښته کېدو وويل، نو سپين ږيري په زوره وويل:

بسم الله رحمن الرحيم، لااله الاالله محمد رسول الله!

دې سره پوليسو منده کړه او لږ لرې يې موټر ته ماشې ونيولې، بيا يې چلونکي ته وويل:

استاذه! ارکت (حرکت) کوه، ځان باسه!

ketabton.com - The Digital Library

کله چې موټر حرکت وکړ او له چېک پاینټ نه لږ لرې شو ټول په خندا شول او بیا ډرېور وویل:

ههه! په دوئ باندې وطن ساتو!

له دې خبرې سره ټول په خندا شول، خو ځوان ته د طالبانو د هغه قومندان عبدالجلیل خبره وریاده شوه چې کله د ځوان تره عبدالجلیل ته وویل:

خدای مو کامیاب او په افغانستان حاکم که.

نو عبدالجلیل یې په ځواب کې وویل:

دسې مه وایه اکا، تر موږ پخوا مجاهدین په افغانستان حاکم سول، خو آغوئ افغانستان سره مجاهدین ام وشرمول، نو اوس ام موږ ته دعاء مه کوه، بلکې اسلام ته دعاء وکه، څې اسلام په افغانستان حاکم سي، بیا به نه موږ شرمېږو او نه به اسلام بدنامېږي.

نو ځوان هم په کراره وویل:

دوئ دواړه دې خدای لرې، خو الله تعالی دې په افغانستان کې اسلام حاکم کړي، چې له ټولو غمونو خلاص شو.

دا چې په موټر کې یو سرتېری هم ناست وؤ، د ځوان د خبرې اورېدو نه وروسته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

یاره استاذه! زه خو چې تر څو ګورم نو دا هلک په طالبانو کې ده.

ډرېور لږ شېبه غلی وؤ او بیا یې په موسکا کې وویل:

طالبانو کې به وي او که نه، خو مسلمان بیا ښه تکړه ده او پکر کوم څې خبره ې ام بېخي سي ده، موږ اوغانان به هغه وخت جوړ سو څې اسلام په اوغانستان باندې آکېم (حاکم) سي.

د چلونکي خبره وه، چې په موټر کې جوړ بحث پای ته ورسېده، نوره موټر کې چوپتیا تر هغې خوره وه، چې ځوان او کورنۍ یې له موټره کښته شول.

*****

په پوهنتون کې د ځوان ملګرتیا له نصرت احمدزي سره نوره هم ډېره شه او هغه هم په دې چې نصرت احمدزی به د ورځې په دنده کې بوخت وؤ او د شپې به پوهنتون ته راته، نو نوره حوصله به پکې نه وه پاتې چې سیمینار جوړ او بیا یې وړاندې کړي، دا چې سیمینار پینځه کسیز وؤ، نو ځوان به دی هم په خپله پینځه کسیزه ډله کې نیوه، له بل لوري نصرت هم ځوان ته چېټرونه پېرل او داسې نور چې همدا کار د دې لامل شو نصرت د ځوان ټَیټ ملګری شی. د دوئ ملګرتوب همداسې دوام وکړ، تر دې چې دوئ به په همدې ملګرتوب کې یو بل سره ټوکې هم کولې، چې بیا یې پر یو بل لقبونه هم

ketabton.com - The Digital Library

کېښودل، نصرت به ځوان ته داعش ویل او ځوان به هم نصرت ته د ولسمشر لمسی ویل، یوه ورځ نصرت ځوان د دوئ یو بل ملګری ټولګیوال د خپلې سیمې پارک ته ورغوبښتل، په پارک کې نصرت خپله وسله د دستمال لاندې کېښوده، ځوان راواخیسته، جاغور (شاجور) یې ترې ووېسته او له شاجور نه یې مرمۍ یوه یه ووېسته، په دې وخت کې نصرت د هغه ویډیو واخیسته او بیا یې ځوان ته وویل:

اوس مې ستا وډیو واخیسته خپل ریاست ته یې ورکوم، کریډېټ به مې پورته سي.

له دې خبرې سره د ځوان په زړه کې وېره ولوېده، خو نصرت ته یې وویل:

څه چې کوې ویې کړه، خو دې خبرې ته دې پام وي، چې زه له هیچا نه نه وېرېږم.

نصرت په ظاهراً جدي حالت کې وویل:

اوس خو دا خبرې کوې، خو کله چې زما ملګرو درته پلاستیکي ولچکې واچولې او توره کڅوړه یې درواغوسته، بیا به ډېرې زارۍ ورته وکړې.

د دوئ بل ملګري چې هغه مهال په سرحدي پولیسو کې وؤ، په خندا وویل:

ketabton.com - The Digital Library

نصرته! کرار کرار جدي کېږې!

نصرت په بېړه وويل:

نه زه په ريښتيا جدي يم.

ځوان يې له لاس نه آيفون واخيست، هغه وډيو يې ډيليټ کړه، خو نصرت غږ پرې وکړ:

داعشه! دا آيفون ده، له دې نه د يوه شي ډيليټ آسانه کار نه ده، که يې څومره هم ډيليټ کې، بيا هم پکې پاتې کېږي.

ځوان څه ويل، خو نصرت وويل:

مبايل مې راکه! توکې مې کولې، زه کله ام د ملګرو شيطاني نه کوم، وظيفه (دنده) مې ام جاسوسي نه ده، زه د ډيپو مسؤل يم.

د ځوان زړه ډاډه شو، نو يې له خپل ملګرو سره خداى په اماني وکړه او په خپله لاره لاړه.

*****

محمد خان له نورو ټولو ملګرو نه ډېره ملګرتيا له ژوندون ملنګ سره پالله، هغه په دې چې ځوان او ملنګ دواړو يو څه لرل چې د تل لپاره يې د دوئ ملګرتيا ساتلې شوه او هغه د مينې درد وؤ، د دې درد شريکولو سره به دا درد نه کمېده، نو بيا سګرټو د دې لپاره چې دا درد له ځان سره يوسي، ښه ډېره چالاکي کوله او سګرټو

ketabton.com - The Digital Library

سره به ناولو هم مرسته کوله، چې دوئ به ناولونه په ګډه لوستل، لومړی ناول یې هم «هوسۍ» ناول وؤ، چې ښاغلي محمداجان یار لیکلی وؤ، د ملنګ دا ناول ډېر خوښ شو، خو د ځوان خوښ نه شو، ځوان ویل چې د دې ناول اصلي کرکټر بې غیرته ده او کرکټره یې بې حیاه ده، خو ملنګ بیا د دې خبرو په کیسه کې نه وؤ، ځکه اول خو پکار دا ده چې هلک نجلۍ باندې خرچې وکړي او دا چې هوسۍ د سهار صیب دفتر ته راځي او هغه هم بې له دې چې د دې نجلۍ په اړه څېړنه وکړي، سم دلاسه زړه بایلي، په لومړي لیدنه کې چې دې کار هم خوند رانه کړ، خلاصه دا چې سره له دې چې کېدای شي د پښتو ژبې په ادبیاتو کې به کومه ستونزه نه لري، خو زما خوښ نه شو.

یوه ورځ ځوان د ښاغلي آرش ننګیال «اولسمشر ماوژلی» ناول لوسته، تورۍ (خاله) یې ترې وغوښتل چې د ډګرمن توریالي کور ولټوي او له پیدا کولو وروسته یې دې ته وروښیي، ځکه غواړي چې چې د هغه لوښه وګوري، که چېرې یې خوښه شوه، نو مرکې ته به ورشي، نو د همدې خبرې له امله محمد خان اړ وؤ چې خپل د ښوؤنځي له یوه ټولګیوال سره چې په پي پي اس (PPS) کې یې دنده لرله اړیکه ونیسي، د همدې لپاره یې خپله فسبوک پاڼه په کمپیوټر کې راواړوله خو د دې لپاره چې سم کار یې نه کاوه، نو د «اولسمشر ما وژلی» ناول پي ډي اف (PDF) یې خلاص کړ، څو لیکې یې ولوست او

ketabton.com - The Digital Library

بیا یې فسبوک پاڼه تازه کړه، نو خپل ټولګیوال خدای نور ته یې په فسبوک کې پیغام واستاوه، پکې لیکلي ول:

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

هغه یې په ځواب کې ولیکل:

وعلیکم السلام! څنګه یې؟ او ریښتیا زه خو نوکري یم، خو ته په دې توره شپه کې فسبوک کې څه کوې؟

ځوان ورته وویل:

هسې یو ناول مې لوسته او بل له تاسره مې کار وؤ، ستا د تره ډګرمن توریالي د کور پته او د هغه شمېره مې پکار وه.

خدای نور یې په ځواب کې ولیکل:

څه یې کوې؟

له دې امله چې د ځوان توری له ځوان نه غوښتي وؤ، چې نه باید پوه شي، چې د نجلۍ کتو ته ورځم، نو ځوان ورته وویل:

هسې پکار مې ده.

خدای نور یې په ځواب کې ولیکل:

نه ګرانه! اول راته ووایه، چې څه کار دې ورسره ده. څې زه آدرس او شماره درکم، کنه نه نمبر او نه آدرس ستـه!

ketabton.com - The Digital Library

ځوان یې په ځواب کې ولیکل:

پته خبره ده. اوس یې درته نه سم ویلی، بیا وروسته یې درته وایم.

خو خدای نور یې په ځواب کې ورته ولیکل:

تر څو څې ونه وایې، نو اعتبار درباندې نه سم کولای.

ځوان یې په ځواب کې ورته ولیکل:

ته اوس په ما اعتبار نه لرې، سره له دې چې دومره کلونه مو په یوه ټولګي کې سره تېر کړل؟

خدای نور یې په ځواب کې ولیکل:

نه زه په تا ام باور نه سم کولی! او دا خبرې پرېږده اوس د نورو شیان په باره کې خبرې وکه.

ځوان له ډېرې غوصې نه په ځواب کې ولیکل:

ښه نو زه یوه بله پوښتنه لرم او هغه دا څې پي پي اس څه معنا؟

خدای نور یې په ځواب کې ولیکل:

ته لاتر اوسه د دې په معنا نه پوهېږې؟

ځوان یې په ځواب کې ولیکل:

ketabton.com - The Digital Library

هسې خو پوهېږم، خو په دوؤ کې به کومه معنا لري. پرزیډېنټ پرسونل سکیورټي، یا پرزېډېنټ پرسونل ستولېټ. مطلب (د اولسمشر شخصي ساتونکي او که د اولسمشر شخصي جواب چای).

اوس یې ته خوښ که.

خدای نور یې په ځواب کې ولیکل:

ما تاته نه وؤ ویلي څې زه او ته ټوکې سره نه لرو؟

ځوان یې په ځواب کې ولیکل:

هو ریښتیا! خو زه جدي وم.

خدای نور پوښتنه وکړه:

تا کوم ناول مطالعه کاوه؟

ځوان یې په ځواب کې ولیکل:

د آرش ننګیال په لاس لیکل شوی ناول اولسمشر ما وژلی او نور د تل لپاره خدای په امان، زه غواړم تا بلاک کړم.

تر دې وروسته یې هېڅ کله هم له هغه سره هېڅ خبرې ونه کړې.

ځوان احسان موند ته هم ناولونه لوستل، چې له هغې جملې نه د اروښاد سعدالدین شپون صاحب ګټیالی ناول وؤ، چې د دې ناول اصلي کرکټر یا د ناول هلک ګلاجان مومند وؤ او اصلي نجلۍ یې

ketabton.com - The Digital Library

احمدزی وه. ځوان ځکه احسان مومند ته ناول لوسته، ځکه د احسان مومند لیک او لوست نه وؤ زده، بلکې د ژوند ربړو دې ته اړ کړی وؤ چې زده کړه پرېږدي او د خپل کور او مور خرځ چمتو کړي او همدا لامل وؤ، چې ځوان به ښاغلي احسان مومند ته هم ناول لوسته.

*****

د ځوان د پوهنتون دوره همداسې تېرېده، خو له دې امله چې سم کار يې نه کېده، اړ شو څو دوکان وتړي او چې څو ورځې تېرې شوې، د کور غړو مثال وګرځېده، چې په کور کې به چا کوم کار کې کوچنۍ یا لویه غلطي وکړه، نو د کور نورو غړو به ورته ویل: وګوره سم پام کوه د محمدخان غوندې لتي مه کوه. د کور غړي خو لا څه کوې آن خپلو او خپلوانو به هم په ځوان باندې مسخرې کولې، چا به ویل:

خورې او چیکي او حساب نه مني او بس ځملي.

چا به ویل:

مورې زحمت باسو او ته کرار په کور کې ناست يې او مزې کوې، څه زه پښتون (پوهنتون) وایم او بس!

ځوان له دې خبرو ډېر ځورېده، خو څه يې کړي وای، په افغانستان د دندې موندل داسې دي لکه په سمندر کې د ورکې ستنې موندل، نو نه یوازې دی، چې لایې د لیسانس زده کړې روانې

ketabton.com - The Digital Library

وې، بلکې ډېر ماسټران او ډاکټران (پې ایچ ډي والا) خلک په دنده پسې ګرځېدل. نو ده بېچاره به څه دنده پیدا کړې وای؟

نو به یې ځان سره دا دوه مصرې

**بیا به د خلکو د خندا شم**

**ځکه د زړه حالونه نه وایم مئینه**

**دا ما پخپله په ځان کړي**

**ګیلې له خلکو نه کوم لېوني یمه**

*****

ځوان د تره د زوی واده لپاره خپل کلي ته لاړه، د شپې یې ټوله شپه کار وکړ، تر څو د سبا مازدیګر ډوډۍ لپاره چمتوالی ونیسي، د ورځې هم ټوله ورځ اخته وؤ، لکه څنګه چې مې مخکې وویل دا سیمه د عبدالجلیل تر واک لاندې وه او د هغه اووه یا اته ملګري هم د ډوډۍ خوړلو لپاره راغلل، عبدالجلیل راغی، ځوان ته یې کښته او پورته وکتل، بیا یې په خندا کې وویل:

د ګبر زو ډوډۍ خو ټولو خلکو وخوړه او بس اینجانب او ملګري پاتې دي.

ketabton.com - The Digital Library

ځوان په زړه کې وویل:

تا خو به نن ښه ځوروم او بیا به تاته ډوډۍ راوړم.

نو یې ورته وویل:

یاره! ډوډۍ خو خلاصه سوه، خالي لاس وهونکې وریژې پاتې دي!

عبدالجلیل ځوان پرېښود او مخامخ د پخوونکي خواته ورغی، ورته ویې ویل:

دې ګبر زو! ریښتیا ډوډۍ خلاصه سوې ده؟

پخوونکي ته خدای په لاس ورکړه، ځو عبدالجلیل وځوروي، نو ورته ویې ویل:

اوو کنه! خو دا لاس ویونې وریژې پاتې دي، که بیا هم ته وایې، نورې به درته پخې کم، خو د شپې تر دوولسو بجو پورې به صبر کوې.

عبدالجلیل په غوصناکه لهجه وویل:

نه امدا لاس ویونکې را واچوه، دې ګبر زو سړی خو مېلمنو ته څه پرېږدي، تر دولسو بجو ځوک کېني، د شپې چاپه ده، نو زر یې تیار که.

ketabton.com - The Digital Library

پخوؤنکي ځوان ته په کرار وويل:

دسې خبرې کوي، ته به وايې ځې علم غيب لري او يا يې د شپې په خوب کې ليدلي وي.

خو پخوؤنکی په دې بختور وؤ، چې په دې شېبه کې عبدالجليل ترې تللی وؤ، له دېگ نه يې تازه وريژې راووېستې او عبدالجليل او د هغه ملګرو ته يې واستولې او بيا له يوه کس سره له دې کلي نه د ښار په لوري لاړ.

ځوان تر ماښامه په کار لګيا وؤ او ماښام د دې لپاره چې ډېر ستړی وؤ، لاړ او کرار څملاسته، دا چې وختي څملاسته، سهار درې بجې يې سترګې لوځې شوې وې، کابو ځلور بجې به وې چې دوه ژيړې رڼاوې چې رڼا يې لږه وه، کوټې ته راننوتې، لږ وروسته دوه نورې هم راننوتې، بيا غږ شو چې:

بخبزين شوریٰ اس! (پورته شئ چې شوریٰ ده).

ځوان چې هرڅه ځان تېروېسته، خو بيا هم هغوئ پرېښودونکي نه وؤ، ټول يې پاځول، ځوان به د شپې له خوا کميس وېسته او يوازې په يوې زېرپېرانۍ کې به ويده کېده، ژر يې کميس واغوسته او له سرتېرو سره دباندې ووت، له دوئ سره د ملي پوځ يو پخوانی سرتېری هم په کوټه کې پروت وؤ، کله چې دوئ په لاره کې يوې ژورې ته ورسېدل په دې کې د ملي پوځ پخواني سرتېري وويل:

ketabton.com - The Digital Library

ورنبو! دا تاسې د کومې قیطې یئ؟

خو سرتېرو د ځواب په ځای لغته ورکړه، چې د دې لغې له امله د ملي پوځ پخواني سرتېري څو لټونه وخوړل، بیا سرتېرو ورته وویل:

چپ باش و آرام برو ده رایت (غلی اوسه! او کرار دې په لاره څه).

ځوان، سرتېري او نور کسان هغه ځای ته ورسېدل چې هلته د سرتېرو موټر ولاړ ول، هلته یې ټول کښېنول، ځوان له خپل ساده نوکیا مبائل نه مېموري کار ووېسته، او په خوله کې یې کېښوده، په همدې کې یوه سرتېري ځوان ته اشاره وکړه، چې راځه، ځوان هم پاڅېده او کوم لوري ته چې سرتېري ګوته نیولې وه، هغه لوري ته ورغی، هلته په هایلکس موټر کې یو کس په شا سیټ کې ناست وؤ، چې کېدای شي بهرنی به وؤ، او په مخکې سیټ کې د سرتېرو مشر ناست وؤ، له ځوان یې پوښتنه وکړه:

څه نومېږې؟

ځوان یې په ځواب کې وویل:

محمد خان سلطان.

د سرتېرو مشر وویل:

څه کار کوې؟

ځوان په پسته لهجه وویل:

ketabton.com - The Digital Library

هيڅ محصل يم!

د سرتېرو مشر وويل:

څه او په کوم ځي کې؟

ځوان په داسې حال کې چې سړو نه يې غابښونه رېږدېدل وويل:

سياسي علوم وايم په يوه خصوصي پوهنتون کې!

د سرتېرو مشر بيا وپوښتل:

نن په واده کې طالبان څو کسه وؤ؟

ځوان په وېرېدلي حالت کې وويل:

اته نهه کسه! به وؤ.

د سرتېرو مشر بيا پوښتنه وکړه:

نو طالبان اوس کومې خواته تللي دي؟

ځوان وارخطا شو په وارخطايي کې يې وويل:

نه پوهېږم، تاسې له ما ډېر پوهېږئ.

د سرتېرو مشر په غوصه وويل:

دي تا دې ښځه طلاق وي څې نه پوهېږې؟

ځوان د ډېرې وارخطايۍ له امله وويل:

ketabton.com - The Digital Library

زه ښځه نه لرم قومندان صيب!

د سرتېرو مشر په لاډېرې غوصې سره لومړی څو سوکان او لغتې ورواچولې، بيا يې د مخابرې د انتن وارونه پرې وکړل او بيا يې ترې وپوښتل:

راتونکې ښځه دې طلاق وي، ووايه جليل په کومې لارې لاړه.

ځوان خپله پوزه وکته، چې وينې شوې خو به نه وي او بيا يې له غوصې غوښتل چې دې قوماندان ته کښېنځلې وکړي، خو فکر يې شو چې د اسلام له نظره په ايمان او طلاق باندې قسم کول ريښتيني دي، يعنې که چېرې ځوان ښځه لرلې وای او دلته يې د قوماندان قسم منلی وای سره له دې چې دی د عبدالجليل آخوند په ريښتينې پتې نه پوهېده او نه يې خوا نه خبر وؤ، خو بيا هم که ده ويلې وای چې زما ښځه دې طلاق وي چې ما نه دی ليدلی او نه يې له خوا خبر يم، نو بيا يې هم ښځه طلاقېده او ځوان کله منلی شوای چې د ښځې غوندې خوږه مېوه، مخکې تر لاسته راوړلو له لاسه ورکړي، نو يې لږ سوچ وکړ، بيا يې له ځان سره جوړ کړل چې اوس به د خپلې غوصې زور له تانه باسم او تا به داسې غوصه کوم چې په ژوند کې دې نه وي ليدلې، نو يې وويل:

زموږ په قانون کې داسې قسم نه شته.

قوماندان له ډېرې غوصې نه ورته ويل:

ketabton.com - The Digital Library

وبه ګورې څې له پوهنتونه دې باسم که نه، د بغلان خره او پوهنتون!

او بیا یې یوه سرتېرې ته وویل:

اې احمق ام ببرین! (دا کم عقل هم بوځئ).

لږ مزل یې وکړ، بیا په لاره کې یوه بل سرتېرې ځوان ته وویل:

کدام مشکل خو نداري! (کومه ستونزه خو نه لرې).

ځوان چې په دې فکر کې وؤ، چې غم کې خو تللی یې نو یې ورته وویل:

مشکل کلانتر از شما چه بوده مېتانه؟ (تر تاسو به بله کومه لویه ستونزه وي؟)

هغه یې په ځواب کې هېڅ ونه ویل، یوازې یوه مصلیٰ (جاینماز) یې ور په اوږه کړ او بیا یې د تلو ورته وویل، ځوان یوه ځای ته ورسېده، چې هلته ډېر نور کسان یعنې نور کلیوال یې هم ناست ول. د چا په اوږې نوي څادرونه پراته ول او د چا په اوږې نوې مصلیٰ، خو ټول له سرو نه رېږدېدل، داسې رېږدېدل چې غاښونو یې ټکا کوله.

لږ وروسته قومندان راغی، خبرې یې پیل کړې، ډېرې خبرې یې وکړې، خو یوه خبره یې وکړه چې له هغې سره یې کلیوال غوصه کړل او هغه دا چې ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

تاسې څومره بې غیرته خلک یئ. اووه اته طالبان راغلي او د تاسو په کلي کې ارڅه (هرڅه) کیي (کوي).

دا خبره یې په کلیوالو بده ولګېده او یوه کلیوال وویل:

بې غیرته بې ناموسه په دې خبره! ته څنګه وایې څې هرڅه کوي، هرڅه یې پلار ام نه سي کولای، څې څه شریت (شریعت) خلاف یو کار ام وکي، په غره به یې لرګی ورومنډو.

قومندان وویل:

دا درې څلور کسه عسکر څې دې تاسې کلیوال ام ول مړه یې کړل.

هغه سپین ږیري وویل:

اغوئ (هغوئ) څه غره ورکوله چې اسکري ته ام تلل او بیا ښه پویېدل څې دلته طالبان دي او دلته ام راتلل.

سرتېري له کلیوال سره له ډېرو دلایلو او لانجو وروسته ولاړل او څلور کسه چې درې یې نوي له پېښور نه راغلي وؤ او څلورم یې د کلي د ملا زوی وؤ له ځان سره بوتلل او دوه ورځې وروسته ځوان له کلي نه بېرته کابل ښار ته راستون شو.

*****

یوه ورځ ځوان ناڅاپي د رئیس خان کور ته لاړ چې څه ګوري، ګلپاڼه هم راغلې ده. له ورېنداري نه یې پوښتنه وکړه:

ketabton.com - The Digital Library

وربندارې خیرت خو ده؟

هغې په موسکا وویل:

د ګل پاڼې واده نېژدې ده، مېلمستیا مې ورته کړې ده، ریښتیا تا څنګه لاره غلطه کړه؟

ځوان داسې احساس لاره لکه په زړه یې چې اور بل وي. وربندار ته څه پلمه وکړه او بیا په کومه د رئیس خان له کور نه ووت، په لاره کې یوې نجلۍ زنګ ورته راوواهه، دې نجلۍ هر وخت ځوان ته زنګ واهه، خو ځوان ترې غوښتل چې ځان ور وپېژني، بلخوا به هغې یوه او بله پلمه کوله، خو دا ځل ځوان په ډېرې غصې ځواب ورکړ:

بلې ډمې څه وایې او څه غواړې؟

هغې په پسته لهجه وویل:

سلام! ولې غوصه یې او چېرته یې؟

ځوان یې په ځواب کې له درده ډکه لهجه باندې وویل:

په قبر کې یم، چې ځان نه راپېژنې، نو بیا ولې زنګ را وهې؟

هغې په آرامه وویل:

نوم مې فاطمه ده!

ځوان لږ د غوصې له زوره راکښته شو او ویې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

نور راته ووایه، د چا لور یې او کور مو چېرته ده؟

هغې بیا په کرار او حوصلې سره وویل:

نور بیا درته وایم، خو بیا راته د ځان د مرګ او قبر په باره کې خبرې مه کوه!

ځوان یې په ځواب کې وویل:

سمه ده ورکه سه او بیا زنګ ونه وهې!

بیا یې نو اړیکه پرې کړه او مخامخ پوهنتون ته لاړه، هلته په انټرنټ کې ی د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون پاڼه راواړوله، خپلې نمرې یې وکتلې، د پوهنې وزارت یوه بست ته کامیاب شوی وؤ.

سبا سهار اووه بجې له کوره ووت، د پوهنې وزارت بشري سرچینو ریاست ته ولاړ، هلته یې خپل نوم په لېست کې وکوت، بیا یې د اړوند مدیریت پوښتنه وکړه، هغه یوې ښځې ته ګوته ونیوله، ځوان هغې خواته ورغی، هغې یو مکتوب ورکړ او لاسلیک یې ترې واخیست، بیا یې لارښؤنه ورته وکړه ځوان ه خپل کارونه مخکې یوړل او خپله دنده یې ترلاسه کړه، د بانک کارت یې هم جوړ کړ.

ځوان له ټولو ګناهونو نه توبه وېستلې وه، خو دوه ګناوې یې پاتې وې، یوه یې د پان یا نصوار او سیګرېټو کارول وؤ او بل یې له

ketabton.com - The Digital Library

نامحرمې نجلۍ سره (فاطمه نومې نجلۍ سره) خبرې کول وؤ، نصوار او سریګرېټو پرېښودو ډېره هڅه یې وکړه، خو دا درې څیزه د ده پرېښودو ته حاضر نه وؤ، پاتې شوه د نجلۍ خبره بیا لږ څه جلا وه او هغه دا چې ده نه غوښتل د ده ځای بل څوک ډک کړي، ځکه هلکانو سره د نجونو خبرې کول د دې لامل ګرځي، چې کرار کرار هغوئ یو بل ته نږدې شي او په پای کې د څو ځلې زنا ښکار شي، نو همدا لامل وؤ چې دی یې د دې ګناه نه د توبې له وېستو راګرځاوه، خو په پای کې یې یوه پرېکړه وکړه او هغه دا چې زه ولې د دې لپاره ځان ګناهکار کړم، چې بل ګناهکار نه شی، نو همدا لامل وؤ چې ځوان یې دې ته اړ شو فاطمه نومې نجلۍ ته پلمه وکړي او نور یې اړیکې ځواب نه کړي او هغه پلمه دا وه چې یوه ورځ فاطمې اړیکه ونیوله، ورځ څه د شپې دولس بجې وې، ځوان هم ځواب کړه، فاطمې وویل:

سلام! څنګه یې؟

ځوان سم د واره وویل:

ځان سم را پېژنې او که نه؟

فاطمې وویل:

نه ځان نه درپېژنم، اصلاً ته ولې دومره شله یې؟

ځوان په ډېرې حوصلې سره وویل:

ketabton.com - The Digital Library

څو ورځې مخکې مې درته وويل چې زما د مينې واده ده، ريښتيا مې ويلي ول، اوس يا ځان را وپېژنه او يا زنګ قطع کوم او بيا نه درته زنګ وهم او نه هم ستا زنګ اوکې کوم.

فاطمې په مسخرې سره وويل:

ښه نوس تا د مينې، ستا د ګل واده ام تېر سو، نو يوه پوښتنه ستا د ګل نوم څه وؤ؟؟؟

ځوان په لنډه وويل:

ګل!

فاطمې بيا په مسخرې وويل:

دروغزنه (دروغجنه)! ګل نوم خو ما په ټول افغانستان کې نه ده اورېدلی! هه!

ځوان په کرار وويل:

ګل ده! خو پوهېږې به چې ګل پاڼې، ريښتې، ډډه، ښه، څانګې، ونې او نور هم لري.

فاطمې وويل:

ښه نو دسې! په ريښتيا ځې لېونی يې!

ځوان يې په ځواب کې په خندا وويل:

ketabton.com - The Digital Library

لېونی خو یم، خو که ځان راوپېژنې نو یوه ګټه کوې او هغه دا چې مور مې درلېږم چې ودې ګورې، که یې خوښه شوې او پلار دې راکړې، نو زه به دې مېړه شم.

فاطمې په عجیب انداز کې وویل:

فکر نه کوم چې دا دې ګټه وي، کېدای شي زیان وي او زه نه غواړم چې زیان وکړم.

سره له دې چې ځوان په دې خبرې کې رېښتونی وؤ، خو لکه چې دا خبره په فاطمې ښه نه ولګېدلې، ځکه ځوان په ناغوښتلې ډول ځان د ګټې لامل ورپېژندلای وؤ.

که ځان راوپېژنې نو یوه ګټه کوې، خو ځوان په دې وخت کې دې ته پام نه شو، وروسته له ډېرو ورځو یې پام شو، خو وخت تېر وؤ، دې وخت کې ځوان وویل:

نو چې ته ځان نه راپېژنې، د خدای په امان.

*****

یوه ورځ ځوان ته په دنده کې ستونزه پیدا شوه او دا ستونزه د دې لامل شوه چې ښارنوالۍ ته ور وپېژندل شي او په دې سره یې نه یوازې دا چې دنده له لاسه ورکړه، بلکې له دندې سره د سزا وړ هم وګرځېده، او هم دا لامل شو چې محمدخان پایښې بډ وهلې او مخ په

ketabton.com - The Digital Library

کلي وتښتېده، دا چې کلی یې د طالبانو په واک کې وؤ، نو حکومت نه شو کولای هغه ونیسي.

خو یوه خبره بله په کلي کې وه او هغه دا چې ځوان ولیدل چې د طالبانو ځینې وګړي، له هغو خلکو سره بده رویه کوي، کوم چې له ښار نه کلي ته ورځي او داسې دوه کیسې په خپله ځوان تېرې شوې وې.

لومړۍ کیسه یې داسې وه:

ځوان غوښتل خپل کلي ته ولاړ شي، په لاره کې د طالبانو یو قومندان ګوتي د دوئ موټر ودراوه، ځوان ته یې وویل:

له کوم جي (ځای) نه رالې (راغلې)؟

ځوان په موسکا کې ورته وویل:

له کابل نه؟

طالب قومندان ګوتي وویل:

څه کار که یې (کوې)؟

ځوان په ډاډ سره وویل:

پخوا مې د برق سامان دوکان ؤ، اوس بېکاره یم.

طالب قمندان ګوتي وویل:

ketabton.com - The Digital Library

دا خو دي انسان عقل نه مني، ځي ځوان دې وي او بيا دې بېکاره وي، سترګې دې دولتيانو ته ورته کېږي؟

ځوان له خندا شين سوو له لږې موسکا نه وروسته يې طالب قومندان ګوتهي ته وويل:

نو اوس دې له سترګو پېژندل شروع کړي دي؟ ماشاء الله ماشاء الله!

موټر چلونکي چې وليدل خبره په خرابېدوه ده،د دواړو خبرې يې وپرې کړې او په بېړه يې وويل:

ګرانه! زه يې ضمانت کوم ځې په هېڅ شي کې نه ده.

طالب قومندان ګوتهي هم موټر چلوؤنکي ته د تلو وويل او دا خبره همدلته پای ته ورسېده.

بله پېښه بيا دا وه چې يوه ورځ ځوان له يوې جنازې سره کلي ته لاړه، په لاره کې يو دوه طالبان د جنازې موټر او نور موټر ودرول، خلک يې وځورول، نه يې د تورسرو (مېرمنو) پروا وکړه او نه سپين ږيرو، چې دا پېښه يې هم په زړه کې پاتې وه، چې همدا دوه پېښې د دې لامل کېدې کوم چې طالبانو نه څخه کرکه وکړي، خو يوازې دا پېښې نه وې، بلکې د طالبانو په اړه يې له خلکو نه هم ډېرې خبرې اورېدلې وې.

ketabton.com - The Digital Library

خو یوه ورځ داسې هم راغله چې د ځوان ټوله کرکه یې له منځه یوړه او هغه داسې چې کله ځوان په کلي کې اوسېده، یوه ورځ د طالبانو والي د دوئ کلي ته راغی او د ځوان په لیدو یې په ځوان باندې سترګې وګنډلې او سمدلاسه یې یوه کس ته په پټه وویل:

د دې زلمي په اړه له سیمه ایزو طالبانو معلومات واخله او هغه هم تفصیلي!

شپېه وروسته ولسوال، والي ګوښې ته کړ او ورته ویې ویل:

محمد خان نومېږي، د همدې کلي ده، په سیاسي علومو کې لیسانس لري، له مجاهدینو سره یې ډېره مینه وه، خو بعضې حادثو له مجاهدینو خوابدی کړی او دا څو میاشتې له دولت نه فراري ده او دلته اوسي.

والي د اولسوال د خبرو په اورېدو په سوچ کې ولاړ، بېرته ځوان ته راوګرځېده، په ټوکه یې ورته وویل:

تاته چا ویل څې رشونه ډک دولت کې رشوت مه اخله؟ څې دسې که یې دا به دې نصیب وي.

ځوان په خشکه ورته وویل:

زه رشوت مشوت لپاره دولت ته نه وم ورغلی، یوازې د یوې مړې ډوډۍ لپاره ورغلی وم.

ketabton.com - The Digital Library

والي په موسکا وويل:

ولې غوصه يې؟ او څه پيکر کوې د کابل ادارې پيسې حلالې دي، سره له دې چې له حربي کوپارو يې اخلي؟

ځوان حيران غوندې شو، په کرار يې وويل:

ما هم همداسې فکر کاوه، خو...

والي يې خبره ورپرې کړه، ويې پوښتل:

خو په مجاهدينو کې ام اهل کم دي او نا اهله ډېر دي، غوښتل دې امدا ووايې؟

ځوان په بېړه وويل:

هو! همدا مې ويل.

والي خپلې تسبيح جيب ته واچولې او په خندا کې يې وويل:

نو سم سړی پيدا کول هم آسانه کار نه ده څه وکو؟

ځوان غلی پاتې شو، خو والي له ځوان داسې پوښتنه وکړه:

دې موږ استخباراتو راته ويلي څې ته له طالبانو سره مينه لرې او دولت نه کرکه، دا دولت څې استېمار (ښکېلاک) زېږولی غير اسلامي ده، ماش يې ارام (حرام) بولې؟

ځوان له لنډې چوپتيا وروسته په کراره او په ټيټ غږ وويل:

ketabton.com - The Digital Library

هو! همداسې ده.

والي په ډاډه وويل:

پوهېږم څې له جهاد سره (سره هم) مينه لرې، خو دا څې عملاً جهاد نه کوې، نو خوسې سنگري به درته ووايم، بل دا څې دي موږ د کوماندو دې آسماني کيتې (قطعې) کومندان الماس اکمل (حقمل) ته دې په باره کې ووايم، څې تام (تا هم) له ځان سره ونيسي!

ځوان بې له دې چې څه ووايي، روان شو او والي هم موسکی شو.

*****

څو ورځې وروسته، دې کلي ته د طالبانو لږ شمېر کسان راغلل، طالبانو د دوئ ډېر قدر کاوه، تر دې کچې چې د دوئ هېڅ خبره به يې په ځمکه نه غورځوله، د دوئ څو ورځې چې ووتې د کلي خلک حيران ول، ځکه دوئ د طالبانولوږ پوړي چارواکي هم نه ول، چې طالبانو يې دومره قدر کولای، نو بيا ولې يې دومره قدر کېده؟

د دې لسو کسانو قومندان ډېر ښکلي څېره، غټه تنه او غټې سترگې لرلې، چې سړی به يې ځان ته راکاږه، دوئ له نورو طالبانو سره دا توپير لاره، چې دوئ د کاليو پر ځای له نظامي دريشۍ نه کار اخيسته او د موټر سايکلو پر ځای يې له موټرو کار اخيسته، هغه هم له هغو هايلکس موټرو نه چې د کابل پليټ به يې لاره او هغه هم منفي

ketabton.com - The Digital Library

لرونکي دولتي پلېټونه، پـه لومړيـو کـې خـو خلکـو د دولتـي سرتېرو فکـر پـرې کـړی وؤ، خـو کلـه يـې چـې وليـدل، طالبـانو سـره يـې نښـتـه رامنځ ته نه شوه، نو سخت حيران شول، تـر دې وروسـتـه خلـک پـه دې شکمن شوي ول چې دولت او طالبان سره جوړ دي، هسې ملت تـه يـې پلمه جوړه کړې ده، خو يوازې ځوان وؤ، چې هېڅ د دې خبرو په کيسه کې نه وؤ، يوازې يې خپلـه شـاعري کولـه او د نـورو شـعرونه او غزلـې يې لوستلې، يـوه ورځ يـې لاندې غـزل شـاعر پـورې خنـدل او هغـه يـې ساده او کم عقل ګاڼه:

**کله چې منصور غوندې په دارشم**

**وزړګيه! زه به هلته په قرار شم**

**چې مې سا وځي له بدنه او بيا تم شي**

**هله د هيواد د خپلواکۍ په انتظار شم**

**چې بيرغ د آزادۍ پورته په وطن شي**

**بيا دې زه ايره شمه انګار شم**

ketabton.com - The Digital Library

**چې په خندا راکړې رخصتونه له جهانه**

**راته وایې هر جهان کې به دې یار شم**

**چې ځوان چغې کړي وطن کې خپلواکي شوه**

**او زه شاکر په دې احسان د کردګار شم**

**ودانه ستا ایمان او آرمان دواړه به پوره شي**

**ستا له غزلو او شعرونو چې آزار شم زه به هلته په قرار شم**

یوازې دا شاعر نه وؤ، چې ځوان به ورپورې خندلؤ، بلکې ډېر داسې شاعران ول، چې ځوان به یې شعرونو پورې خندل، خو بیا عبدالحمن، خوشحال خان ختهک او ځینې نور شاعر ډېر پرې ګران ول، ځوان به ویل:

د دې شعرونو مطلب یوازې د حال او اوسني زمانې نه ده، بلکې د تېرو او راتلونکو زمانو هم ده.

ځوان به ډېرې وختونه دا دوه غزلونه لوستل، لومړی د میوند قرار دا غزل:

**بدرنګ دې کړم غربته آئیینه راپورې خاندي**

ketabton.com - The Digital Library

ته ګوره کنه خدایه زمان راپورې خاندي

ما زوروه تنده وژني ته دا خلک ګوره!

چې ووایمه چرته ده چینه؟ راپورې خاندي

لږ خو د لفظونو جوړولو بې هنره یم

لږ خو د لفظونو فلسفه راپورې خاندي

یاز زه لیونی شوی یم یا دا خلک لېوني دي

د ځان سره چې اخلم ستا نامه راپورې خاندي

ما اورېدلي وؤ اکثر چې خلک دوه رنګه وي

اوس پوه شومه صاحبه چې هغه راپورې خاندي

یو تانه ګیله نه کوم چې ته راپورې خاندې

قراره دغه ټوله مرحله راپورې خاندي

ketabton.com - The Digital Library

دوهم هم د جان آغا زعیم دا غزل وؤ:

**زه شوم د کلي ته د ښار لالیه**

**زه لېونی شوم ته هوښیار لالیه**

**تا له دنیا سره تعلق ونیوه**

**زه له دنیا نه شوم بېزار لالیه**

**ستا جدایي مې تور وېښته سپین کړي**

**ته وایه څنګه شم قرار لالیه**

**ماته خو هغه مقدسه ورځ وي**

**د تورو سترګو د دیدار لالیه**

**سترګې مې سرې وې چې يې ولیدمه**

**ویلې پربېږده دا خُمار لالیه**

ketabton.com - The Digital Library

**زعیمه ته مې د ژوندون اسره يې**

**له تانه څنګه شم محار لالیه؟**

یوه ورځ ځوان د غره په لمن کې په یوه تیږه ناست وؤ، چې له شانه یې د ټوخي غږ واورېده. ناڅاپه یې شاته وکتل، د پي پي اس (د ولسمشر ساتونکې ډلې) د غړو په دریشۍ کې هلوړ او ښکلی ځوان وؤ. محمدخان غوښتل چې څه ووایي، خو مخکې تر دې چې خوله خلاصه کړي، هغه بل وویل:

غږ دې چنداني (خوندور) نه ده، خو ترنم دې په زړه باندې خوله لګوي. السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! الماس یم.

ځوان په موسکا وویل:

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته! نو هغه نامتو الماس حقمل ته يې؟

الماس په ټوکه وویل:

دي چیشي مشهور، دا څو ورځې کېږي دي تاسو کلي ته راغلی یم، خو څوک مې نه پېژني او ته راته مشهور وایې؟

ځوان تر څو شېبو غلی وؤ، بیا یې په کرار وویل:

ketabton.com - The Digital Library

چې بخیل نه وي د لوګر نه ده او چې پوګ نه وي د پنجشېر نه ده، دا متل دې نه ده اورېدلی.

الماس په خندا شو، لږ شېبه یې خندل او بیا یې د ځوان په اوږه لاس کېښوده او ویې ویل:

فکر نه کوم داسې دې وي!

ځوان په موسکا وویل:

ته یې مه ګڼه، خو همداسې ده.

الماس بې پروا غوندې وویل:

له تانه مې غزلونه واورېدل، اوس یې له ما واوره:

**رانه اخیستی چې نن یار تصویر دی**

**دا مې د ژوند د انتظار تصویر دی**

**زه دې تصویر ته فکر وړې یمه**

**دا اوس د تا که د چینار تصویر دی**

**ولې هیڅوک په چا باور نه کوي**

**ولې د هر سړي پکار تصویر دی**

ketabton.com - The Digital Library

**ورانې ويجاړې د باروتو لوګي**

**دا مو د کلي او د ښار تصوير دی**

**اوښکې غربت بې انتها بې وسي**

**همدا زمونږه د روزګار تصويردی**

**هغه ته زما د درد احساس وشولو**

**راته لېږلی يې يادګار تصوير دی**

ځوان وويل:

ما وې چې د نجونو شعرونه به مجاهدين نه خوښوي او نه به يې ورسره جوړه وي، تا خو بلا وکړه داسې شعر دې هم په يادو ياد ده، دا نو بيا د چا شعر ده؟

الماس په پوښتونکي نظر ځوان ته وکتل او بيا يې وويل:

ولې په دې شعر کې څه دي؟ يوازې د اسماء لمر په نامه د يوې نجلۍ شعر ده او بس!

ځوان په خندا کې ورته وويل:

ketabton.com - The Digital Library

هېڅ خو دا چې وايي:

**ولې هيڅوک په چا باور نه کوي**

**ولې د هر سړي پکار تصوير دی**

له دې بيت نه يې داسې ښکاري لکه دې چې له کوم چاسره فسبوکي او يا نور آنلاين يارانه پيل کړې وي او بيا هغه ترې نه انځور غوښتی او دې هم دا ګيله په غزل کې ترېنه کړې وي.

په دې خبره الماس ته زوروره خندا ورغله، تر ډېره يې وخندل او بيا يې ځوان ته وويل:

زما ورسره يارانه وه، څې کله مې تصوير ترې نه وغوښت نو يارانه هم خلاصه سوه او دا دی په غزل کې يې هم ګيله کړې ده.

ځوان په تعجب سره ترې وپوښتل:

رېښتيا وايې؟

الماس وويل:

نه يار! ټوکې مې کولې، هسې نه موږ له ښاري نجونو سره جوړ يو او نه ښاري نجونې له موږ سره، ښه زه نور درنه ځمه خوشې سنګري! د الله په امان!

ketabton.com - The Digital Library

ځوان په مخه دې ښه شه ورته وویل او بیا د سوچونو او فکرونو نړۍ ته لاړ او ریښتینې نړۍ ترې هېره شوه، تر ډېره د خپلې مینې په اړه فکر کولو او کله کله به یې فکر د طالبانو د عادي وګړو او د آسماني قطعې خواته هم لاړه. د دوئ تر منځ څومره توپیر شتون لري. عادي طالبانو کې سره له دې چې پینځو اربکیانو ته د ټینګې نه دي، څومره بد اخلاقه شتون لري، خو آسماني قطعه بیا سره له دومره ځواکه څومره اخلاقمن دي!

تر دې وروسته به هره ورځ ځوان دلته کېناسته، یوه ورځ ځوان هلته ناست وؤ، چې یوه کوچۍ نجلۍ په رمه پسې روانه وه، نجلۍ څه چې سمه ښاپېرۍ وه، خو خیر زه به یې دلته په نجلۍ یادوم، د ده تر مخ تېرېده، ناڅاپه نرۍ نسیم په تېز باد بدل شو، له کوچۍ نه یې لوپټه له ځانه سره واخیسته او په څغاسته د غره پر خوا لاړ، ځوان هم چې سترګې یې لا له مخکې د کوچۍ خواته نیولې وې، د کوچۍ بې سارې ښکلا حیران کړ، په زړه یې نرۍ څړیکه راغله، خو دې څړیکې ځانګړی خوند لاره، ژر یې ټیکري ته پام شو، منډه یې واخیسته، سره له دې چې څو ځلې یې درب هم وخوړ، خو ځان یې تر ټیکري ورساوه، ټیکری یې راواخیسته او بېرته په منډه کوچۍ ته راورسېده، کوچۍ په موسکا ورته وویل:

کرار به تللی وې، څې نه وای غورځېدلی، لکه څې زوبل سوې، کوم جای خو به دې نه خوږېږي.

ketabton.com - The Digital Library

ځوان په ټيټ غږ وويل:

يوځای خو مې خوږېږي، خو...

نجلۍ ورته وويل:

څه دې ويلې پوه نه سومه!

ځوان په بېړه وويل:

هسې ما ويل دلته نوي راغلي ياست، مخکې تر دې خو مې دلته نه وې ليدلې!

نجلۍ حرکت وکړ او په تلو تلو کې يې وويل:

وؤ (هو) نوي راغلي يو، دي زرداد خور يم، زه لاړم څې څوک مې له تاسره يو جای ونه ګوري.

ځوان بېرته خپل کاڼي ته راستون شو او په ترنم کې يې د شاعرې سولې ژوند دا غزل پيل کړ:

**په تا مړه نه يم ژوندۍ يمه هلکه**

**اوس هوښياره شان نجلۍ يمه هلکه**

**او د مينې اور دې لا سوچه کړمه سره زريمه**

**ستا په لاس د سرو ګوتمۍ يمه هلکه**

ketabton.com - The Digital Library

که د وصل شات مې غواړې نو چیچل به

د بېتلون زغمې مچۍ یمه هلکه

دا چې خومره زه په ملا یم لکه لښته

په زړه هم دومره شان نرۍ یمه هلکه

ستا د برخې له تیارو خال او رانجه را

تورو شپوکې دې سپوږمۍ یمه هلکه

منم ته مې اوله مینه نه یې

غواړم تاته هم وروستۍ یمه هلکه

ها د څوارلسو کلو نادانه (سوله)

اوس هم هاغه لېونۍ یمه هلکه

سوله ((ژوند))

ketabton.com - The Digital Library

ځوان په څو شېبو کې څو ځلې دا شعر ترنم کړ، چې په دې کې يې د تولې غږ واورېده، ژر يې شاته وکتل، الماس وؤ په خندا يې وويل:

تر اوسه مې د سولې په نامه شاعره نه ليدلې، ياني (يعنې) د سولې په نامه د کومې شاعرې شعر نه ده ليدلی، دا شعر خو به تا نه وي ويلی؟

ځوان له غوصې نه سور شو، الماس ته يې په زوره له غوصې وويل:

ما ويلی، ولې ته پکې څه ستونزه لرې؟

الماس خپلې ټوکې ته دوام ورکړ او ويې ويل:

نه! خو ډارېږم څې کرار دې، خوی د جينکو نه سي.

ځوان نور هم غوصې پسې واخيست او ويې ويل:

ولې هلکانو! څه کشمير فتح کړی، چې تا په جينکو پسې را اخيستې؟

الماس پوه شو، چې د ځوان ټايمېنګ شاټ ده، نو يې په کرار وويل:

ketabton.com - The Digital Library

دا خبرې پرېږده! دا وايه څې کله دې زړه بايله؟ خو پام کوه د زرداد خور ده! دا لکه ستا د شعر شاعرې غوندې مسته نه ده، بلـه دا څې زرداد خطرناک انسان ده.

ځوان ناڅاپه وويل:

د زرداد فريادي خور ده که څه؟

الماس ورته موسکی شو، ويې ويل:

نه د زرداد سلطانخېل، تکړه مجاهد ده! که غـواړې ريبـاري (مرکې) ته ورتلای شم، څې تاته يې وغواړم.

ځوان د نه په مانا سر ورته وخوځاوه او ترې روان شو.

*****

سبا سهار وختي ځوان کانې ته ځان ورساوه، هلته يې لرغکه راواخيسته، د کور شمېرې ته يې زنګ وواهه، مور يې پورته کړ، ځوان له روغبړ او احوال وروسته د خپلې کړې مينې يادونه ورته وکړه او بيا يې مرکې په اړه ورته وويل:

غم مه کوه! زه به سبا سبايي وختي ارکت دروکم، يا ولې سبا امدا (همدا) نن ارکت درکوم، غـواړم څې وګورم کومه جيلکۍ څې ديما دي زوی خوښه سوې څنګه ده.

ځوان ورو شان وويل:

ketabton.com - The Digital Library

او که خوښه دې نه سوه بیا؟

ځې دې تا خوښه وي، زه اوصیله (حوصله) ورته کوم خیر ده.

نږدې مازدیګر مهال وؤ چې د ځوان مور بې بې راورسېده، ځوان کلکه سترې مه شې ورسره وکړه، ځکه له یوې خوا یې ډېر وخت وروسته ولیده او له بلې خوا یې مور ډېره پرې ګرانه وه، دومره چې د دوؤ میاشتو نه لیدل ورته داسې ښکارېدل، لکه چې په خبرو تېره کړه. سهار هم ځوان او مور یې لمونځ وکړ او بیا ځوان ویده شو، خو مور یې غوره وبلله چې د زرداد دوئ کورته ولاړه شي، هم به نجلۍ وګوري او هم به د مرکې په اړه به د هغې له مور سره وغږېږي، نو ځکه خو چې ځنګه ځوان ویده شو، مور یې بې له دې چې ځوان ته څه ووایي، د سهار چای لپاره د زرداد دوئ کورته ولاړه، هلته په ورننوتو سره، یو جګ او هډور زلمی له کوره راووت، دا ځوان زرداد وؤ، له شانه پسې غږ راغی:

لالا! نن رمه ته وځروه، زه مې مور سره کار کوم.

زرداد یې په ځواب کې په زوره وویل:

سه یې ده! یو وار کومندان ته ورځم، بیا راځم.

په دې وخت کې د ځوان مور د هغوئ د کور انګړ ته ورننوته، چې ځنګه یې په نجلۍ سترګې ولګېدې، حیرانه شوه، ډېر بېحده ښکلا یې احساس کړه، دې ښکلا له نورو ښکلاوؤ سره ډېر توپیر

ketabton.com - The Digital Library

لاره. په ټلويزيون کې تر ټولو ښکلې نجونه هم اتيا سلنه د سينګار په زور ښکلې وي، خو دا نجلۍ بيا د کور په خيرنو جامو کې او هغه هم د کوچانو جامو کې ځومره ښايسته او معصومه برېښېده، د دې هاغه خبره ورپه زړه شوه، چې ويل به يې لکه د فلمونو نجونو غوندې، زما د هيواد بدرنګې نجونه هم د سينګار په زور د فلمونو تر ښايسته نجونو ډېرې ښايسته ښکاري، نو د دې نجلۍ په ليدو سمدلاسه د خيالونو نړۍ ته لاړه، هلته يې همدا کوچۍ د ناوې په سپينو جامو کې د خپل زوی تر څنګ ولاړه وليده، داسې ښکلې او معصومه برېښېده چې د جنت حورې لا څه کوې، ښکلا هم بخيلي ورسره کوله. ښکلا بس همدا ويل، خدای دې ژر مړه کړه چې ستا په شتون کې څوک ماته راګوري هم نه، خو دا خيالي نړۍ د دې نجلۍ په سلام ړنګه شوه او ريښتيني نړۍ ته راغله، سمدلاسه يې هغې کوټې ته بوتله چې د نجلۍ مور ناسته وه، هغه هم راپاځېده، د ځوان له مور سره يې ستړې مشې وکړه، بيا دواړه کېناستې، د ځوان مور وويل:

خورې سړی خو به دې کور کې نه وي؟

ځانګې وويل:

نه دی (مېړه مې) څې سار جمې ته لاړ سي، بيا تر ناوخته جومات کې ذکر کوي، لا په جومات کې ده، ملا ده ماشاءالله.

ketabton.com - The Digital Library

بي بي هم كرار كرار اصلي خبرې ته ځان جوړ كړ، لكه نور يې چې د خبرو بېځايه اوږدول نه غوښتل، نو لنډه په لنډه يې ورته وويل:

ماشاء الله! لور دې ډېر ښايسته ده، ډېره هوښياره هم ښكاري، خپل زوی ته يې درنه غواړم او كه يې رانه كې درنه خپه كېږم.

ځانګې ورته وويل:

نه خورې خدای دې مه خپه كوه، دې ما بيا ته خوښه سوې، زه به بېګاه له ده سره خبرې وكم.

تر دې خبرو وروسته د ځوان مور هم روخصت ترې واخيست او بيا مخامخ د كور لورې ته راغله، چې كورته راورسېده ويې كتل، چې زوی يې لا ويده ده، ژر يې خپلې لور ليلیٰ ته غږ وكړ:

موسكا لورې و و موسكا لورې! چې ام چيكلی (ښنبلی) كه نه؟

موسكا په بېړه ورغږ كړل:

اومورجانې، خو لالا مې ويده ده، لا يې نه ده چيكلی!

د ځوان مور په بېړه د ځوان ښنګ ته ورغله، ځوان چې ښنګه د مور غږ واورېده، په خپل ځای كېناسته او مور ته يې سلام واچاوه، مور يې د سلام ځوابولو وروسته سمدستي په ټوكه وويل:

زويه! ما خو آغه (هغه) جيلكې (نجلۍ) وليده، ډېره بدرنګه او بدشكله وه، نه پويېږم (پوهېږم) ښې ته د آغې (هغې) په كوم جي مئين

ketabton.com - The Digital Library

سوي يې؟ که د مجنون او ليلیٰ کيسه ده؟ يو خو بد رنګه ده او بله کوچې ده، زه خو وايم څې له دې جيلکۍ نه به تېر سو، کوچان ولاکه چندانې خلک وي، که ښنګه؟

ځوان په ناهيلۍ وويل:

سمه ده مورجانکې! ښنګه چې ستا خوښه وي.

ځوان ناهيلی پاڅېده، پخلنځي ته لاړه، چې ګوري، مور يې چای ورته تيار کړی ده، چای وڅښه او له کوره ووت، د کروندو په خوا وخوځېده، هلته د کلي له زلميانو سره کېناسته، هغوئ ټوکې کولې، خو ځوان ته يې هېڅ خوند نه ورکاوه، يو ساعت يې د هغوئ خبرې وزغملې، خو آخر ستړی شو، له دوئ نه پاڅېده، د سيند غاړې ته لاړ، هلته يې هم همداسې حال وؤ، د سيند سندرې او غږ هم نور خوږ نه وؤ، خو يوازې دومره وؤ چې زغمل يې ډېر آسانه کار وؤ، نږدې دوه ساعته هلته هم ناست وؤ، په پای کې يې هلته هم زړه تنګ شو، د کلي جومات ته لاړه، چې الماس وګوري، خو جومات کې هيڅوک هم نه وؤ، يوازې تر ده وروسته يو کليوال، جومات ته راننوت، په ځوان يې سلام واچاوه او نور لاړه او لاوډ سپيکر يې روښانه کړ او په آذان يې پيل وکړ، ځوان هم لاړ اودس يې وکړ، جومات ته ننوت او په سنتو ودرېده، شېبه وروسته يو يو کس راته او سنت لمونځ يې پيلاوه، کله چې ځوان سلام وګرځاوه، د جومات ملا هم راغی او يو کس اقامت ووې او بيا د ملا له الله اکبر سره ټول مقتديان په جمع ودرېدل، تر

ketabton.com - The Digital Library

جمعې وروسته ځوان ته پته ولګېده چې الماس جمعې ته هم نه ده راغلی، ځوان چې لمونځ خلاص کړ، نو مخامخ د خپل کاڼي پر لور وخوځېده، کله چې کاڼي ته ورسېده، هلته څوک نه وو، چوپتیا خوره وه، خو یوازې یو نرۍ شمال په خواږه غږ خپله تلپاتې سندره غږوله، خو دا سندره د نورو ټولو سندرو په خلاف ځوان ته خوندوره وه. ځوان هم د (خداې وبخښي عبدالله مقري) خبره په سر یې شال نرۍ شمال منګی په لپو ډکوینه. د شال او منګي خواته لاړ او په سوچونو کې یې اړوله را اړوله، چې په دې یې د الماس غږ واورېده، چې په ټوکه یې وویل:

الله تعالیٰ دې د زړه صبر درکړي! څه خبره ده څې په چورتونو کې تللی یې؟

ځوان بې واره وویل:

څورول پرېږده، بس کوم غزل، کومه ټپه کومه سندره ووایه.

الماس په حکیمانه لهجه وویل:

ژوند! د سیند په شان ده، که تیږې پکې نه وي، د اوبو خوند یې هم ځي، په ژوند کې که غم نه وي خالي او فقط خوشحالي د سړي زړه ویي.

ځوان په کراره وویل:

ketabton.com - The Digital Library

دې خبرو پسې مه ګرځه، يو شعر، يو غزل، يا يوه ټپه زمزمه کړه.

الماس هم وويل:

راسره را ټپه شه.

**ورشه د مور خواته دې کېنه**

**چې جهاد نه کړې پګړۍ مه تړه مئينه**

ټپه يې په ځوان لړ بده ولګېده او په ځواب کې يې وويل:

**ته په جهاد باندې مغرور يې**

**دغه غرور به دې خدای ژر رسوا کوينه**

بيا الماس حقمل ورته د ځدراڼ صاحب دا شعر په زمزمه کې راواخيست:

**نه پوهېږم د مئين به څه ژوندون وي**

**د غريب لپاره عمر ځکر خون وي**

**چې د زړه په وينه يار ځان ته پيدا کړي**

**خبر نه وي چې په مينه کې بېلتون وي**

ketabton.com - The Digital Library

**بیا به ټول عمر ګرځېږي ناقراره**

**په ژوندون کې نه آرام او نه سکون وي**

**حال یې بد شي سودایي شي لېونی شي**

**ګراېوان څیرې سر یې ایښي په زنګون وي**

**بې له درده نه نور هېڅ نه مومي ځدرانه**

**مینتوب خو لېونتوب د زړه چاودون وي**

ځدران

ځوان وویل:

په ریښتیا چې ښه شاعر ده او ښه شعر یې هم ویلی، خو زما د فسبوک ملګري ښاغلي وران رحمه الله یو بیت هم واوره:

**دا چې په شعر کې یې شونډې زلفې ښکاري**

**منمه شاعران دي خو کونیان دي**

تر دې وروسته دواړه تر ډېره غلي ناست ول او بیا لاړل.

ketabton.com - The Digital Library

شپې د ځوان د مور پام وؤ، چې د ځوان طبیعت چداني جوړ نه ده، خو ځان یې تېر راوست او هېڅ یې ورته ونه ویل، ځکه غوښتل یې چې په ځوان باندې یو زېری وکړي، دا زېری چې دا ځل خپله معشوقه لاس ته راوړي، په همدې وخت کې د زرداد مور خپل خاوند پادشاه ګل (چې خلکو به پاچاګی باله) ته ټوله کیسه وکړه، هغه تر څه وخته غلی ناست وؤ، بیا یې وویل:

ښه خبره ! آغه دسې څې، دي مورې کوچانو خو ډېر ستړی او ستومانه زوند ده، که جیلکۍ دې آلک (هلک) ته ورکو، نو بیا به دا جیلکۍ په کرار سي او موږ بم (به هم) دې کلي کې خپلوي ولرو، ار کال (هرکال) راتګ به ام آسانه وي.

ښانګې په اند ښمن ډول وویل:

نو بیا خو به زه تنا (یوازې/تنها) سم، په کار کې به څوک کومک (مرسته) راسره که یي؟

پاچاګي په خندا کې وویل:

خو دي دنیا امدا کانون (قانون) څې خپلې لوڼه پردۍ کوي او پردۍ خپلې، موږ بم زرداد ته دي شامتورې لور وکو.

له دې خبرې سره د ښانګې په مخ باندې خوښي له ورایه ښکاریده، خپل مېړه ته یې په هیله من انداز وویل:

ketabton.com - The Digital Library

دي زرداد پلاره! دي شامتورې دوئ کډه چېرته ده؟ که يې تا ايجازه وي، يوار بيا يې ګورم خبره بم ورسره وکم.

پادشاه ګل ورته وويل:

اول دي دې غم وخوره، دي الک او جيلکۍ واده به يو جای وکو.

سبا سهار بي بي د زرداد کورته ورغله، تر مازديګر بي بي کورکې هم څه نه وؤ ويلي، د ماښام تر لمانځه وروسته يې د کور ټول غړي خبر کړل، خو د ځوان خبرېدو کيسه بيا داسې وه، چې ځوان د ماخوستن لمانځه نه وروسته چې څنګه کور ته راغی، حالات عادي ول، يوازې د ده کوچنۍ خور ډېره خوشحاله ښکارېده، د دسترخان په سر يې مور ورته وويل:

څه خبره ده څې دسې تروش ناست يې، د يوې جيلکۍ لپاره دې زه له ياده ووتم او جينکۍ خو لږ نه دي، يوه ډېره ښايسته جيلکۍ به درته پيدا کم.

ځوان په کراره وويل:

څنګه دې چې خوښه وي مورجانکې!

بي بي وويل:

ketabton.com - The Digital Library

یوه جیلکۍ ده پانه نومېږي، آغه مې خوښه سوې ده، نن ورغلې وم، ورته یاده مې کړه او اغوئ (هغوئ) ام راکړه.

چې ویې لیدل ځوان په اند ښنه کې ده او په مخ یې هېڅ خوشحالي نه ښکاري، نو تهوکې یې پرېښودې او اصلي خبرې ته راغله او په خندا یې وویل:

خپه کېږه مه که کوچان هم دي، خو جیلکۍ باسیواده ده، له خپل ورور زرداد نه یې خط زده کړی ده.

ځوان سمدلاسه وویل:

یعنې تا د هغې په اړه خبرې کولې؟ او هغه پانه نومېږي؟

مور یې په موسکا کې ورته وویل:

اوؤ.

ځوان هم نور خوشحاله شو، تهوله ورځ د غره په لمنه کې ناست وؤ، کله به یې شعرونه زمزمه کول، کله به یې ټپې ویلې او کله به هم غلی وؤ، کله به یوازې وؤ او کله هم له الماس حقمل سره. کوژدنې یې کله ناکله دیدن ورور، ځکه کله ناکله به یې چې ورور نه وؤ، نو دا چاره وه چې پخپله رمه وپیایي، خو له محمدخان سره یې له ډېرې حیا نه خبرې هم نه شوې کولای، د هغه سترګو ته خو یې ښېخي نه شو کتلی.

ketabton.com - The Digital Library

*****

ورځې همداسې تېرېدې، ځوان ډېر خوشحاله وؤ، په زړه به يې ګوړې ماتولې، ځکه د ځينو خلکو ليدل هم داسې خوند لري، لکه سمدلاسه چې جنت ته ننوتلی يې، بيا دې ښکلا او په مړه ګېډه ليدل، خو لاڅه کوې چې هيله يې هم ډېر خوندوره وه. خو د ځوان خوښي هغه وخت په اوبو لاه شوه چې کله پاڼه د رمې سره، د هغوئ د څرولو لپاره د غره لمنې ته لاړه او هلته اربکيانو وليده هغوئ غوښتل چې دا نجلۍ له ځان سره پوستې ته بوځي. خو نجلۍ سمدلاسه چغې کړې، له دې سره اربکيان ترې راتاو شول، نجلۍ يې کلکه ونيوله، کالي يې پرې وشلول جنسي تېری يې پرې وکړ او کله يې چې ټوپک پرې راواړوه، چې ويې وژني، ځوان له الماس سره راورسېده، کلکه جګړه ونښته، تر لږ ځنډ وروسته، د آسماني قطعې ټول سرتېري راورسېدل، شېبه وروسته جګړه پای ته رسېدلې وه، د ډېرش کسه اربکيان او د ښکلا يوه ملکه په ځمکه پرته وه، خو دا توپير پکې وؤ، چې نجلۍ کې ساه وه او په اربکيانو کې نه وه. د الماس په امر اربکيانو ته اور واچول شو، ځوان چې له غوصې ډکې سترګې يې نيولې وې، د نجلۍ څنګ ته ورغی، چې د نجلۍ حالت يې وليده په ټنډه يې ورته شونډې کېښودې او بيا يې ورته وويل:

ژاړه مه پاڼې! ستا د جامو د هر يوه تاره بدله به زه پخپله اخلم.

ketabton.com - The Digital Library

له اوږې نه يې څادر راکښته کړ او بيا يې له پاڼې نه راتاو کړ، چې په دې کې الماس راورسېده، په نرمه لهجه يې وويل:

له دې خبرې نه بايد څوک خبر نه شي.

خپل يوه کس ته يې وويل:

موټر راوله!

چې څنګه موټر راورسېده، الماس ځوان ته اشاره وکړه، چې نجلۍ موټر ته پورته کړه، ځوان نجلۍ موټر ته پورته کړه او الماس وويل:

ځوانه! نجلۍ کورته ورسوه او چاته هم د دې خبرې ونه کې!

ځوان پاڼه کورته ورسوله او بيا يې د هغې مور ته وويل:

لېوانو ګېر کړې وه، خو موږ ور ورسېدو او ترې خلاصه مو کړه، خو چاته دا خبره ونه کړئ.

تر دې خبرې وروسته ځوان بېرته په موټر کې کېناسته او مخامخ يې پاڼې ته وکتل چې مور يې تر اوږې لاندې ننوتې وه او خپله بې سيکه لور يې کورته کشوله، نور يې سترګو کې سپينوالی نه ښکارېده، لږ شېبه وروسته يې پام شو چې الماس په وړاندې دی، نو په الماس باندې يې ډېرې چغې ووهلې، ستا کسان نو څه کوي؟ او بيا په ګونډو شو او په غريو کې يې الماس ته وويل:

ketabton.com - The Digital Library

خیر ده! الماسه نور زه هم له تاسو سره ځم. خیر ده! خیر ده!

الماس په کرار ورته وویل:

دي ما ډله له اوله دی تا ډله وه، دا کوم نوی کار نه ده.

دوئ په همدې خبرو لګیا وؤ، چې یو زلمی راغی د الماس تر مخ ودرېده، په وارخطایي یې وویل:

قومندان صیب! جیلکۍ له بامه راولوېده او مړه سوه، ما یې رمه وروستې وه، په خپلو ګناګارو سترګو مې ولیده.

ځوان له غوصې نه شونډې وچیچلې او په خپل ځای و ځرخېده، بې له دې چې څه ووایي، منډه یې کړه او د پانې دوئ کور ته یې ځان ورساوه، جنازه وشوله، خو په جنازې کې دا دوه خبرې کېدې:

محمدخان ډېر شوم وؤ، کوژدن یې مړه سوه او هم دا خبره وه چې سر پرې ګرځېدلی وؤ او کښته رالوېدلې وه.

*****

تر دې وروسته خوشې سنګري، سره له دې چې ډېرو خلکو نصحیت ورته وکړ، خو بیا هم سنګر ته لاړه، کلیوال په دې فکر کې ول چې محمدخان د کوژدنې د مړینې له امله سنګر ته لاړه، خو محمدخان بل غم لاره، هغه غوښتل چې د خپلې معشوقې عزت په وینو پوره کړي. الماس حقمل هم ورته ویلي ول:

ketabton.com - The Digital Library

اجازه لري چې هر دولتي نظامي په سر په مرمۍ وولې، خو په پټه يې خپلو وګړو ته ويلي ول چې پام مو وي کله چې د اربکيانو په پوستو بريد کوئ محمد خان مه درسره بيايئ، ځکه دی به هلته د خپلې بدلې د اخيستلو په غم کې او زموږ جګړه سپېڅلې ده، موخه پکې اړينه ده، بدله نه.

خو ځوان کله کرارېدونکی وؤ، چې څنګه به خبر شو چې د الماس زلميانو جنګ ته ورودانګل، ځوان به هم ځان ور ورساوه.

همدا لامل وؤ چې الماس حقمل نه شو کولای ځوان له جګړو او عملياتو راوګرځوي.

ځوان په لومړيو وختونو کې په نښه ويشتو کې ډېره ستونزه درلوده، تر دې بريده چې په لس متره واټن کې يې د اوبو شل ليټره بوشکه نه شوه ويشتلی، خو کرار کرار تکړه کېده او بلاآخره داسې وخت هم راغی، چې خلکو به نښه ويشتونکی باله، د همدې خبرې له امله الماس دوربين لرونکی ټوپک ورکړ. نو ځوان به چې کله جنګ ته ولاړ، دښمن به سر تري نه شو پورته کولای، د همدې لپاره الماس ورته وويل:

خوسې سنګري! موږ دې تا مستعار نوم له خوسې سنګري نه تور شاهين ته واړاوه، څه پکې وايې؟

ځوان يې په ځواب کې وويل:

ketabton.com - The Digital Library

نه مننه قومندانه! خو دا راته ووايه چې تور شاهين څوک وؤ؟

الماس له يو څه ځنډ وروسته په ژړغوني غږ وويل:

شاهين زما مسېر ورور وؤ، د تورو غرو په شاهين مشهور وؤ، ډېر تکړه ننبه ويستونکی وؤ، خلکو به يې مستعار نوم لنډاوه او دي تور شاهين په نامه يې ياداوه، بې پيلوټه طيارې شهيد که.

ځوان په ډاډه ورکوني انداز کې وويل:

رب العالمين د هغه شهادت قبول کړي او مورږ ته دې هم نصيب کړي، ما يې ترانه اورېدلې ده چې وايي:

**شاهين د تورو غرو يم په تور غر به ميلاوېږو**

**که ډېر درته يادېږم په سنگر به ميلاوېږو**

الماس په غمجنه لهجه وويل:

آمين! خو پکر نه کوم څې دا ترانه به يې ديما ورور لپاره ويلې وي، رېښتيا دا خبرې پرېږده، ماته امر سوی څې توري بوړې ته لاړ سم او تور بيرغونه کښته کم، دا جی تاته پرېږدم، دا ځوانان دې ام له تاسره وي، له دې روسته (وروسته) د دې ځوانانو قومندان ته يې.

خوشې سنګري وويل:

ketabton.com - The Digital Library

خو زما لا څو میاشتې کېږي، نه زه قومنداني کولای شم او نه یې هم کوم.

الماس په غصه ناکې لهجې وویل:

دا دې خوښې خبره نه ده، دا له پورته نه امر سوی، نو ځکه څه څې درته ویل کېږي آماغسې کوه، کنه جزا درکول کېږي.

ځوان په بېړه وویل:

زما وړتیا ورته هېڅ اړینه نه ده که څه؟

الماس په نصیحت دوله انداز کې وویل:

ګرانه! دا څه خوسې خبره نه ده، دي تا په شان ډېر ځوانان دي موږ ډلې ته راغلي، خو یو ته یې ام، دسې وظیفه نه ده ورکول سوې، نو خامخا به یې په تا کې څه لیدلي وي.

خوشې سنګري څو شېبې غلی وؤ او بیا یې وویل:

سمه ده چې مشران دا غواړي، زه یې هم منم، خو په دې شرط چې پوره واک ولرم.

الماس تر لنډې چوپتیا وروسته وویل:

دی ما له خوا پوره واک لرې، نور ته خپله پوهېږې! اوس باید تلو ته تیار سم.

ketabton.com - The Digital Library

خوشې سنګري همداسې غلی ودرېده او الماس ترې حرکت وکړ، سهار وختي څلور رنجر موټرونه کلي ته راغلل او الماس حقمل خپل سرتېري راټول کړل او مخکې تر دې چې خدای په اماني وکړي او له هغه ځای نه حرکت وکړي، خپلو سرتېرو ته وینا کول یې غوښتل، کوم چې یې خوشې سنګري ته پرېښودل، نو خپله وینا یې داسې پیل کړه:

ګرانو ملګرو! دوه ورځې مخکې ماته امر سوی څې زه باید تاسې تنا (یوازې) پرېږدم او ننګرار ته لاړ سم او آغلته تور بیرغونه کته (کښته) کم، د دې کار لپاره نوي سرتېري ام راکول سوی وؤ او بل امر دا راته سوی څې تر دې روسته به خوسې سنګري دې تاسو قوماندان وي. نو څکه څوک کوم ایتراض (اعتراض/نیوکه) لري ودې وایي، کنه د خدای په امان.

هیچا څه ونه ویل، بې له خوشې سنګري چې په خپلې قوماندانې یې نیوکه لرله، خو الماس پرې ځان ناګاره واچاوه او حرکت یې وکړ.

*****

خوشې سنګري ښه قوماندانې کوله، خو د اربکي او سیمه ایز له نوم سره وران وؤ، که چېرې به یې د ملې څواکونو او د ملې پولیسو سرتېری ونیوه، نو د کلمې به یې ورته ویل او چا چې به کلمه زده وه، پرېښوده به یې، هېڅ داسې کس نو شتون نه درلوده چې کلمه دې یې

ketabton.com - The Digital Library

نه وي زده، خو له اربکیانو نه یې ډېرې ستونزمنې پوښتنې کولې، لکه پوښتنه به یې ترینه کوله: ښځه چې طلاق شي په جنت کې به له چا سره وي؟ او یا د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) پینځمه بي بي څه نومېده او د چا لور وه؟ او یا دا چې د سلطان صلاح الدین ایوبي اصلي نوم څه وؤ او له کوم قوم نه وؤ؟ او یا دا چې هغه پېرى څه نومېده چې سلیمان (علیه السلام) ته یې د بلقیس تخت راوړ؟ او یا دا چې ویل کېږي چې که چېرې د جمعې په ورځ د آذان پر مهال شورا باندې تور مرچ واچوې او ویې خورې نو په ټول ژوند دې جنازه نه کېږي، ولې؟.

که کوم کس به دا پوښتنې ځواب کړې، نو هغه به یې خوشې کاوه، خو که چېرې کوم کس داسې پیدا شوی وای چې ځواب یې کړي. همدا لامل وؤ چې د ملي اردو او ملي پولیسو سرتېري به چې اسیران شول، ټول به خلاصېدل، خو د ملي امنیت او اربکیان ډېرى څه، چې نږدې تول اسیران وژل کېدل.

یوه ورځ خوشې سنګري، ډله له ځان سره کړه او د حکومتي پوستې په لوري یې حرکت وکړ، چې په نیمه لاره کې په مخابره کې غږ پرې وشو.

خوشې سنګري الف پینځه ویشت یم. په (واو) ۱٦ کې آمریکایي سرتېري دي، په الله مو سپارم.

ketabton.com - The Digital Library

خوشي سنګري هم خپلو سرتېرو ته د اولسوالۍ بازار ته د تګ امر وکړ او خپل دوه ټوپکونه او دوه تفنګچې يې سمې کړې، تر څو د جګړې لپاره چمتو اوسي، په دې کې يې يوه سرتېري وويل:

خوشي سنګري! زما خو دې سرتېري له نوم ام بده راځي، نور به سرتېرى نه راته وايې!

خوشي سنګري په آرامه لهجه وويل:

ولې؟

سرتېري وويل:

زه به يوه کيسه درته وکم او آغه دا څې دي کونړ دي ښار په بازار کې يو ځوان دي يوه سپين ږيري مخکې ستړى ستومان ودرېده او له سپين ږيري نه يې پوښتنه وکړه:

بابا! يو ځوان څې توري جامې يې اغوستې وې او سپينه الى پاپه (کڅوړه) يې په لاس کې وه تا ونه ليده؟

سپين ږيري ووې:

آغه خو مې ونه ليده، خو ته څوک يې؟

ځوان ووېل:

زه سرتېرى يم بابا!

ketabton.com - The Digital Library

سپین ږیري ځوان ته کته او پورته وکتل او بیا یې وویل:

که یې تا غوندې سر دیما ام وي، زه بم ترې تېر وم.

خوشې سنګري نرۍ موسکا وکړه او ویې وویل:

سمه ده بیا نه درته وایم.

په لاره کې نرۍ باد لګېده او سره له دې باده هم د لارې په شا او خوا ډاګ (دښته) کې زمکې نه ذرې هم پورته کېدې او ځای ځای به د کوترو واړه سیلونه هم پیدا شول او بیا به ورک شول، د همدې کوترو په لیدو خوشې سنګري ته خپل کوچنیتوب وریاد شو، هغه وخت چې دی د اوؤ کلونو وؤ او تر ځنګ ګاونډي یې کوترې ساتلې وې، خو دا سړی یې په کیسه کې هم نه وؤ، بلکې د ده لور چې اته کلنه وه، د هغوئ پالنه به یې کوله او الوزولې به یې هم. سړی له طالبانو وېرېده، ځکه خو یې نه الوزولې، خو کوچنۍ لور یې په دې خبرو چېرته پوهېده. خوشې سنګري هم څو ځلې له پلاره غوښتي ول چې کوترې ورته راوړي، خو پلار یې کوترې سپېرې بللې او له راوړلو یې ډډه کوله، نو خوشې سنګري به هم کله کله د همدې نجلۍ سره کوترې الوزولې او نورې لوبې به یې ورسره کولې. چې دې ځای ته راورسېده، ویې ویل:

زمرۍ چې په رمه کې ګرځي د پسه او زمري په توپیر نه پوهېږي، خو لېوان رمه له یوې خوا داړي.

ketabton.com - The Digital Library

ډرایور وویل:

پوه نه شوم وروره!

خوشي سنګري وویل:

زما د ژوند د ټولې کیسې لنډیزوۀ، کوچنیان که نجونې وي او که هلکان یوځای لوبې کوي، په دې نه پوهېږي چې د نر او ښځې توپیر څه ده، خلک ولې واده کوي، خو که همدا هلکان لږ بې لارې لوی شي، نو د یوې نجلۍ په لیدو داسې احساس پیدا کوي، لکه لېوه چې یې د یوې رمې د بېلې شوې مېږې په لیدو سره لري.

ډرایور په عجیبه او خوندوره وویل:

وروره! جي ته نژدې سولو.

خوشي سنګري مخابره راواخیسته او په خپلو سرتېرو یې غږ وکړ:

زلمیانو چمتو شئ، لومړی موټر ښۍ خواته لاړ شئ او پوره څار دې وکړي، موږ کینې لوري ته ځو او وروستی موټر هم مخامخ په الله مو سپارم، تر څو چې ما امر نه وي کړی له جګړې او سرکوزو لرې اوسئ.

درې موټر په دربوۀ لارو لاړل، له لږ مزل وروسته خوشي سنګري له موټر کښته شو او مخکې د پاخه سړک تر څنګ ودرېده، خو په

ketabton.com - The Digital Library

داسې حال کې چې د ملي امنیت جامې یې په تن کې وې او مخ یې هم پټ وؤ، د سړک تر څنګ یو د ښکلې څېرې لرونکی سپینږیری روان وؤ، خوشې سنګري سلام پرې واچاوه او بیا یې خپل ځان کې داسې لړزه هم جوړه کړه، تر هغه وروسته یې سپین ږیر ي ته وویل:

حاجي صاحب! زه له سپګنو طالبانو نه راوتښتېدم، دلته چېرته عسکر نه شته چې پناه ور وړم؟

سپین ږیري زړه نا زړه وویل:

لږ مخکې سرکوزي آغې خواته لاړل، خو د خدای روی ومنه نور له دې عسکري مسکري نه تېر سه، دا اوس دې ام له ډاره لاس او پښې رپېږي چېرته خپل کار او بار شروع که.

خوشې سنګري له لږ سوچه وروسته ښي اړخ ته چې سړي اشاره کړې وه، وکتل او بیا یې وویل:

څه وکړم، که یې زه پرېږدم، طالبان مې نه پرېږدي.

سپین ږیري په بېړه وویل:

زه له خوسې سنګري نه درته مکتوب راوړم.

خوشې سنګري په خندا کې پوښتنه وکړه:

نو خوشې سنګري ستا منې؟

ketabton.com - The Digital Library

بوډا په ډاډ وويل:

او! دي ما زوی اربکی وؤ، خوسې سنګري ځې ځنګه ونيوه، ځان مې ور ورساوه، د سترې مسې نه مخکې يې هلک ته دي مکتوب دي ليکلو وويل، ځې ځنګه مې چې ورسره وچيکه، زوی مې يې ام راکه او مکتوب ام.

خوشې سنګري په خندا کې حرکت وکړ او په تګ تګ کې يې سپين ږيري ته وويل:

حاجي صاحب! زه خوشې سنګري ښه پېژنم، د خدای لوی ګناهکار ده، تاسې يې هسې ښه سړی بولئ!

سپين ږيري په غوصه کې له ځان سره وويل:

سپي به غپېږي او کاروان به تېرېږي!

خوشې سنګري خپلو کسانو ته په مخابره کې امر وکړ او خپله هم د سرکوزو په لوري لاړه، مخابره کې يې ننبه ويشتونکو ته امر وکړ، تر څو خپل ځان ځای پر ځای کړي، د ځان لپاره د ځای په لټه کې شو، بې له يوې ګڼې ونې نه بل سم ځای پيدا نه کړ، موټر ته لاړ خپلې وسلې يې راواخيستې او بيا لاړه او ونې ته وخوت، د ټوپک له چمتو کولو وروسته يې ننبه برابروله چې جګړه ونښته، خو له آسماني قطعې سره نه بلکې له هغو کسانو سره چې د چاپې پر مهال په هغه کور کې ول.

ketabton.com - The Digital Library

خوشـې سـنګري دوربـین لـه کـوره لـږ لـرې یـوه سـرتېري تـه ورواچاوه، غوښتل یې چې په نښه یې کړي، خو هغه په تشو لګیـا وؤ او د ماشومانو په څېر یې هرې خواته کتل او خپل شی یې ښوراوه، چې په دې کې د نښه ویشتونکي ټوپک غږ شو، په دې کې د خوشي سنګري پام شو چې د سرکوزي آله پرې شوه او سرتېری په زمکه ولویده او رغړیده رارغړیده چیغې یې وهلې، خوشې سنګري په غوصه خپل سرتېري ته وویل:

رذیله دا نو څه کار وؤ چې تا وکړ، د سړي شی خو دې له بېخي ووېسته.

نښه ویشتونکي وویل:

څه پې که یې، دوئ له امدې جي نه ډېر فال (فعال) دي، څې لږ یې فعالیت کم سي.

نیمه ګړۍ وروسته جګړه پای ته رسېدلې وه، بې له یوې نجلۍ چې ژباړنه وه، پینځه تنه سرتېري چې څلور یې نارینه وؤ او یوه یې ښځه وه، نور تول ووژل شول او پاتې کسان هم خوشي سنګري نیولي ول.

سره له دې چې خوشې سنګري ته د آمریکای سرتېرو او ژباړنې ساتل ګران کار وؤ، د هغوئ ساتل یې پیل کړل، له آمریکایانو سره

ketabton.com - The Digital Library

یې د رسنیو له لارې اړیکه ونیوله او لسو کسانو خوشې کول او دوه سوه میلیونه ډالر نغدې پیسې یې وغوښتې!

څو ورځې وروسته د نجلۍ پلار راغی، تر څو د نجلۍ د خلاصون لپاره هلې ځلې وکړي، خو په هغه وخت کې خوشې سنګري هلته نه وؤ، والي ځان ته ورغوښتی وؤ، ننبه ویشتونکی عبدالکریم یې چې د قعقاع په مستعار نوم نامتو شوی وؤ، خپل ځای ناستی ټاکلی وؤ، کله چې د ژباړنې پلار ورغی او قعقاع ته یې د خپل لور د خوشې کولو وویل، قعقاع چې ډېر ټوکي وؤ او په همدې حالت کې یې جدي خبره لرله په ځواب کې ورته وویل:

تو فقط برای من بگو، که چطور غیرتت برایت اجازه داده که دختري به این مقبولي ره به آمریکایها روان کني؟ دوم تا حالا خبر داري که چند نفر آمریکایي همرایش زنا کرده؟

((ته یوازې ماته ووایه چې څنګه ستا غیرت تاته اجازه درکړې ده چې دومره ښکلې نجلۍ آمریکایانو ته ولېږې؟ او دوهم دا چې تر اوسه خبر یې چې څو کسه آمریکایانو ورسره زنا کړې ده؟)).

سړي چې ولیدل خبره ورانه ده، لور یې پرېښوده او خپله په تېښتې بریالی شو، نجلۍ ته دا خبره ورسېده، د نجلۍ چې نوره وېره پای ته رسېدلې وه، په ژړا شوه او شېبه په شېبه یې ژړا ډېرېده. که څه هم هلکانو هر څه ورته ویل، چې نجلۍ ډاډه شي، خو د نجلۍ ژړا او

ketabton.com - The Digital Library

اوښکې د ودرېدو نه وې، کله چې خوشې سنګري هم راورسېده، نجلۍ ژړل، خوشې سنګري هڅه وکړه چې د نجلۍ ژړا ودروي، خو نجلۍ د هغه د خبرو په ځواب کې وويل:

مه توبه مینکم و همچنان خاموش مې شینم، اما اګر یک وعده بدهي که یک خواهشم را بر آورده بسازي، وعده میکني؟

((زه توبه کوم او همدا رنګه غلې کښېنم، خو که چېرې ته یوه ژمنه وکړې او زما يې وه غوښته پوره کړې، ژمنه کوې؟)).

خوشې سنګري ورته په ځواب کې وويل:

در صورتیکه تو هم یک وعده بدهي، بلې!

((که چیرې ته هم یوه ژمنه راسره وکړې، هو!)).

نجلۍ څو شېبې غلې وه او بیا يې خپلې اوښکې پاکې کړې، په شونډو يې ژبه تېره کړه او په نرمه لهجه او پښتو ژبه، هغه هم په داسې حالت کې چې له سترګو او څېرې يې ښکارېدل چې په عذر لګیاه ده وويل:

زه یوازې ژبارړنه نه یم، د سي آی اې غړې هم یم، مور او پلار مې په آمریکې کې اوسېدل، کېدای شي چې زما له حاله به خبر شوي وي او راغلي به وي، کېدای شي آمریکایي سرتېري ډېر ژر په دې ځای باندې برید وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

خوشې سنګري بې پروا د هغې خبره ورپرې کړه او ويې ويل:

تشويش مه کوه، دا ځای له هغه ځای نه ډېر لرې ده، کوم ځې ته چې ستا پلار راغلی وؤ، خپله هيله دې راته ووايه چې پوره کولای شم او که نه.

نجلۍ يو ځل بيا په عذرانه لهجه وويل:

زه په آمريکا کې عيسوي شوې يم او اوس چې مې ستاسو چلند وليده، بېرته خپل اصلي دين اسلام ته ګرځم او توبه وکاږم او هيله مې دا ده چې له ماسره نکاح وکړه!

*****

خوشې سنګري چې خپل کلي ته ورسېده، نو کلی له دې آوازې نه ډک وؤ چې محمد خان په عمل منافق شوی، خپلې ژمنې نه پوره کوي، له يوې نجلۍ سره يې ژمنه کړې وه او اوس يې نه پوره کوي.

خوشې سنګري چې کله له دې آوازې نه خبر شو، نو ډېر خفه شو او له ډېرې غوصې نه يې پښې رېږدېدلې، نو له همدې امله په دې لټه کې شو چې هغه کس پيدا کړي، کوم چې دا راز يې د خلکو په منځ کې شيندلی ده.

ketabton.com - The Digital Library

نو له خپلو کسانو نه يې پوښتنه وکړه، ټولو په يوه خوله قعقاع ور وښوده، ده هم هغه راوغوښته او د دې کار لامل يې ترې وپوښتنه، خو قعقاع خوشې سنګري ګوښې ته کړ او ورته ويې ويل:

قومندان صيب! څه وکړم، کله څې مې وليدل څې تا واده کړې ده او اوس غوارې څې پوره يې کې، خو د خلکو له خبرو ډارېدې، نو دا آوازه مې واچوله، اوس نو څو ورځې دا پېغورنه وزغمه څې له دايمي پېغورونو خلاص سې.

خوشې سنګري چې د قعقاع خبرې واورېدې، نو لږ سوچ يې پرې وجنګاوه او د سمه ده په معنا يې سروښوراوه، تر دې وروسته يې حرکت وکړ او خپلې هجرې ته لاړ.

څو ورځې په کلي کې همدا آوازه وه او په ښکاره توګه کلي خوشې سنګري دې ته اړ کړ چې دا نکاح ومني، خو سمه او کره خبره بله وه، په پای کې خوشې سنګري دې ته اړ شو چې له ژبارنې سيما سره واده وکړي او کلي د خلکو خوله هم ور ډب کړي.

د جمعې ورځ وه او هوا هم ډېره ښکلې وه، نرى شمال لګېده، خوشې سنګري چنداني خوشحاله نه برېښېده، خو سيما بيا يو څه خوشحاله وه، د کلي نجونو ترې پوښتنه وکړه:

څومره ژر وربانديې مئينه سوې، لکه څې ډېره ښايسته ده؟

سيما په بېړه وويل:

ketabton.com - The Digital Library

نه دا مینه نه ده، احترام ده، چې زه یې خوشې سنګري ته لرم.

یوې مستې نجلۍ وویل:

خو آغه دې مجبوره که!

سیما په زور کې وویل:

که پښېمان وي، زه بېرته خپله وعده اخلم.

نجلۍ په خندا کې وویل:

که یې ته پرې ام ږدې، مور یې نه پرېږدو چې تا پرېږدي.

سیما غوښتل چې څه ووایي، چې په دې د ګواه نارینه وږ غږ واورېدل شو، نو له دې سره نجونو ځانونه ستر کړل او ګوهان هم مخامخ د سیما په وړاندې کښېناستل، مخکې تر دې چې ګوهان خبرې پیل کړي، یوه نجلۍ راغله او د یوه ګواه په ټنده یې لاس تېر کړ او داسې یې وښوده چې ګوندې خوله یې ترې پاکه کړه، خو اصل کې یې ټنډه ورتوره کړې وه، بلې نجلۍ د بل ګواه په شا لمنې پورې پلاستیکي کڅوړه غوټه کړه.

د ګواهانو او سیما خبرې خلاصې شوې او ګواهان ووتل، په دې کې نجونو پخ وهل او کوټه د مستو نجونو خندا نیولې وه، سیما په حیرانۍ وپوښتل:

دا نو څه کار وؤ، چې تاسو وکړ؟

ketabton.com - The Digital Library

د نجونو له ډلې زرغونې وويل:

دا رېواج (دود) ده، آخر واده ده ټوکې او مستۍ خو لري.

دې کې نجونو وخندل او زرغونې وويل:

دا نو بيا څه خبره وه څې و دې کړه، که د آغه قبوله يې ديما قبوله ده؟

ګړۍ وروسته نکاح تړل شوې وه او خلک په رخصتېدو وؤ، مستو نجونو هم نجلۍ د هغې کوټې خواته روانه کړه او چې کله يې هلته کښېنوله، نو نجلۍ يې پرېښوده او دوئ ځانونه پټ کړل، تر څو وګوري چې د داسې واده په پايله کې څه ډول ژوند رامنځ ته کېږي، د خوشې سنګري خور د کړکۍ د پردې تر شاه پټه شوه، د تره لور يې هم بلې کړکۍ کې پټه شوه او د ترور لور يې په الماری کې. کله چې خوشې سنګري کوټې ته رادننه شو، په اصلي خبرې پوه شو، سمدلاسه لومړی الماری ته ودرېده او خپل واسکټ يې لرې کړ، چې الماری کې يې ځوړند کړي، چې پرده يې لرې کړه، نجلۍ له شرم نه سر کښته واچاوه او له کوټې نه ووتله، بيا کړکۍ ته ودرېده او د سړو په پلمه يې پرده لرې کړه، خور يې وخندل او د وره په لوري يې حرکت وکړ، په دې کې يې د تره لور هم خپله د پردې له شانه راووته او خوشې سنګري ته يې وويل:

ketabton.com - The Digital Library

جنګ خو به نه کوئ؟ ورور‌ه! پخوا چې هرڅه وه آغه به وه، خو اوس دې ښځه ده او بله ځې د واده شیریني خو راکه!

خوشې سنګري بې له دې چې څه ووایي جېب ته یې لاس ور دننه کړ او درې زره افغانۍ یې د خپل تره لور خدیجې ته ورکړې او اشاره یې ورته وکړه چې درې واړه یې ووېشئ. خدیجه هم له کوټې ووته، نو خوشې سنګري لاړو او د سیما تر څنګ کېناسته، سیما لکه ساده کلیواله نجلۍ غلې ناسته وه او هېڅ یې هم نه ویل، خوشې سنګري هم هېڅ جرئت نه لاره چې څه ووایي، خو په پای کې یې زړه د زمري کړ او ویې ویل:

په وچ زور دې ځان راباندې نکاح کړ، که دې حق نه ادا کوم، ګنهکاربږم او ادا کولو ته مې زړه نه کېږي، نه پوهېږم څه وکړم په دوه لارو کې دې ګیر کړم.

سیما له لږ ځنډ وروسته وویل:

د آمریکې د دلتا ډلې یوه کوچنۍ ډله په کابل کې پټه ده او که چېرې هغوئ خبر شوي وي چې نن ستا واده وؤ، نو نن شپه عملیات کوي. نن شپه که چېرې له خپلو ملګرو سره اوسې درته غوره ده، د نن شپې حق مې دربخښم.

خوشې سنګري په ټیټ غږ وویل:

ketabton.com - The Digital Library

پوهېږ چنداني د شکر ځای نه ده، خو بیا هم دوه رکعته شکرانه لمونځ د ناوې په شال سنت ده، نو وبه یې کړم.

سیما په عاجزې ژبې وویل:

خیره ده، تېره هېره کړه او دا ومنه چې زه ستا مېرمن یم، راځه دواړه به شکرانه لمونځ وکړو.

خوشې سنګري په خندا کې وویل:

شکر وباسه چې اوس مسلمانه شوې یې، ځکه اسلام تر ټولو قوانینو ښه او اوچت عدالت لري، اوس وګوره، تازه اړ کړم چې واده درسره وکړم، خو بیا هم ته پرما ډېر حقونه لرې او همدا دین ده چې له امله یې ته ژوندۍ یې که د اسلام له امله نه وای، هېڅ کله به زه دومره نرم او د سړیتوب او نرتوب ډک نه وای، اوس دا خبرې پرېږده او راځه ما پسې اقتدا وکړه، چې لمونځ وکړو.

دواړو په ګډه لمونځ ادا کړ او بیا خوشې سنګري له کوره دباندې ووت، چې یو دم یې د درېش کلمه واورېده، غږ آشنا وؤ، نو ځکه یې خپل حرکت ته دوام ورکړ، بیا دا غږ پرې وشو، د خوشې سنګري پام شو چې دا خو د ژوندون ملنګ غږ ده، بېرته راوګرځېده او ژوندون ملنګ سره ترې روغبړ وروسته د هغه تر څنګ ودرېده، مخکې تر دې چې خوشې سنګري څه ووایي، ژوندون ملنګ وویل:

ketabton.com - The Digital Library

څنګه چل ده يارو! چېرته خوسې يې، څنګه دې زړه وسو څې خپله ښځه د واده په شپه يوازې پرېږدې؟

خوشې سنګري په وار خطايي وويل:

ګرانه! ته بېرته هجرې ته لاړه شه، زه سنګر ته ځم.

*****

کله چې خوشې سنګري له ژوندون ملنګ نه رخصت شو او خپلې پوځي اډې ته ورسېده، نو هلته يې ملګري چمتو کړل او يوه لومه يې چمتو کړه، کله چې ښه پخه شوه او خوشې سنګري غوښتل چې بېرته کورته وګرځي، تر څو څوک يې له دې راز نه خبر نه شي چې ناوې يې د تخت پر سر يوازې پرېښې ده، پام يې شو چې سر پورې يې د کوم شي بنګا ده، بېرته شاته وګرځېده، خو په تک تک کې يې د تودوالي ليدونکې کمره راواړوله او پورته يې وکتل، خپل ټوپک يې پسې ونيوه او ډز يې وکړ، لږ شېبه وروسته بنګا ورکه شوه.

څو شېبې وروسته پخه جګړه ونښته چې کرار د پوځي هډې خواته نږدې کېده او کرار کرار داسې حالت ته ورسېده چې (د ډلتها فورس) څو غړي د خوشې سنګري تر زمکې لاندې هډې ته هم ورسېدل، نه يوازې چې د دوئ سنګر او جګړې په ډګر کې مرمیو غورېونه کېول، بلکې په کلي کې يې هم ټول خلک له خوبه راپاڅول او د سيما زړه هم درزا پيل کړې وه. سيما نور څه په وس کې لرل، بس

ketabton.com - The Digital Library

یوازې دعاء یې کولای شوه. د خوشې سنګري مور بیا په دې فکر کې وه چې زوی یې په کوټه کې له خپلې ناوې سره ده، نو یوازې الله دې خیر کړي به یې ویل.

نږدې تر سهاره جګړه په ښه درز کې روانه وه او د سهار لمانځه تر قضاء کېدو وروسته پای ته ورسېده، د خوشې سنګري په ډله کې یوازې درې تنه داسې پاتې ول چې ګولۍ یې نه وې خوړلې، چې له هغې ډلې یې هم دوکسه طبیبان او یو کس قعقاع وؤ چې له ډېرې غوصې نه خولې پرې را روانې وې، درې تنه هم ټپیان شوي وؤ او لاتر اوسه ژوندي ول. خپله خوشې سنګري هم درې ګولۍ لګېدل وؤ، طبیبانو لومړی خوشې سنګري او د هغه ملګري پټۍ کړل او قعقاع شهیدان سره را ټول کړل او څادرونه یې پرې وغوړول، د دښمن ټپیان هم لومړی پټۍ او بیا بند خونو ته ولېږدول شول او خوشې سنګري هم یو ځل کور ته لاړه، لږ وروسته قعقاع د جومات په لوډ سپیکر کې خلک د دوئ شهیدانو جنازې ته ور وبلل، لسو کسانو ته یې د یوې کندې کیندلو وویل، تر څو بهرني سرتېري پکې ښخ کړي، خوشې سنګري غوښتل چې د باندې ووځي، خو وروسته تر هغه چې سیما په دې پوه شوه خوشې سنګري ټپي ده، نو اجازه یې نه ورکوله چې ولاړ شي، په همدې ډز او غپ کې یې مور راغله، سیما ته یې اشاره وکړه چې څه دي؟ خو له دې امله چې هغې ژمنه کړې وه چې هیڅوک به د خوشې سنګري له ټپي کېدو نه خبروي، نو هېڅ یې ونه شو ویلی او له

ketabton.com - The Digital Library

لاړې لرې شوه، خوشې سنګري هم په بېړه له کوټې نه ووت او مخامخ د کلي په مخکې دښته کې ولاړ ټولي ته ورغی، هلته جنازې خلاصې شوې، په پای کې څرګنده شوه چې والي صاحب هم راغلی او په کرار یې خوشې سنګري ته وویل:

دې شهیدانو له ښخولو وروسته غونډه لرو!

کله چې جنازې وشوې او مړي هم ښخ شول، والي اولسوال او د ولایت د پوځي چارو د کمیسیون مشر له خوشې سنګري سره، د هغه پوځي هډې ته لاړل، هلته ډېرې شنې ونې وې، سم ځنګل یې جوړ کړی وؤ، د دې ځنګل په منځ کې پټه هډه وه، خو ځنګل جګړه ځپلی ښکارېده، له ګولیو او وینو ډک وؤ، ځینې ونې هم پکې سوځېدلې وې او په ځینو ځایونو کې یې غوښې او وسپنې هم پرتې وې، چې کله والي دا حالات ولیدل، نو ویې ویل:

ښکلې هډه وه، خو بدرنګو په خپلو بدرنګو کارونو بدرنګه کړېده، الکانو دا جی پاک کئ!

د والي ساتونکي هم لګیا شول او والي له پټې لارې هډې ته لاړ، بیا غونډه پیل شوه او له خوشې سنګري یې داسې پوښتنه وکړه:

ښه خُلاصه یې وایه، څه وسول.

خوشې سنګري قعقاع ته وکتل او هغه هم داسې خبرې پیل کړې:

ketabton.com - The Digital Library

دي تاسو په ايجازه! له پخوانيو اسيرانو سره (۲۳) کسه اسيران سول، په بېګانۍ حمله کې موږ (۳۷) نفره مردار کړل او دي موږ (۳۹) نفره شيدان سول او (۷) نفره زوندي پاتي، څې دي آغوئ له جوملې نم (٤) زخميان دي، ډېرې سلاوې ام په لاس راغلي، خو د آسماني قيطې (٥) برخه ام خمته سوه.

اولسوال په حيرانۍ وويل:

نو دا آسماني قيطه څنګه ورته وايئ څې په مورچل کې يې دومره شيدان ورکړي دي؟

د ولايت په کچه د پوځي کميسيون مشر وويل:

ډلتها فورس هم څه کومه د ماشومانو ډله نه ده، بلکې له درېئو غوره کماندو يي ډلو نه ده، بله دا څې د ساحې نه داسې ښکاري څې په آسماني قيطې ناڅاپي امله سوې ده.

والي لومړی د شهيدانو د کورنۍ په غم کې وژل او بيا يې خوشې سنګري ته د بريا مبارکي ورکړه، د تګ پر مهال يې دوه د ېرش کسان له خوشې سنګري سره پرېښودل او هغوئ نه يې وغوښتل چې د خوشې سنګري تر قوماندې لاندې جګړه وکړي.

*****

ketabton.com - The Digital Library

مابنام خوشې سنګري کورته راغی، ملېمانه ټول رخصت شوي وؤ، خو اړ وؤ چې د مور لپاره څو ساعته ويښ پاتې شي، نو چې څنګه کوټې ته لاړ له کورنۍ سره تر سترې مشې وروسته، کېناسته او هڅه يې کوله چې زيګروی يې څوک وانه وري، خو کله نا کله انسان په خپل اختيار کې نه وي، کله چې د خوشې سنګري مور د هغه زګېروي ته پام شو، نو پوښتنه يې ترې وکړه:

څه خبره ده زويه؟ کوم جی خو به دې درد نه کوي؟

خوشې سنګري لږ نېغ غوندې شو او بيا يې په بېړه وويل:

نه مورجانکې! نن مو بلا جنازې کړي او مړي مو خښ کړي، ستړی يم.

خو مور يې بل فکر وکړ او ويې ويل:

سيي ده زويه ډوډۍ دې وخوره، بيا ليلیٰ او مجنون دواړه لاړسئ خپلې کوټې ته.

خوشې سنګري، ځان لږ نور هم ور ټول کړ، بيا يې وويل:

سمه ده مورجانکې! چې څنګه ستا خوښه وي.

خواړه وخوړل شول او تر هغې وروسته د مور خبره يې ليلیٰ او مجنون دواړه خپلې کوټې ته لاړل، سيما له خوشي سنګري وپوښتل:

تېره شپه دې ولې دروغ راته وويل؟

ketabton.com - The Digital Library

خوشې سنګري چې غږ يې له درد نه ډک وؤ، ترې وپوښتل:

کوم دروغ؟

سيما په بېړه وويل:

تېره شپه ما پوښتنه وکړه، چې پښتنه جوړه د واده په شپه څه کوي، تا په ځواب کې راته وويل:

چې لومړی د نجلۍ په شال دوه رکعته شکرانه لمونځ کوي، چې دا ستر سنت ده، بيا د نجلۍ مخ لوڅوي او تر هغو ورته ګوري چې نظر شي او تر دې وروسته څملي، تر څو د حلوا پخولو لپاره سهار وختي را پاڅېږي، خو بخت زمينې ماته به څه وويل، هغې ويل...

خوشې سنګري خبره ور غوڅه کړه او له درد او غوصې نه په ډک غږ يې وويل:

بس ده، هغه خو هسې هم حيا نه لري، خو په تا څه شوي دي؟!

سيما په بېړه وويل:

سمه ده! دا خبرې پرېږده. را لوڅ يې کړه.

خوشې سنګري يوه شېبه حيران شو، خو چې سيما ته يې په پوښتونکي نظر وکتل، نو سيما په بېړه وويل:

تېرونه دې ښيم.

ketabton.com - The Digital Library

خوشي سنګري وويل:

په ټپونو مې څه کوې؟

سيما وويل:

درمل پرې لګوم، تر پرونه مې له تبې ژوند نه زړه تور وؤ، خو بېګاه مې رېښتينې توبه وېستلې ده او نن مې په رېښتيا مينه درسره پيدا شوې ده، اوس دې داسې په آسانه له لاسه نه شم ورکولای، راکړه چې زه يې پخپله را لوخ کړم او درمل پرې ولګوم.

درمل يې پرې ولګول او بيا يې تر ځنګ څملاسته، سره له دې چې تخت يې نه درلود، خو بيا هم د ځوان تر څنګ څملاسته او په مينه يې لاس د هغه پر ځيګر او د زړه پر سر کېښوده او خپل مخ يې د هغه له مخ سره وجنګاوه بيا ويده شوه، د شپې لخوا څو څو ځلې راپاڅېده، خوشې سنګري خوله به يې ورپاکه کړه او بيا به بېرته ويده شوه، خو نيمه شپه يې زګېروی تر غوږ شو، راپاڅېده او نېغه هغې کوټې ته لاړه چې د ځوان مور او خويندې پکې ويدې کېدې، له هغه ځايه يې د درد درمل راوخيستل، کله چې يې غوښتل بهر ووځي، د ځوان مور او د هغې خوابنې بي بي راويښه شوه او په خوبولي غږ يې پوښتنه ترې وکړه:

څه خبره ده لورې؟

سيما په بېړه وويل:

ketabton.com - The Digital Library

هېڅ مورې! ځان مې خوږېده ، نو ځکه مې دا پرستامول را واخیست.

د دې خبرې له کولو وروسته سمدلاسه له کوټې راووته او په منډه یې ځان خپلې کوټې ته ورساوه، خوشې سنګري ویده وؤ، خو په خوب کې یې د ډېر درد له امله زګېروی او فریاد کاوه او د تبې له امله یې تنده له خولو لمده شوې وه او خولې ترې کښته بهېدې، دې له خوبه را پاڅاوه او درمل یې ورکړل، تر هغه وروسته یې شملاوه او بیا لاړه او خپل اودس یې وکړ، چې بېرته راغله د خاوند ترڅنګ په لمانځه ودرېده او دوه رکعته اوږد لمونځ یې وکړ او تر لمانځه وروسته یې داسې دعا پیل کړه:

اې الله! ته زما خالق او زه ستا مخلوق یم، ته د نړۍ ریښتینی پادشاه او زه ستا یوه عادي کنیزه، ته بې حده مهربان یې او زه ستا د بې حده رحم او مینې محتاجه، ته بې حده کریم او زه بې حده ستا کرم ته محتاجه، ته د لوی ځواک خاوند او زه کمزورې، نو یا الله د رحم په سبب مې زما توبه ومنه، یا الله ما د ځان ژغورنې لپاره واده وکړ، خو اوس ډېره مینه ورسره لرم او اوس هغه ډېر سخت ناورغ ده، ته ورته شِفا او اوږد عمر ورکړه، آمین!

غږ یې تر غوږ شو:

ډېر سخت ناروغ نه ده، بس یو دوه ګولۍ لګېدلی ده.

ketabton.com - The Digital Library

سیما شاته وکتل، ویې لیدل چې خوشې سنګري یې تر شاه ولاړ ده، ورپاڅېده او کلک یې په غېږ کې ونیو، خوشې سنګري هم لاسونه ترې راوګرځول، چې دې کې له خوشې سنګري نه د زګېروي غږ راووت، سیما هم سمدلاسه پرېښود او سمدلاسه یې وویل:

څه وشول ګرانه!

خوشې سنګري په سړه سینه وویل:

هېڅ! ټپ مې لږ وخوږېده.

*****

خوشې سنګري، په کور کې ناست وؤ، چې ورور یې راغی او ویې ویل:

لالا! ژوندون دوئ ویل چې راشه!

کله چې خوشې سنګري ورغی، ګوري چې شاعر او لیکوال او د ترنم اتل ژوندون ملنګ او د دنګې ځوانۍ او ښتلو متهو خاوند قربان الله ولاړ دي، دواړو وویل:

چې کله کابل کې وې، ډېر به دې ویل چې موټر واخلم خپل کلي ته مو بیایم او اوس چې راغلي یو، خپلې کلی نه راښیې؟

خوشې سنګري وویل:

ketabton.com - The Digital Library

لکه چې هجره مو ډېره بده راغله، د سهار چای مولانه ده څښلی او راووتئ؟

ژوندون ملنګ وویل:

بچو ته خوبه تر اوسه ویده وې، ورکي موږ ته ملاآذان چی راوړ، څې ارخه مې ورته وویل، نه درتله، څې غږ درته وکي.

خوشې سنګري ورته وویل:

**راځئ ډېر لر مو ګرځوم**

**یو څه کښته پورته او بیا بر مو وګرځوم**

**دغه زلمي چې نن راغلي زما یاران دي**

**سبا به یې په کابل نن په لوګر وګرځوم**

ژوندون ملنګ په ټوکه وویل:

دِ تا یې له شایري سره څه، درځه خپلې کیسې کوه، شایري موږ ته راپرېږده.

قربان الله وویل:

نه بده څلوریزه نه وه.

خوشې سنګري بیا دا څلوریزه وویله:

ketabton.com - The Digital Library

موږه له وخته شاعران يو

چې څوک مو نه مني له بخته شاعران يو

موږ په دې سيمه کې اوسېږي

رب رحيم ده په دې سيمه کې ودان يو

ژوندون وخندل او همداسې په خندا کې يې وويل:

ته نو له خپلې دې بېکاره شاعرۍ نه نه اوړې.

تر غرمې يې په باغونو، پټيو او درو کې چکر وواهه او بيا بېرته راوختل، هجرې ته، ډوډۍ يې وخوړه او تر هغه وروسته په ګډه لمانځه ته لاړل، له جومات نه مخامخ د الماس او خوشې سنګري د يارانې تيږې ته ورغلل او چې کله تېږې ته ورسېدل، نو خوشې سنګري د سنګر ته تلو ټوله کيسه ورته وکړه او بيا يې د مطيع الله تراب دا شعر په ترنم کې ورته ډالۍ کړ:

سترګې د خپګان سره ترلې دي

اوښکې له ګرېوان سره ترلې دي

بس د يو نظر د کتو ترې دي

ketabton.com - The Digital Library

للمې د باران سره تړلې دي

خود چې یو مئین په لاره نه پرېږدي

سپي او رقيبان سره تړلي دي

تور هندي لښکر خور د کشمير په مخ

زلفې او ماران سره تړلې دي

مخ او شين خال د آبرو منځ کې

لال د بدخشان سره تړلي دي

دا يوه ټپه ده د ورېښمين په سر

نورې د واخان سره تړلې دي

امن، افغان او کابل جان دواړه

دا مې د آرمان سره تړلي دي

ketabton.com - The Digital Library

**وايي ملاجان خو زه يې نه منم**

**سر او زړه نادان سره تړلي دي**

**دا پښتون عهد دی په شا نه ځي**

**دا سر او رسپان سره تړلي دي**

**نه بېلېږی اوبه په ډانگ وهلو نې**

**غولی او دالان سره تړلي دي**

قربان الله وويل:

په ريښتيا چې تراب يو ډېر تکړه او غوره شاعر ده، زه يې کله شاعري اورم.

بيا ژوندون ملنګ په ټوکه وويل:

زم غوارم نور له تاسره پاتې سم او په دې غرونو او رغونو کې درسره وګرځم، پاتې سوه د اوږده يار کيسه دې، نو آغه پوېږي او کار يې، دا ده دلته ناست ده ودې وايي.

قربان الله وويل:

ketabton.com - The Digital Library

که رېښتیا ووایم، نو ستا خبره مې خوښه شوه، زه هم درسرپاتې کېږم، خو ستا لپاره، ځکه زما له کابله زړه تور نه ده، بلکې هلته مې ښه ساعت تېر ده، خاص کر له نجونو سره.

خوشې سنګري په ټوکه ورته وویل:

نو بیا ښه ډېر قرضدار شوی هم یې؟

قربان الله وویل:

لږ قرضداری شوی وم، خو تومه وېستلې ده.

خوشې سنګري بیا وویل:

که ته ډېر قرضدار شوی نه یې، نو زاهد الله خو بېخي ډېر قرضدار شوی وي.

قربان الله په خندا وویل:

هو! هغه سم د زړه د اخلاصه قراضدار شوی ده، ځان به یې هم ورته چمتو کړی وي، قرض باید ادا شي.

*****

د شپې خوشې سنګري له خپلې مېرمن سیما نه وپوښتل:

ته اوس هم له سي آی اې سره اړیکې لرې او که نه؟

سیما په بېړه وویل:

ketabton.com - The Digital Library

نو ته چمتو يې؟ هو اوس هم اړيکه ورسره لرم.

خوشې سنګري په حيرانۍ ورته وکتل، نو سيما خپلې خبرې ته دوام ورکړ:

په کابل کې د سي آی اې په مرکز باندې برید ته چمتو یې؟

خوشې سنګري وويل:

هو! خپل ښارګر مې هلته ځای پر ځای کړي دي، تر څو حالات وڅاري او د هر څه په اړه راپور راکړي.

سيما وويل:

نو بيا خپل کسان کابل ته ولېږه، تر څو د برید لپاره ځان چمتو کړي، بيا ماته ووايه زه هغوئ ته زنګ وهم او ورته وايم چې په کابل کې په يوه مېشت مرکز باندې برید کېږي. نو له دې سره به د هغو ځيني ډلې د هغه مرکز خواته حرکت وکړي، بيا تاسې دوه ډلې شئ او د هغوئ په خبرې به ځان جوړ کړئ، لومړۍ ډله به د هغوئ له هغې ډلې سره مخامخ شي او دوهمه ډله به د سي آی اې په مرکز باندې برید وکړي، نو داسې به بريا له موږ سره وي.

خوشې سنګري وويل:

که مې دا جګړه وګټله، نو بيا به مينه درته ښکاره کړم.

سيما په ټوکه وويل:

ketabton.com - The Digital Library

نو ته د میني کولو لپاره ډېر ستر رشوت غواړې! بشپړه بریا په رشوت کې غواړې؟

خوشې سنګري بې له دې چې سیما ته ځواب ورکړي، له کوره ووت او د سنګر پر لوري ولاړ. هلته یې خپلو ملګرو ته اړیني لارښوونې وکړې او هغوئ یې د آمریکایانو په ډول موټرو کې کابل ته واستاول او دی له ژوندون ملنګ اوقربان الله سره په بله ډله کې کابل ته لاړه، هلته چې ورسېدل، خپل پېژندوی رنګمال یې راوغوښت، تر څو د دوئ ټانک ډوله موټرونو ته د آمریکایانو په ډول رنګ ورکړي، کله چې هغه راورسېده، نو سمدلاسه یې کار پیل کړ او خوشې سنګري کسان چې ډېره یې صفر کړې وه ځان سره ملګري کړل ، تر هغه وروسته یې په درې ورځو کې له پلان سره سم، خپلې مېرمنې ته زنګ وواهه، تر څو هغه له پلان سره سم د تورو استخباراتو (CIA) د کابل دفتر سره اړیکه ونیسي، هغې سمه ده ورته کړه او بیا یې اړیکه پرې کړه یو ساعت وروسته یې زنګ راغی او ویې ویل:

وبخښې ګرانه! چې مبائل مې بند وؤ، سیمکارت مې تړې وېستلی وؤ، تر څو ستونزه راولاړه نه شي، بیا مې له خپل پخواني مبائل او پخواني سیمکارت نه اړیکه ورسره نیوله، کار وشو چمتو اوسئ.

خوشې سنګري وویل:

ketabton.com - The Digital Library

سمه ده مننه، د خدای په امان او الله دې مل شه!

لرغکه یې مړه کړه او خپل ملګري یې په دوه ډلو ووېشل، له یوې ډلې سره یې ژوندون ملنګ اوقربان الله هم ولېږل، چې د هغې ډلې قومندان یې قعقاع وټاکه او یو ځل بیا یې اړینې لارښوونې وکړې او دواړه ډلو ته یې دندې ورپه ګوته کړې، چې له دې ډلې دوهمه ډله یعنې د قعقاع ډله اړه وه چې په وتلو سرتېرو برید وکړي او لومړۍ ډله د خوشې سنګري په قوماندې اړه وه چې د سي آی اې په مرکز برید وکړي، دا چې د دوهمې ډلې قومندان هم ټوکي وؤ او دخوشې سنګري دواړه ملګري هم ډېر ټوکیان ول، نو د هغوئ ګپ او ټوکې برابرې وې، لومړۍ ژوندون پیل پرې وکړ او ویې ویل:

یاره قومندان صیب! خې یو دوه امریکنۍ جیلکیانې په لاس راسي سخت خوند به وکي.

قعقاع په ټوکه وویل

زه قومندان یم او کنیزې د قومندان حق وي.

قربان الله یې په ځواب کې وویل:

ستونزه نه شته، لومړۍ شپه یې زموږ او بیا دې ستا وي.

القاعده، چې اصلاً د پنجشېر وؤ وویل:

ketabton.com - The Digital Library

خوشې سنګري اصلي پښتون ده، دا کنیزو او مریانو قصې نه مني.

ژوندون ملنګ په ټوکه وویل:

آغه نو څه خیرن ده، څې دیما مخه ونیسي؟ زه کېنګ یم کېنګ.

همدا سې خبرې رواني وې، چې خوشې سنګري زنګ ورته وواهه او ورته ویې ویل:

خلک ستاسې خواته درغلل، سم تود هرکلی یې وکړئ!

قعقاع یې په ځواب کې وویل:

غم مه کوه وروره! خولې یې چې توی نه کړم، چېرته یې پرېږدم!

لږ وخت وروسته په عبدالحق څلور لارې کې سخته نښته رامنځ ته شوه، خو خلک او د حکومت کارکوؤنکي دې ته حیران ول چې څنګه آمریکایي سرتېري په خپلو منځونو کې واوښتل، لا ډېر وخت نه وؤ وتلی چې ځینې ټلویزیوني رسنۍ هم راورسېدلې، چې له دې ډلې نه د شمشاد، ژوندون، طلوع او ځینې نورې هم وې. جګړه ډېره توده وه، آمریکایانو ډېره بده نښه ویشتله، تر دې چې کله ما غوښتل د موټر د پاسه وسله وچلوم، مرمۍ مې د سر د پاسه تېره شوه، خو زه هم ډېر زړور وم، د وسلې کنټرول مې په لاس کې ونیو چې له دې سره آمریکایانو نور ځان نه شو ښورولی، په همدې وخت کې قربان الله او

ketabton.com - The Digital Library

ژوندون ملنګ له موټرو ووتل او په آمریکایانو یې ورمنډه کړه، زمونږ نور سرتېري هم پسې ورغلل او دې کار زمونږ بریا سل په سلو کې تضمین کړه او د آمریکایي سرتېرو ماته. شېبه وروسته جګړه پای ته ورسېده، خو یوازې دلته، ځکه له شش درکو نه لا د ډزو غږونه اورېدل کېدل، ژوندون ملنګ وویل:

د زمري امله خو دې ولیده، راځئ ځې آبل خیرن سره کومک (مرسته) وکو.

قعقاع یې په غوصه ځواب ورکړ او ویې ویل:

رذیله! نیږدې دې زما ټول سرتېري شیدان کړي وؤ، بیا دا خرتوب ونه کې!

قعقاع خپلو سرتېرو ته امر وکړ، چې د مردار شویو آمریکایانو په مړو وګرځي او که کوم کس نه وؤ مردار شوی، ویې تړۍ او ټانکونه ام درسره راواخلئ ځئ ځې ځو. شېبه وروسته مونږ حرکت وکړ او د خوشې سنګري خواته ورغلو، چې کله ورسېدو، قعقاع قربان الله ته امر وکړ چې همدلته پاتې شه او د افغان سرتېرو د رادننه کېدو مخه ونیسه. قربان الله هم ډېر تکړه وؤ، بل په انګرېزي هم ډېر پوهېده، زه هم لږ لږ پوهېدم، خو دومره نه چې اوس پوهېږم.

ketabton.com - The Digital Library

قربان الله ځان آمریکایي سرتېری ښوده او ما ځان ژباړن، خو ډېر کله به مې د خپلې خوښې سره سم ژباړه کوله، لکه یو افغان پوځي له خپلو سرتېرو سره راغی او راته یې وویل:

موږ د کیتې خاص کسان یو، دې پرنګي ته ووایه څې موږ ورځو.

قربان الله ته مې یوڅو انګرېزي جملې وویلې او هغه هم راته یو څو جملې وویلې، بیا مې دې پوځي ته وویل:

دی وایي څې مور دې وغ... تاسو کار مه لرئ، موږ یې خپله حلوؤ.

دې پوځي ته هم غوصه ورغله او ویې ویل:

زه د ټولو پرنګیانو مور وغ... پرېږده یې چې خپل کار کوي، موږ ترې لاړو بارا!

د دوئ په تګ سره قربان الله ته خندا ورغله او ما وویل:

ښه سو څې دوئ لاړل، کنه جنګ یو په دوه وؤ.

نږدې دوه ساعته جګړه روانه وه، تر هغه وروسته بیا زموږ کسان راووتل، چې ډېر شمېر ټپیان او شهیدان مو هم لرل، قعقاع هم د ټپیانو له ډلې نه وؤ، خو ډېر شمېر اسیران مو هم نیولي وؤ، چې په هغوئ کې ډېر شمېر هغه افغانان ول چې سي آی اې سره یې په کابل

ketabton.com - The Digital Library

او نورو ولایتونو کې دنده ترسره کوله، نو موږ هم د دې جګړې په پای سره څو ټېلر راوغوښتل او د چوک (چهارراهي ګمنام نه مو ټول مزدوران هم، خوشې سنګري قربان الله ته (۱۵۰۰۰) ډالر ورکړل، تر څو په سرای شهزاده کې یې افغانۍ کړي، چې د مزدورانو خرچه ووځي، تر څو چې قربان الله بېرته راستنېده، مزدورانو ټول اړین توکي، لکه اسناد، مبائلونه، کمپیوټر، سي ډي، هارډېسکونه، وسلې او نور شیان په موټر کې بار کړي ول، نو د قربان الله په رارسېدو سره خوشې سنګري،قربان الله او ژوندون ملنګ درېواړو د پیسو وېشل پیل کړل او هر مزدور ته به یې (۱۰۰۰) زر زر افغانۍ ورکولې، کله چې پیسې ووېشل شوې، نو خوشې سنګري په لوړ غږ وویل:

وسلې، پیسې او اسناد موږ واخیستل او نور شیان یې چور او تالا.

خلکو په چور پیل وکړ او موږ لاړو، ملي څارګره اداره هم له هغو خلکو سره بوخته شوه چې موږ په بېغمه زړه له کابله ځان ووېست او خپلې هدې ته لاړو.

*****

د ډلتها دوه عملیاتو نه وروسته، آمریکایان پوه شول چې د خوشې سنګري لښکر سره مخامخ کېدل خپله، خپل ځان ته ماته

ketabton.com - The Digital Library

ورکول دي، نو ځکه خو يې په خپلې دوهمې ستراتيژۍ ډېرې پيسې ولګولې او تر دې حده يې پرمختګ وکړه، چې د تور بيرغ يوه کس هم (۶۰۰) ډالر اخيستل، بل لوري ته خوشې سنګري، خپل پخواني ملګري چې د طالب په نوم بندخونې ته تللي وؤ، د آمريکايي سرتېرو، پوځيانو او د سي آی اې جاسوسانو په بدل کې له بندخونو وژغورل او نه يوازې دا بلکې ميليونونه ډالر يې هم ترې واخيستل او له خپلې مېرمنې سيما سره يې خوشحاله او خوښ ژوند تېراوه، چې امير المؤمنين ځان ته وروغوښت، لومړی يې د دوؤ برياوؤ مبارکي ورکړه او بيا يې ورته وويل:

څو شپې مخکې مې خوب وليده، ماينه دې توبه باسي او بيا تر توبې وروست شاته راوګوري، دونه رڼا يې پيدا کړې وي، چې خالي رڼا شکاري او بارا دا نه شکاري، بيا دې ماينه ورکه سی او زوی راشکاره سي، شه تکړه زلمی وي چې بيرغ يې په لاس وي او د فلسطين په خوا ورځي او بارا ماته وايي، تر څو مې فلسطين له خنزيرو يهودانو نه وي خلاص کړی او فتح کړی مې نه وي، بېرته نه راځم، نو ما چې کله امارت نيولی بيا مې خوب ريشتيا کېږي، الله تالادې درته شه کړي، د زوی مبارکي درته مخکې تر مخکې وايم.

تر لږې چوپتيا وروسته يې وويل:

ماته د غنيمت وېش شه خوند راکړه، ښه وېش دې کړی وؤ، ځکه خو مې پرېکړه کړې ده چې د جنرال الماس رتبه او وظيفه دواړه

ketabton.com - The Digital Library

درکوم، تر دې وروسته جنرال یې لاړ به سې مومندرې ته او تور بیرغونه به کشته کې.

خوشې سنګري وویل:

امر مو په سر سترګو، خو یوه غوښتنه لرم.

امیرالمؤمنین یې په ځواب کې وویل:

وایه کنه زه غوږ یم.

خوشې سنګري وویل:

په مجاهدینو کې ځینې ډېر بې لارې کسان دي، چې د ښو نوم یې هم بد کړی، د دوئ د اصلاح لپاره کومه لاره په پام کې ونیسه.

امیرالمؤمنین یې په ځواب کې په آمرانه لهجه وویل:

یو وار جهاد پای ته ورسېږي، بیا به ورسره ګورم، ځکه چې بې لارې کسان ډېره شه جګړه کوي، خو ته شه پوره صلاحیت لرې چې دسې کسانو نه وسلې واخلې.

خوشې سنګري وویل:

سمه ده ښاغلیه، نو زه به سم دلاسه خپل ځانګړي عملیات پیل کړم، که ستا اجازه وي.

امیرالمؤمنین وویل:

ketabton.com - The Digital Library

هـن! پـه دې کاغـذ کـې مـې د واټسـاپ شـوماره ده، کـه کـوم موشکېل وؤ، زنګ راووهه! پام کوه بل چاته يې ور نه کې.

خوشې سنګري د خدای په امانۍ وروسته حرکت وکړ او د خپـل کور لار يې ونيوله او تر ستنېدو پورې يـې هېـڅ دمـه هم ونـه کـړه، دوه شپې يې په کور کې وکړې او بيا يـې خپلـې مېرمنـې تـه هرڅه وويـل، هغې ورته وويل:

زما غيرتي او مجاهد خاونده! زه نه وايم چـې تـه مـه ځـه او لـه مـا سره پاتې شه، ځکه تا اراده کړې او زه ستا په ارادو باور لرم او په دې هـم پـوهېږم چـې دا دنـده ډېـره اړينـه او عـاجلـه ده، خـو مـا يـوازې مـه پرېږده او له ځانه سره مې بوځه. ځکه يوازې به ژوندۍ يم، خو ژوند بـه نه کوم، په دنيا به دوزخ احساسوم، ځکه تاسره ډېره مينـه لـرم او يـوه شـپه هم بې ستـا د سترګو لـه ليـدو او سـتـا د ښـو لـه غـوږولـو نـه شـم تېرولی.

خوشې سنګري وويل:

پوهېږم ګرانې! خو زه مجبور يم چې يـوازې ولاړ شـم، هغـه خلـک ډېر بې لارې دي، لکه ښنګه چې يې بيرغ تور ده، همداسې يـې زړونـه هم تور دي، ما له توبې نه وروسته بيا مينـه کـړې او دا ځـل ډاډمـن يـم چې دا مينه ګناه نه لري، نو نه غواړم چې بيا يـې لـه لاسـه ورکـړم او يـا

ketabton.com - The Digital Library

کومه بده پېښه ورسره وشي، نو خير ده، راځه وصال مو وليده اوس د هجران خوند هم وګوره.

سيما په داسې حال کې چې اوښکې يې له سترګو نه روانې وې، په مينه وويل:

نو بيا خو يوه غېږه راکړه، چې لږ خو مې زړه تسکين شي او يوازېتوب وزغمم.

**غېږه دې خلاصه کړه لاليه**

**زه د کلونو غمزده راغلې يمه**

**ډېر به مې غېږ کې واى نيولى**

**که زه خبر واى چې بيا نه شته ديدنونه**

خوشې سنګري غېږ ورکړه او بيا يې وويل:

مه وېرېږه، مور مې راځي، دوه ورځې هغې ته په تمه وم، اوس نو ځم د الله په امان.

خوشي سنګري سيما نه د سنګر په لور يې حرکت وکړ، کله چې د کور له انګړ وت، نو مېرمن يې يو څه ورته وويل، چې خوشې سنګري ډېر

ketabton.com - The Digital Library

ورته ودرېده او بیا چې سنګر ته لاړه، هلته یې هم د خپلې مېرمنې دا خبره په ذهن کې ګرځېده:

چې هزار لښکرې درسره وي، خو الله درسره نه وي یک تنها یې. زه به څه ووایم، مور به راشي، مینه به راکړي، له یوازېوالي به خلاصه شم، خو زړه او ذهن به مې تاسره وي، ستا سترګې، ستا غوصه، ستا ټوکې او شعرونه به نه وي.

شپېه وروسته خوشې سنګري د مخابرې له لارې خبر شو چې مور یې کورته راورسېده، چې ده هم نور خپل یون کړی وؤ، تر ننګهاره، لاره لرې او له ستونزو ډکه خو تګ له هر ستونزې سره شونی وؤ او بیا هم چې هایلکس موټرونه فورد رنجر موټرونه درسره وي. خو دا سفر له ډېرو کړاوؤنو سره سره له خطرونو هم ډک وؤ. ځکه په تېرو څو ورځو کې په زرګونو مجاهدین هلته شهیدان شوي وؤ، همدا لامل وؤ چې امیرالمؤنین خوشې سنګري هلته ولېږه او خوشې سنګري هم قعقاع فاریاب ته ولېږه او د همدې سفر په ترخ کې خوشې سنګري ماته د خپل ټول تېر ژوند کیسه وکړه، آن هغه کیسه چې د ژوند ډېر رازونه یې پکې پټ وؤ، موږ چې څنګه مومندرې ته ورسېدو، قعقاع خوشې سنګري ته خبر ورکړ چې زه فاریاب ته رسېدلی یم. تاسې په ننګرهار کې تور بیرغونه کښته کړئ، زه هم په فاریاب کې. خو کله چې له تور مخو سره مخامخ شولو، حکومت له هغوئ نه بشپړ ملاتړ وکړ او موږ یې تر برید لاندې ونیولو، کله چې قعقاع په فاریاب کې

ketabton.com - The Digital Library

تور مخي كلا بند كړل، د كابل حكومت چورلكې وركښته كړې او تور مخي يې له موږ وتښتول، په مومند درې كې چې كله موږ په توريانو زور راوست، نو حكومت توريانو ته داسې كمپونه جوړ كړل چې خواړه او د اوسېدو ځايونه پكې ډېر برابرېدل، خو په بدل كې په موږ بمونه و اورول، د هغوئ جنګاليو ته يې پناه وركوله.

تور بيرغونه لومړى په فارياب كې په سپينو بدل شول، خو په ننګرهار كې د بيرغونو سپينول ناشوني ښكارېدل، د يوې مياشتې خونړۍ جګړې په پايله كې توريانو ماته وخوړه او په ځاى يې سپين بيرغونه پورته شول، ظاهراً د سيمې خلک هم خوشحاله وو.

خوشې سنګري غوښتل چې نور بېرته خپل كورته ستون شي، خو امر يې ترلاسه كړ، چې يوه مياشت نور هم بايد هلته پاتې شي، نو بيا خو مجبوره وو چې هلته پاتې شي. موږ هلته د چپرهار اولسوالۍ ماڼو كلي ته نږدې په يوه غره كې سنګر جوړ كړى وو، يو څه چې زغمل يې ډېر سخت وو، هغه د ملكانو كبر او د والايانو ملاتړ له دې كبرجنو نه وو، ځكه ملكانو او يا زامنو يې په خلكو ډېر ظلم كاوه، خو په هغو خلكو چې وس يې نه وو او يا مېړونو له اړخه كمزوري ول.

*****

يو زلمى راغى او په ډېره تېنګه يې ما ژوندون ملنګ اوقربان الله ته وويل:

ketabton.com - The Digital Library

پوهېږم، چې قومندان مو واده ته نه شي راتلای، خو تاسې درې کسه راشئ، هجره کې مېله جوړوم چې مجاهدین راته څه ونه وایي.

ژوندون ملنګ خو هسې هم د ټنګ ټکور او د چرسو ستر عملي وؤ، نو سمدواره یې وویل:

بې غمه اوسه درځو! قومندان څه خیرن ده، که آغه درسي او که نه موږ درې خامخا درځو.

د هلک په شونډو موسکا خوره شوه او روان شو، له تګ نه وروسته یې ما وویل:

څه کوې ملنګ صیب! قومندان به خفه شي او بله دا چې که مجاهدینو والي ته وویل بنه به نه شي.

ژوندون ملنګ په ټوکه وویل:

خوشې سنګري، نوڅه خیرن ده، خو د والي خبرېدو ته مې پام نه وؤ.

الله قربان په بېړه وویل:

د والي پروا بیا زه نه لرم، ځکه که دخان او ملک د زوی واده وي، والي په خپل خط او امضاء د ټنګ ټکور اجازه ورکوي او چې د خوار او غریب په کور کې واده وي، نو همدا دوؤس به خپل کسان

ketabton.com - The Digital Library

ورته ورلېږي چې مېله ورخرابه کړي، زه مې يار ته ورځم او د خپل تګ په اړه ورته وايم، تاسو په خپل کار ښه پوهېږئ.

کله چې قربان الله خوشي سنګري ته ورته، زه هم ورسره ورغلم، موږ دواړو ته يې اجازه راکړه، وروسته خبر شوم چې ژوندون ملنګ هم ورغلی ده. سبا واده وؤ او مخکې تر واده يې د شپې له خوا مېله جوړه کړې وه، موږ درېواړه هم ورغلو، تر څو په مېله کې ګډون وکړو. خو د شپې يو وخت کې مې په سر سخت درد شو، زړه مې راته وې، چې راځه همدلته چېرته ځای پيدا کړه او کرار ويده شه، نو ما هم يو ګوښه ځای وليده، هلته يو ځای داسې لږ ژور غوندې وؤ، هلته مې يوه قالينه هواره کړه او بيا مې د پاسه پرې يو کټ کېښود، خو زه د کټ لاندې ويده شوم، چې لږ وروسته څو کسان راغلل، چې يو يې د ملک زوی وؤ، ټول په کټ کېناستل، په دې کې د دوئ له ډلې يوه تن وويل:

احسان خان! ولې دې په دې جينۍ پسې مرکه نه استوله، مور مې ويل ډېره ښکلې ده، سمه هوسۍ ده هوسۍ، لکه نوم يې چې دی.

احسان خان په خندا کې وويل:

سړی چې خزه کوي د کو... لپاره يې کړي او ما خو د هوسۍ مزه پخوا ليدلې ده. دوه مياشتې مخکې مې هوسۍ په باغ کې وليده، د

ketabton.com - The Digital Library

ګل مامد په باغ کې، زه هم ورننوتم ، په وچ زور مې راونیوله او نور خو تاسو پوهېږئ؟

شهزاد وویل:

نو بیا هوسۍ ولې تر اوسه څه نه دي ویلي؟

نه ومې وېروله، ورته ومې ویل چې که وروښو ته دې وویل، په ما یې وسن نه دی بر او که مې په پټه مړ هم کړي، نو بیا به کلي پرېږدي او تا به هم وژني، هسې خو هم مري، که پلار یې مړه نه کړه، خاوند خو به یې مړه کړي، له مورې سره به څوک د هغې لپاره جګړه کوي؟

له ډېرې غوصې زمکې باندې په تنګ شوم، نور زمکې ځای نه راکوه، خو څه مې کړی وای، هرڅه مې چې کول، باید مخکې تر مخکې مې خوشې سنګري ته ویلي وای، نو ځکه په کرار ځملاستم. څو مېله پای ته ورسېږي، زه هم خوب وړی وم، د مېلې په پای کې هلکانو چیغې کړې، چې زه یې هم راپاڅولم، غوږ مې ونیوه، په کټ باندې قربان الله او ژوندون ملنګ ناست وؤ او یو بل ته یې ویل:

به کابل کې به یې له ډېرې سادګۍ، خلکو مسخرې پرې کولې اوس خوشې سنګري شو، نو څه به وو ایو.

ځان مې په ډېرې سختۍ د کټ لاندې نه راووېست او د دواړو په اوږو مې لاس کېښود ، تر هغه وروسته مې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

نور به ځو، چې د سهار لمونځ سنګر ته ورسوؤ.

دوئ هم بې له دې چې څه ووايي، له ما سره روان شول، تر سنګره چا خبره هم ونه کړه، بيا چې کله هلته مې تر اودس او لمونځ ادا کولو وروسته ټوله کيسه خوشې سنګر ته وکړه، هغه هم ډېر اندېښمن شو او همداسې په اندېښنه کې يې وويل:

مورې تر هغو څه نه شو کولای، تر څو هغه خپله خبر شوی نه وي او مورې ته يې څه ويلي نه وي.

سره له دې چې پوهېدم د خوشې سنګري، خبره سمه ده، خو بيا هم اړ وم چې غلی اوسم، لږ تر لږه تر بوې مودې پورې، ځکه په دې نجلۍ باندې بايد پرده اچول شوې وای، ډېر اندېښمن وم، له ډېرې اندېښنې نه مې سر خوږېده او د غرمې ډوډۍ مې هم ونه خوړه، مازديګر مهال قاري ذکرالله زمونږ د ډلې تر ټولو غوره راکټچي وليدم، راته ويې ويل:

بيادرې ګله! څه خبره ده، چې دومره اندېښمن يې؟

ټوله کيسه مې ورته وکړه، بيا هغه موسکی شو او په موسکا يې وويل:

نو ته يې څاره، چې چېرته يې ونيسې او کله چې دې ونيوه، مخامخ يې ماته راوله، بيا زه ورسره پوېږم.

ketabton.com - The Digital Library

زه هم لاړم او په خپل کار مې پیل وکړ، دوه کسه نور هم راسره ول، تر ماسپښینه مې خپله دنده ترسره کړه او کله چې احسان خان د خوړو لپاره کورته لاړه، نو زه هم بېرته راغلم. د ډوډۍ او لمانځه وروسته هلکان د احسان خان د څارنې لپاره ولاړل او زه د ماښو یوې ونې سره کښېناستم، څو شېبې وروسته نوی زوم را ورسېده، له ډېرې ستړیا نه یې ساه بنده بنده کېده، د خوشې سنګري په اړه یې وپوښتل، ما ورته کړه، چې صبر زه یې پیدا کړم، مخابره مې راواخیسته او خوشې سنګري مې راپیدا کړ او د زلمي په اړه مې ورته وویل، هغه هم ژر ځان راورساوه. کله چې خوشې سنګري را ورسېده او له زلمي سره یې روغبړ وکړ، زلمي خوشې سنګري ته اشاره وکړه چې زه غواړم یوازې خبرې درسره وکړم، خو خوشې سنګري وویل:

غم مه کوه، زار ساتونکی ده.

زلمي چې دا خبره واورېده، په ډاډ یې وویل:

قومندان صیب زه د ننګرهار پوهنتون حقوق پوهنځي نه فارغ شوی یم او اوس په کابل کې وکیل مدافع یم، خو اوس پوهېږم چې دا ساحه ستاسو تر واک لاندې ده. بېګاه مې غوښتل چې له ښځې سره ځملم، خو هغې نه پرېښودم، د دې کار لامل مې ترې وپوښته.

او هغې راته دا وویل، چې احسان خان څنګه بې عزته کړه او دا چې آغه اوس اومېندواره ده.

ketabton.com - The Digital Library

قومندان صيب! د خدای روی ومنه! لاړ راوبنيه څه وکړم، مرسته راسره وکړه، داسې نه چې عزت او ايمان دواړه مې خراب شي.

خوشي سنګري په ترخې موسکا کې وويل:

ته لاړ شه کابل ته مېرمن دې هم بوځه، ماشوم پرې وغورځوه او بيا دې مېرمن له څو ورځو وروسته بېرته راولېږه او ته پينځو مياشتو لپاره هلته پاتې شه، بيا چې کله راوګرځېدې، له سره به ستا نکاح وتړو، خو تر هغو به خپلې مېرمنې ته نه نږدې کېږې، تر هغو چې ته بېرته راستنېږې، زه د احسان خان غم درته خورم.

زلمي سر کښته واچاوه او له دې ځايه لاړه، مور هم اړ وو، ترڅو مو احسان ته پلمه نه وي پيدا کړي او دی مو له تېغه نه وي تېر کړی دلته پاتې شو، خو خوشي سنګري ته دلته پاتې کېدل سم داسې وو، لکه د سکروټو دپاسه چې لوڅې پښې ولاړ وي. زه بيا لېواله وم چې دا قصه پای ته ورسېږي، يوه ورځ مازديګر د جوارو د پټيو تر څنګ تېرېدم، چې د يوې نجلۍ غږ مې تر غوږ شو، چې په زوره يې چغې وهلې او مرسته يې غوښته، ماهم تفنګچه را واخيسته، يو ډز مې وکړ او د غږ په لوري مې ور وځغاستل، په ګرانه مې پيدا کړل، خو پيدا مې کړل، احسان خان وو، چې يوه نجلۍ يې تر ويښتو نيولې وه او کميس پرتوګ يې ورڅيرې کړي وو، غوښتل يې چې په زوره زنا ورسره وکړي، زما په ليدو حيران شو، خو په دې کې يې ملګري راورسېدل، زه يې په لغته ووهلم، چې کله په زمکه ولوېدم، نو په

ketabton.com - The Digital Library

دریوؤ کسانو یې کلک ونیولم، له دې سره د احسان خان په رګونو کې بېرته وینه وچلېده او په ډېر لوړ غږ یې وویل:

دلته زما مېنه ده، دلته زما خبرېږې خرڅېږي، زه تورمخو له دې کارونو لرې نه کړم، نو تاسو بیا څوک یاست،وبه دې وجنم او بیا به دا جینۍ ام وغ...

ورته ومې ویل:

نور دې کار خلاص ده، ستا بېړۍ غرقه ده.

احسان خان ټوپک راته ونیوه او غوښتل یې چې ومې وژني، چې په دې کې ژوندون ملنګ اوقربان الله راغلل، ژوندون ملنګ غوښتل چې څه ووایي، خوقربان الله په احسان خان کې د روسي کلاشینکوف پوره شاجور تش کړ او ما هم له بېړنې نه کار واخیست او راسره ام ۴ (M4) مې د احسان خان په ملګرو کې ورتش کړه.قربان الله ژوندون ملنګ ته وویل:

څادر دې نجلۍ ته ورکړه.

هغه هم څادر نجلۍ ته ورکړ، نجلۍ څادر له ځانه تاو کړ او راپاڅېده، بې له دې چې کوم څه ووایي، د کور په لور یې منډه کړه. ما هم قربان الله او ژوندون ملنګ ته وویل:

تاسې دواړه څنګه راورسېدئ؟

ketabton.com - The Digital Library

الله قربان وویل:

خوشي سنګري راته د هوسۍ ټوله کیسه وکړه او موږ یې د احسان د ځار لپاره وګومارلو، موږ هغه او د هغه ملګري په پټه ځارل، کله چې له دې نجلۍ سره مخ شول، له مانه ورک شول او چې کله مو د ډزو غږ اوریده، دې لوري ته راغلو، بیا مو د احسان غږ واوریده، نور دې نو خپله ولیدل، څه چې څو.

له دې ځایه لاړو، چې کله خوشي سنګري ته ور ورسیدو، نو ټوله کیسه قربان الله ورته تېره کړه، کله چې ملک او خان د خپلو زامنو جنازې او فاتحې خلاصې کړې، خوشي سنګري ته راغلل اوقربان الله یې ترې وغوښت. خوشي سنګري د نه ځواب ورکړ او ورته ویې وویل:

ستاسو زامنو غوښتل چې یوه نجلۍ بې عزته کړي.

کله چې خان او ملک له خوشي سنګري نه ناهیلي شول، نو والي ته ورغلل او والي یې ځان سره راوست، والي اسد وویل:

د دوئ زامنو لادا کار نه وؤ پوره کړی، نو څکه خو ستا کسانو بې ځایه وژلي دي، نو خپل کسان وروسپاره، چې دوئ خپل بدل واخلي، دوئ ډېر محترم دي.

خوشي سنګري ډېر په غوصه شو او له ډېرې غوصې نه یې رنګ سور واوښت، موږ ته یې په ټوکه وویل:

ketabton.com - The Digital Library

هلکانو تاسو به صبر کړی وای، چې د خان صیب او ملک صیب! زامنو نجلۍ بې عزته کړې وای، بیا به مو وژلي وؤ.

موږ درې کسو، څه چې زموږ ملګرو او آن د والي ساتونکو په دې خبره وخندل، والي ته یې هم ډېر زور ورکړ او په غوصه پاڅېده، تر هغه وروسته یې وویل:

دا کار دلته پای ته نه رسېږي، زه والي یم والي.

خوشې سنګري په لوړ غږ ورته وویل:

والي نه والي! تر دې وروسته نه یې.

سبا سهار مکتوب راغی، چې قاري سلام د اسد په ځای وټاکل شو، دا کار خوشې سنګري د واټساپ له لارې کړی وؤ او اجازه یې غوښتې وه چې بېرته خپل کلي ته ستون شي.

*****

خوشې سنګري ته یوه میاشت وخت ورکړل شو، څو په خپل کلي کې پاتې شي، تر هغه وروسته باید بدخشان ته ولاړ شي، ځکه هلته هم د تور بیرغ پورته کېدو وېره شته او هم دا خبره شتون لري، چې د هغه ځای مجاهدین نور کرار کرار په خرابېدو دي. نو خوشې سنګري هم سمدلاسه حرکت وکړ او ځان یې کلي ته ورساوه، چې څنګه کور ته لاړه، مېرمنې یې سیما په غېږ کې ونیوه، سره له دې چې په تېرو

ketabton.com - The Digital Library

دریوؤ میاشتو کې بي بي د خوشې سنګري مور سیما ته د پښتنو نجونو او ښځو د حیا او دروندوالي درس ورکړی وؤ، خو دې د خپل خاوند په لیدو په یوه شېبه کې هېر کړ او بیا کله چې بي بي ورته وکتل او ورته ویې موسل، د دې سر له حیا ځوړند او اننګیو کې سوروالی ښکاره شو، خوشې سنګري ورته وکتل او بیا یې وویل:

داسې ښکاري چې ژمی لا نه ده خلاص شوی، اننګي دې لاه سره ښکاري.

بي بي ورته په خندا کې وویل:

زویه ! څې ښځه دې وکړه، لکه څې مور دې هېره کړه؟

خوشې سنګري په بېړه ځان مورته ورساوه او د هغې مبارک لاسونه یې ښکل کړل، تر هغه وروسته یې له شرمه په ډکه څېره وویل:

نه مورجانکې! ستا سپېڅلي لاسونه چې ښکل نه کړم، زما د ژوند برکت ختمېږي،ؤ د هغې لاسونه چې په لاسونو کې هم نیسم، ډېره ده. ښځه کله د مور ځای نیولی شي، ځکه مور خو په دې ټولې نړۍ یوه وي، خو ښځې بې حسابه!

مور یې په مینه ورته وویل:

زویه دا خبرې اوس پرېږده، ځه لمونځ دې وکه څې د شپې ډوډۍ وخورو، بیا لاړ سه او دمه وکه.

ketabton.com - The Digital Library

خوشي سنګري اودس وکړ او بيا خپل کشر ورور سره د لمانځه لپاره جومات ته ولاړ، تر لمانځه وروسته کليوالو توده سترې مه شي ورسره وکړه او هر يوه د مېلمستيا بلنه ورکړه، خو خوشي سنګري خپل کور ته پرتګ ټينګار کاوه. داچې د کلي خلکو هم د دروغ ست کولو، نو ډېر ورته ټينګ نه شول، نو دی کورته لاړ او ډوډۍ وخوړل سوه، تر هغه وروسته بي بي وويل:

فرشتې! ځه له خاوند سره دې خپلې کوټې ته ولاړه سه، دا يو ترموز چی ام درسره وېسه.

په لومړيو کې خوشي سنګري نه وؤ پوه شوی، خو وروسته پوه شو چې بي بي سيما ته فرشته وای، نو د مور په اشارې دی هم راپاڅېده او تر خدای په امانۍ وروسته په سيما پسې خپلې کوټې ته روان شو، چې ښنګه کوټې ته ننوت، مېرمن يې دوه پيالې شين چای په پيالو کې اچولی وؤ او بادام او سونځلې يې هم را اخيستې وې، د ده په ننوتو يې تر ده غېږه راچاپېره کړه او ژړا کې يې وويل:

ګرانه ماسره عدالت وکړه او ظلم مه کوه، دومره ظالم له ځان نه مه جوړوه.

خوشي سنګري حيران شو، په بېړه يې وويل:

د څه شي ظلم؟

سيما له اوښکو په ډکو سترګو وويل:

ketabton.com - The Digital Library

پوهېږم چې ته له جهاد سره مینه لرې او یوه شېبه هم لرې ترې نه شې پاتې کېدای. سمه ده حق لرې چې خپله مینه وپالې، خو زه هم له تاسره مینه لرم او بې له تا ژوند لکه د اور په سر کېناستل راته ګران دي، خو ته تل ما په بېلتون آزمایې، دلته نه پاتې کېږې، سمه ده ما له ځان سره نه بیایې سمه د ، لږ تر لږه ژر ژر خو راځه.

خوشې سنګري هم تر هغې لاسونه تاو کړل او په مینه یې وویل:

غم مه کوه د کلونو آرمانونه به دې پوره کړم، ته خو لا د څو ورځو ښیې، نن شپه به دومره درته وګورم چې نظر شې، دومره به دې ښکل کړم چې سبا ته مې مورجانکه پوښتنه درځخه وکړي چې وهلې خو به یې نه یې؟

سیما ورته وویل:

نور څه نه بس چې د نظر لاندې مې اوسې او د شپې له ستا په سینه سر ږدم او ستا د زړه د درزا په شمېرولو ویده شم بسنه کوي.

*****

وروسته تر دې چې خوشې سنګري په خپل کلي کې یوه میاشت تېره کړه، بدخشان ته یې حرکت وکړ، په څلورو ورځو کې هلته ورسېده، په دې ورځې طالبانو له آمریکایانو سره تړون امضاء کاوه، د سولې په اړه په قطر کې، خوشې سنګري په یوه او بله پلمه والي، اولسوال او آن قومندانان او ډلګي مشران ښه مطالعه کړل او هم یې

ketabton.com - The Digital Library

په سیاسي تله کې وتلل، په هغې ورځې چې خوشې سنګري د حرکت تابیا نیول،قربان الله وویل:

یو څو ورځې نور هم باید دلته پاتې شو، ځکه دلته لویه بې ننګي روانه ده، دلته که د اربکي زړه ښځې ته وشي او که د طالب په یوه کور وردننه کېږي، یوه نجلۍ ترې بې نکاح بیایي او تر کارولو وروسته یې خوشې کوي.

خوشې سنګري ماته اشاره وکړه او ویې ویل:

دا خو ستا ملګری ده، ریښتیا وایي او که نه د ده خپله کومه نجلۍ خوښه شوې ده او هسې پلمې کوي.

په خندا مې وویل:

کومو کسانو چې ده ته دا خبرې کولې، زه هم هلته ناست وم، پاتې شوه دوهمه خبره، نو دلته باید ووایم چې په دې اړه به خدای خبر وي، زه خو خبر نه یم.

خوشې سنګري وخندل، خو ژوندون ملنګ وویل:

خو زه خپله په ده باندې شک لرم، ځې ده دا کیسه نه وي شروع کړې، دی له نجونو سره ډېره مینه لري.

خوشې سنګري وویل:

نو بیا سمه ده، څو ورځې نور هم په تمه کېږو.

ketabton.com - The Digital Library

زه ژوندون ملنګ اوقربان الله د بدخشان جِرم او کِشم اولسوالۍ په کلیو کې ګرځېدو، خو نه وسله راسره وه او نه هم کوم داسې بل څه چې د هغه له امله موږ سرتېري او اربکیان یا مجاهدین ښکاره شو، خو یوه ستونزه پاتې وه او هغه دا چې زه اوقربان الله په دري او فارسي ژبه ښه پوهېدو او هم مو ښې خبرې پرې کولای شوې، خو ژوندون ملنګ بیا داسې نه وؤ، هغه نه په دري او نه په فارسي سم پوهېده او نه یې هم سمې خبرې کولای شوې، خو د دې ستونزې لپاره مو هم یوه حل لاره لرله او هغه دا چې موږ ژوندون ملنګ پوهولی وؤ چې هغه به ځان ګونګ خلکو ته وربېژني، نږدې پینځه لس ورځې موږ په بدخشان کې تېرې کړې، په مجاهدینو کې مو بې لارې خلک په نښه کړل او خوشې سنګري ته مو وروښودل، هغه هم والي ته وروپېژندل، ترڅو لرې یې کړي او وسلې ترې واخلي. والي هم همداسې وکړل، خو تر ټولو جالبه کیسه دا وه چې بدخشان د غره له ښاپېرو نه یوه ښاپېرۍ په قربان الله باندې مئینه شوې وه، شرمېده، په ځانګړي توګه له او خوشې سنګري نه او چې کله نجلۍ له اصلي خبرې نه خبره شوه، خوشې سنګري ته یې وویل او هغه وؤ چې زه اوقربان الله یې راوغوښتلو او راته ویې ویل:

ته څه فکر کوې، چې دقربان الله او د دې نجلۍ واده وشي، څنګه خبره ده؟

ورته ومې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

څه ووايم سنګري، خو چې لرګی په لرګي جوړېږي، د نجار اړتيا نه شته.

خوشې سنګري له قربان الله نه پوښتنه وکړه:

ستا څه زړه ده؟ له هغې نجلۍ سره واده کوې او که نه؟

دقربان الله څېره له حيا ډکه شوه، په موسکا يې وويل:

که ستا او د ده خوښه وي، زه چمتو يم.

هر څه چمتو شول، دقربان الله نکاح وشوه او دوه ورځې د هغه تر نکاح وروسته مونږ حرکت وکړ، تر څو کندوز ولايت ته ولاړ شو، خوقربان الله مو په بدخشان کې پرېښود.

*****

قربان الله مو په بدخشان کې پرېښوده او مونږ ترېنه کندز ته راغلو، ځکه هلته هم مجاهدينو کې ډېر پليت او نا اهله کسان پيدا شوي وؤ، په لومړيو کې د کندوز خلکو له مجاهدينو نه په پوره ځواک او ډاډه سره ملاتړ کاوه، خو وروسته يې بيا د دې پليتو څېرو په ليدو، له مجاهدينو سره کرکه او کينه پيدا شوه، نو مونږ اړ وؤ چې داسې کسان ژر تر ژره پيدا او د خپلو اعمالو په سزه يې ورسوؤ، له خوشې سنګري سره ټول يواويا کسان کندوز ته لاړو، خو بې له قربان الله نه زمونږ دنده ګرانه وه او تر ډېره بريده ناشونې برېښېده، خو

ketabton.com - The Digital Library

ښېګڼه يې دا وه چې قربان الله ته خوشې سنګري ويلي ول، چې اووه ورځې بايد له خپلې مېرمنې سره پاتې شي او تر هغه وروسته کولای شي مور سره يوځای شي او هغه د خوشې سنګري په ځواب کې ويلي وؤ.

خو حنظله رضی الله تعالی عنه د نکاح په سبا جهاد ته تللی وؤ او بيا شهيد شو.

چې په ځواب کې يې خوشې سنګري وويل:

نه ته حضرت حنظله (رضی الله تعالیٰ عنه) يې، نه ستا مېرمن د حضرت حنظله مېرمن، نو د هغه مبارک فدکاري دې همداسې پاتې وي.

اوس چې د هغه د نکاح نهه ورځې وتې وې، نو مور هم ورته ډېر خوشحال شولو، خو ژوندون ملنګ به په ټوکه وويل:

ته دسې ښکارې له بې له دې اوږده دې څې هېڅ کار نه کېږي.

او ما به يې په ځواب کې وويل:

هر څوک خپل ځای لري، ته مې د زړګي سر يې او هغه بر، بې له يوه هم ژوندون راته ګران ده.

دلته مو شل ورځې تېرې کړې، مخکې دقربان الله له راتګ مو لس داسې کسان ونيول چې د خپلې کورنۍ دوښمني له امله له

ketabton.com - The Digital Library

مجاهدینو سره یو ځای شوي وؤ او غوښتل یې چې له دې لارې دا دوښمني مخکې یوسي، خوشې سنګري له هغوئ نه وسلې واخیستې او هغوئ یې د تل لپاره د مجاهدینو له صفونو وشړل، خو دقربان الله په راتګ او د هغ په مرسته مو دېرش کسه تر ټولو پلیت انسان ونیول چې دوئ داسې پلیتان هم ول چې تاته به یې داسې احساس پیدا کولو چې بې ګناه انسان باندې د جاسوسۍ شک وکړې او بیا به یې چې کله هغه شکنجه کېده، د هغه ښځې لور او یا خور ته به ورغلل او د هغوئ سره زر به یې ترې وغوښتل او چې کومې مېرمنې یا نجلۍ به سره زر نه لرل، نو له هغوئ نه یې غوښتل چې له دوئ سره یوه شپه په یوه توشکه څملي، د دې هر یوه په نیولو مو خوشې سنګري ته ویل چې:

در یې ولو، که نه؟

هغه به هر ځل په ځواب کې وویل:

سر یې زما تن یې ستاسو.

په کندوز کې مو اتلس ورځې تېرې شوې وې، نولسمه لا نه وه راغلې چې خوشې سنګري وویل:

سبا نه بله ورځ ځو، تر څو په شمال کې خپل اصلي او تر ټولو اړین عملیات ترسره کړو، نو ځانونه چمتو کړئ، چې بیا حرکت دی.

ketabton.com - The Digital Library

تر دې خبرې وروسته خوشې سنګري لاړه،قربان الله هم پاڅېده، نو زه او ژوندون ملنګ هم ورسره پاڅېدو او په تور فلډر موټر کې وسره کېناستو، ده هم بې له دې چې څه ووايي پونده ورکړه او خړې خاورې يې بادې کړې. تر ښه شېبه مزل وروسته يې موټر له يوه کور سره ودراوه او دی هغه کورته ننوت، زه هم له موټر نه راکښته شوم او د موټر تر څنګ ودرېدم، نيم ساعت وروسته قربان الله بېرته له هغه کوره راووت، خو له شا يې يوه نجلۍ چې مخ يې پټ وؤ، په وره کې ورېده او ويې ويل:

بې وفا زه دې په تمه کېنولې وم، ته به کله زما مرکې ته راځې؟

قربان الله بې له دې چې څه ورته ووايي، حرکت يې وکړ او ګړندی په موټر کې کېناست او چې کله زه هم کېناستم، موټر ته يې پونده ورکړه چې له امله يې موټر په دوړو کې يې پټ کړ او بيا يې په غريو کې وويل:

دا مې هغه د ترور لور ده، چې ما په تمه کېنولې وه، خو نه ما وکړه او نه يې مور زما لپاره چاته ورکړه، تاته خو مې د دې په اړه ويلي وؤ، که زما له واده خبره شي قيامت به پرې جوړ شي قيامت.

*****

خوشې سنګري د چمتوالي امر وکړ، ماخوستن ټول چمتو شول، د شپې اته نيمې بجې مو حرکت وکړ، سبا ماښام آذان سره د نجراب

ketabton.com - The Digital Library

د صیادو درې ته ورغلو، په لاره کې مو ډېرې ستونزې هم لیدلې وې، د یوه غره په نیمایي کې مو پړاو واچاوه. لس کسه پېرې ته ودرېدل او نور بې غمه ویده شول، که د سهار لمانځه ته پیره دارنو نه وای را پاڅولي، نو دا شونې وه چې تر لسو بجو پورې ویده پاتې وای.

د کلي او کور احوال مو له مجاهدینو واخیسته، دلته ډېر ځوانان اربکیانو سره یو ځای شوي وو، ډېر کم یې پاتې وو، خو د پیسو لپاره له هغوئ سره نه وو یو ځای شوي، بلکې د ملکانو او خانانو د ناروا وو له امله له اربکیانو سره یو ځای شوي وو. ملکانو او خانانو بیا دواړو لورو ته ډول واهه، هم آمریکایي حکومت ته او هم مجاهدینو ته، د دې خبرې ښه مثال انارګل وو، چې هغه بېچاره غریب وو او د ملک ګل زرین لور پسې یې مرکه ورلېږلې وه، ملک هم انار ګل په خپله غوجله کې بندي کړی وو، مجاهدینو بیا په دې مرسته ورسره نه وه کړې، چې دی ورته منافق ښکارېده او هغه په دې چې انارګل به هغوئ په سړک کې له مین ایښودو منع کول، چې کوم بېګاه کس پکې وانه لوزي، کله چې خوشې سنګري دا خبره واورېده، سمدلاسه یې د هغوئ قومندان ته وویل:

چې داسې کیسې شته، نو ته تر دې وروسته قومندان نه یې.

هغه یې په خواب کې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ملایانو ویلي، چې که چېرې کوم بېګناه کس هم پکې والوزي او اذن د امیر پکې وي، نو نه کفاره او نه هم دیت واجبېږي.

خوشې سنګري نورهم په غوصه شو او ویې ویل:

هر چا چې ویلي غو... یې خوړلي دي، سبا به وایې چې که چا امیرالمؤمین مړ کړ او امر د قومندان وؤ، نو قاتل غازي او مقتول مردار ده!.

قومندان ووېرېده، سترګې یې کښته واچولې او په لړزېدلي غږ یې وویل:

خو ته ما نه سې لرې کولای، دا د اولسوال کار ده.

خوشې سنګري په غوصه وویل:

دلته اولسوال هم زه یم، والي هم زه یم او آن امیر المؤمنین هم زه یم، که شک لرې ورشه له اولسوال نه دې پوښتنه وکړه چې آیا تر دې وروسته قومندان یې او که نه، خو تر هغه مخکې وسله وسپاره.

خوشې سنګري سمدلاسه ژوندون ملنګ د هغه په ځای وټاکه او امر یې ورته وکړ، تر څو انارګل له ملک نه راخلاص کړي او له انارګل سره ملکه ده ته راولي. لکه چې ژوندون ملنګ د ملک خواته ورغی، ملک او انارګل دواړه یې خوشې سنګري ته راوستل. خوشې سنګري سمدلاسه ملک ته په غوصه وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ملکه سرې کېږې، که دې هغې دنیا ته واستوم.

ملک چې د خوشې سنګري غوصه ولیده، ووېرېده، ور منډه یې کړه پښو ته یې ورغورځېده او په لړزانده خوله یې وویل:

ما ما ماف که بیا دسې نه کوم، که که که د یتا خوښه وي زه به له انارګل نه بخښنه وغواړم.

خوشې سنګري په لوړ غږ وویل:

ملکه ولې دې دا کار کړی ده؟

ملک په وېره وویل:

صایبه! دی دیما په لور مئین وؤ او لور مې په ده.

خوشې سنګري په موسکا وویل:

نو بیا به ستاسو کورته درغلی وي چې لور دې وتښتوي او یا کومه بله بې عزتي در واړوي؟

ملک سترګې مړې کړې او په خپګان یې وویل:

نه صایبه! رویباري ته راغلی وؤ، خو زه ملک یم او هغه...

خو ژوندون ملنګ یې خبره ورپرې کړه او انارګل ته یې وویل:

چې د بخښلو لپاره سم شرط کېږدي، نو کېدای شي ملک اړ کړو چې ویې ومني.

ketabton.com - The Digital Library

انارګل په ژړغوني غږ وويل:

زه به نور څه شرط ولرم، ما خو مخکې هم غوښتل چې د معشوقې او د هغې د کورنۍ عزت په ځای وي او زه يې لور نکاح کړم، خو دوئ کله منله.

خوشي سنګري وويل:

نو بيا خو ملک دوه لارې لري، يا دا چې خپله لور درکړي او يا دا چې هغې دنيا ته ولاړ شي.

ملک وويل:

دی غريب سړی ده، کله ولور راکولای شي؟

خوشي سنګري په موسکا وويل:

بېګاه ته به نکاح وتړو، همدا به يې په ولور کې بس وي چې ستا په غوجله کې يې مياشتې تېرې کړې دي.

د انارګل نکاح وتړل شوه، تر هغه وروسته موږ تر چهار شنبې هلته وؤ، بيا خوشي سنګري قربان الله ته مکتوب ورکړ چې په هغې کې د بدخشان د هغې سيمې قومندان ټاکل شوی وؤ چې مېرمن يې هلته وه، ژوندون ملنګ هم د انارګل د کلي قومندان شو او ماته خوشي سنګري وويل:

ketabton.com - The Digital Library

زما ساده پياده ملګريه. تاته په خپل کلي کې واده کوم، ته له ما سره اوسېږه.

ما هيڅ هم ونه ويل، چې سنګري هم د رضايت ننبه وګڼله او بيا مو د هغه کلي ته حرکت وکړ، ماخوستن ناوخته هلته ورسېدو. خوشې سنګري راته وويل:

زه اوس خپل کور ته ځم، ورېنداري ته به دې ووايم چې سر له سبا په کلي کې تاته يوه نجلۍ وګوري، چې ښکلې، هوښياره او د ښو اخلاقو خاونده وي.

دا يې وويل او کورته ننوت، يوه مياشت د خوشې سنګري مېرمن سيما د کلي په ټولو کورونو وګرځېده، په پای کې يې د حاجي عباس خان لور خوښه شوه او کله يې چې خوشې سنګري ته دا خبره وکړه، نو هغه ډېر خوښ شو او ماته يې وويل:

ماته د اميرالمؤمنين امر را رسېدلی او هغه دا چې په کابل کې جرمونه او غلاوې ډېرې شوې دي، د لويې پکتيا د زون قومندان يې د چهار آسياب اولسوالۍ مسؤل، د لوی ننګرهار زون قومندان يې د سروبي مسؤل او د شمال قومندان يې د قرباغ مسؤل ټاکلی دی او موږ ته يې هم امر کړی دی، څو د يوې مياشتې لپاره کابل ته ولاړ شو، ځکه امکان لري کابل کې د نجيب حکومت له سقوط وروسته چې کومه ګډوډي رامنځته شوه، داسې ګډوډي بيا رامنځ ته شي، نو موږ

ketabton.com - The Digital Library

باید حالات کابو کړای شو، دوهمه خبره دا چې که داسې حالات هم رامنځ ته نه شول، نو د غلا مخه باید ونیول شي، تر هغه وروسته به ستا لپاره مرکه وکړم او بله خبره دا چې ورېنداري دې وایي چې خدای به دېر ژر یو ښکلی ګلالی زوی راکړي.

ومې ویل:

څه الله تعالی به خیر کړي هر څه به سم وشي.

خوشې سنګري وویل:

زموږ توکل دې په هغه وي، چې هر څه یې رضا وي هغه به راسره وکړي، ته لاړ شه او ځوانانو ته ووایه چې چمتو شي.

پاڅېدم او هلکانو ته مې د چمتوالي وویل، نیم ساعت وروسته ټول ځوانان چمتو شول، زه هم لاړم او خوشې سنګري سره په موټر کې کېناستم، حرکت مو وکړ، د شپې دوه بجې په کابل ښار کې ګرځېدو، ځوانان لس لس کسه ووېشل شول او بیا مو هر یوه ته یوه سیمه وټاکله. زه او خوشې سنګري قلعه حیدرخان تر څېرمه سیمه کې وؤ، یوه ورځ مې خوشې سنګري نه وپوښتل:

په لسو کسانو به څه حالت کنټرول شي؟

په خندا یې وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ای ساده ګله موږ په لسو کسانو یوازې حالت څارو او د سیمې حالات ګورو، خو دا هم باید درته ووایم چې د امارت اسلامی له لس کسانو نه د دښمن او غلو زر کسان هم خوب نه شي کولای.

ومې خندل ځکه ریښتیا هم زموږ تر راتګه د مخه حالات ډېر خراب ول، حال تر دې بریده خراب وؤ چې که له چا سره به پیسې او یا مبائل وؤ، هم به وبرېده او که ورسره نه هم وؤ نو بیا به هم د شپې له خوا وبرېده، ځکه که چېرې به لار وهونکو ودراوه او له پلټنې وروسته به یې ولیدل چې پیسې او ګرانه بیه لرغکه ورسره نه شته، نو ډېر بې حده به یې ووهه او آن د مرګ شونتیا یې وه، که ورسره ول او څښتن یې دا هڅه کړې وای چې له لار وهونکو سره لاس واچوي، تر څو له خپل مال نه دفاع وکړي، نو بیا هم له دې دوؤ پېښو نه یوه ورسره کېدله. دا خو لاڅه کوې د کابل ښار په ډېرو مهمو ځایونو کې لکه کارته چهار او مکرویانو کې د ورځې له خوا غلاوې کېدلې او آن مرګونه، خو حکومتي چارواکولا د کراري کراري خبره کوله. وروسته له دې چې موږ قلعه حیدرخان ته راغلو، نو یوه سړي په سړک باندې خپل موټر روښانه پرېښود او بل کس راغی یوازې یې موټر ګوښه کړ چې خپل موټر تېر کړي لږ وروسته چې د موټر څښتن راغی، نو حیران دریان ودرېده، وروسته یې فکر شو چې موټر یې مخکې ولاړ ده.

کرار کرار ځوانانو د شپې مکتوبونه ووېشل، چې د هغون له امله غلا تر ډېره بریده کمه شوې وه، خو خوشې سنګري ته بیا هم آرام

ketabton.com - The Digital Library

نه ورته. ځکه خو به د شپې له لوري په ځينو سيمو ګرځېده، يوه شپه د کارته نو سرک نو سيمې ته لاړو، هلته مو يوه بوډۍ وليده چې پر سړک روانه ده، خوشې سنګري راته وويل:

ته ودرېږه چې که کوم ځای ته ځي، چې ويې رسوؤ.

موټر مې ورته ودراوه، دا وخت راسره (۲۰۱٤) کرولا وه ورته ومې ويل:

ترورې! که چېرته ځې چې ودې رسوؤ.

ويې ويل:

که کومه نجلۍ مو پکار وي، ځې درسره ويې لېږم، کنه هسې مې وخت مه ضايع کوه، که جای نه لرې جای ام لرو.

خوشې سنګري وويل:

ځای نه لرو؟

بوډۍ هم څه ونه ويل، سم د لاسه د موټر شاته سيټ کې کېناسته.

د خوشې سنګري دې کار مې په زړه کې سل سوچونه او شکونه را واچول، چې خوشې سنګري څنګه بې لارې شو، زنا ته ې زړه وشو که څنګه، له سوچونو د خوشې سنګري څپېړې را وويستم، راته يې وويل:

ketabton.com - The Digital Library

دا ښځه پته درکوي، ته د دې خبرو سره سم پتې ته ځان ورسوه.

د ښځې لارښوونې سره سم يوه لوکس کور ته راورسېدو، ښځې وويل:

موټر دې دلته وردوره! ته کور ته راسه، دلته پيره دار سته، تر څو څې ببېرته خپله موټر بو نه څې بل چاته يې نه ورکوي.

له ښځې سره د ننه ننوتو، خوشې سنګري وويل:

له پوليسو او حکومت نه نه وېرېږې؟

ښځې په مسخره وويل:

دي آغوى د جومې شپه ام ګرمه وي، له دې اورسيو اتمه اوزه ښکاري.

خوشې سنګري په خندا وويل:

نو له طالبانو خو به هرو مرو وېرېږئ، ځکه دوئ سرې شپې خوښوي.

بوډخې چيغه کړه او له دې سره يې په ټنډه کې يو سورى ښکاره شو او د خوشې سنګري له تفنګچې نه غږ واورېدل شو، ما هم پيل وکړ، د ودانۍ ټول کسان مو له دې نړۍ رخصت کړل، په پای کې چې کله راوتلو، سرتېري راورسېدل، ډېر ول تر ډېره مو ځان ټينګ کړ، خوشې سنګري اشاره راته وکړه چې ځان موټر ته ورسوه، ما ځان

ketabton.com - The Digital Library

ورساوه، خو له خوشې سنګري نه غلبېل جوړ شو، ما ځان وويست، خو وروسته پوه شوم چې زه هم تېښي يم، پينځه ډزه لګېدلې وم.

پای

۱۳۹۹/۸/۱۰

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*